# د انسانتوب په اړه
# د اخلاقپوهنې پرنسیپونه

Download from:aghalibrary.com

لیکوال: اندروس ورګا
د فوردهم پوهنتون د فلسفې استاد

ژباړونکی
محمد حسن کاکړ
پخوا د کابل پوهنتون د تاریخ استاد

۱۳۹۴ ل کال

بسم الله الرحمن الرحیم


**ځانګړنې:**

**د کتاب نوم:** د انسانتوب په اړه د اخلاقپوهنې پرنسیپونه

**لیکوال:** اندروس ورګا

**ژباړونکی:** محمد حسن کاکړ

**خپرندوی:** کاکړ تاریخي علمي بنسټ

**د خپرونو لړ:** (۴)

**کمپوز:** احمد روئین کاکړ

**چاپ شمیر:** ۱۵۰۰

**د چاپ ځای:** سهر مطبعه

**د چاپ کال:** ۲۰۱۵/۱۳۹۴

# دخپرندوی بنسټ یادښت

له لرغونیو زمانو څخه د (خیر) او (شر) دبېلتون او تفکیك پر کرښه بحث دځلورو ارزښتونو پرمعیار اومحك راغځېدلی دی. داځلور ارزښتونه : اخلاق، عاطفه، قانون او عقیده دي. اخلاق دټولنیزو قراردادونو هغه مجموعه ده، چې وګړي یې دټولنیز ژوند سمون لپاره په خپلو منځو کې ټاکي او التزام یې هم د ښه (انسانتوب) لپاره داثبات هڅه ده. اخلاقپوهنه په حقیقت کې دهمدغو ټولنیزو قراردادونوسرچینې اوځرنګوالی راپېژني.
زموږ پیاوړي استاد پوهاند دکتور محمد حسن کاکړ، داخلاقپوهنې په برخه کې د(اندروس ورګا) دعلمي اثر د ژباړې په بشپړولو سره یو بل دقدر وړ ګام پورته کړی دی، چې پرلاندینیو دلایلو یې مهمه هڅه ګڼلای شو: لومړی له دې کبله، چې موږ په خپله ژبه کې دټولنپوهنې، بشر پېژندنې او فلسفي اثارو خورا لږې ژباړې او لیکنې لرواو داکتاب به، له شکه پرته، هاغه تشه راډکه کړي، چې په دې برخه کې زموږ ټولنه دفکرو عمل پرمهال ورسره مخامخ ده. دوهمه ګټه یې دا ده، چې داکتاب به داسې یو ې جنګ وجهل ځپلې ټولنې ته مخاطب شي، چې داوږدمهاله جګړو پرمهال یې دفزیکي او مادي بنیادونو تر څنګ معنوي بنسټونه هم رنګ شوي او تاړاکونو، تېریو، پردي پالنې او جګړو یې ټولنیز اخلاق هم له تاداوه لړزولي دي.
ټولنې له مادي بنسټه پرته ژوندۍ پاتېدای شي، خو که خدای مه کړه اخلاقي تشه یا ګډوډي رامنځته شوه، هرګوره که ټولنه ژوندۍ پاتې شي؟
تر کړکېچ وروسته دټولنیزې بیا رغونې پرمهال موږ داسې علمي - اکاډمیکو بحثونو ته اړتیا لرو، چې ځوان نسل مو بېرته دیوې اخلاقي، منظمې، قانونمندې او انساني ټولنې په رامنځته کولو کې له هغو څخه زده کړه وکړای شي. ددې ژباړې دخپراوي بله ګټه به داوي، چې

زموږ دملي ژبې (پښتو) علمي او پوهنتوني زیرمه به پرې بډایه شي.
موږ چې دژبې د پراختیا او پرمختیا لپاره علمي اثارو ته ډېره اړتیا لرو، ددې کتاب په څېر ژباړې کړای شي په ځوانو لیکوالو کې هم دمطالعې او هم دنورو ژباړولپاره دهڅې تلوسه رامنځته کړي.

موږ باور لرو، چې استاد کاکړ دغو ټولو اړتیاوو ته په پام ددې کتاب ژباړلو ته همت کړی دی او دادی خپل مینه وال او لوستونکي یې دخپلې یوې بلې لورېینې پوروړي کړل.

کاکړ تاریخي بنسټ وعده کړې وه، چې د تاریخي او لرغونپوهنیزو اثارو ترڅنګ به د نوروټولنیزو پوهنو په برخه کې هم مهم علمي اثار خپروي،ښکاره ده، چې په دې برخه کې دنړۍ دستر واومشهورو پوهانو او لیکوالو داثارو ژباړې خپل ځانګړی ځای لري. هغه هم چې د پوهاند دکتور حسن کاکړ په څېر د یوه لوی دانشمند په لاس راژباړل شوي وي.

بنسټ یوځل بیا له خپل درانه مشر او استاد څخه ددې ژباړې دپېرزوینې لپاره مننه کوي او لوستونکیو په تېره بیا ځوانو محصلینو ته یې دلوستلو سپارښتنه کوي.

استاد ته دبشپړې روغتیا او اوږده عمر په هیله

په درنښت

کاکړ تاریخي بنسټ

د علمي بورډ سکرتریت

کابل، د ۱۳۹۴ لمریز کال دتلې ۲۴مه

د ۲۰۱۵ کال داکتوبر ۱۶ مه

# لـــړلیک

**سرلیک** **مخ**


د ژباړونکي پیلامه .......... ۱
سریزه .......... ۵

**لومړی څپرکی**

د اخلاقپوهنې موضوع .......... ۷
مثبت او معیاري علوم .......... ۹

**دویم څپرکی**

ښه توب په عمومي ډول .......... ۱۰
د "ښه توب" د اصطلاح دوه بیلې لارې .......... ۱۱

**درییم څپرکی**

اخلاقي ښه توب .......... ۱۴

**څلورم څپرکی**

انساني عمل .......... ۱۷

**پنځم څپرکی**

جبر او اختیار .......... ۱۹
ازاده اراده .......... ۱۹
جبر .......... ۲۲

د انتخاب شته والي ازادي ........................................ ۲۳
دازادي او مسئوليت اندازې ........................................ ۲۸
هغه موثرات چې عقلي قوه متاثره کوي ........................................ ۲۹
هغه عوامل چې اراده اغېزمنه کوي ........................................ ۳۱


## شپږم څپرکی


اخلاقيات جوړېږي يا کشف کېږي؟ ........................................ ۳۴
داخلاقياتو د يوه اعتباري معيار لپاره زموږ د څېړنې لار ........................................ ۳۶


## اووم څپرکی


د اخلاقياتو معيارونه ........................................ ۳۷
جذباتي تيوري ........................................ ۳۸
د طبيعت پالنې غلطي ........................................ ۴۱
د اخلاقي مفهوم تيوري ........................................ ۴۲
اخلاقي مثبتيت ........................................ ۴۴
داجتماعي قرارداد تيوري ګانې ........................................ ۴۵
د پياوړي انسان اراده ........................................ ۴۷
عام نظر ټولنيز فشار ........................................ ۴۷
د خدای تعالی اراده ........................................ ۴۸
د عالمي توب پرنسيپ ........................................ ۵۱
خوند پالنه ........................................ ۵۴
د ګټور توب فلسفه ........................................ ۵۷
د ځان پېژندنې تيوري ګانې ........................................ ۶۵
دحال اخلاقپوهنه ........................................ ۷۹

**اتم څپرکی**

داخلاقیاتو د نارم لنډیز ........................................ ۸۲
انساني طبیعت ........................................ ۸۶

**نهم څپرکی**

له نارم سره د انساني پر تله ........................................ ۹۲
د دوه ګون محصل پر نسیپ ........................................ ۹۷

**لسم څپرکی**

اخلاقي قانون ........................................ ۱۰۰
د قانون مفهوم ........................................ ۱۰۱
د مثبت پال ځواب ........................................ ۱۰۱
د نهایي موخې ځواب ........................................ ۱۰۲
په تاریخ کې د طبیعي قانون ایډیا ........................................ ۱۰۴

**یوولسم څپرکی**

دانسان په طبیعت کې داخلاقي قانون موندل ........................................ ۱۰۹
مثبت قانون ........................................ ۱۱۱
د طبیعي قانون تغیر موندل یا تغیر نه موندل ........................................ ۱۱۳
دطبیعي قانون پوهه ........................................ ۱۱۴
د طبیعي قانون تحریمات ........................................ ۱۱۷

## دولسم څپرکی


حقوق ........ ۱۱۹
بشري حقونه ........ ۱۱۹
طبیعي حقونه، بشري حقونه ........ ۱۲۳
زور حق نه دی ........ ۱۲۴


## دیارلسم څپرکی


اخلاقي قضاوت–وجدان ........ ۱۲۷
د وجداني قضاوت سم توب ........ ۱۳۰
د وجدان مقرري ........ ۱۳۱
د وجدان د شک حل کول ........ ۱۳۲
که موږ شک کوو ........ ۱۳۳
د شک درجه ........ ۱۳۴


## څوارلسم څپرکی


د اخلاقیاتو عنادي معیار ........ ۱۳۵


## پنځلسم څپرکی


د وجدان ازادي ........ ۱۳۸
پایلیک ........ ۱۴۲

# د ژباړونکي پیلامه

د اخلاقپوهنې په اړه به دا لـومړۍ ژبـاړه وي چـې پـه پښـتو کـې راوځـي، عـام ذهنیت دادی: چې اخلاقپوهنـه د ښـه تـوب او بـدې موضـوع ده، دغـه وینـا سمه ده خو هغه د غومره لنډه ده، چې ښودلی نه شي ښه او بد څه تـه وایـي: چـې ښـه تـوب او بـدتوب مطلـق مفهومونـه دي، یـا نسـبي; چـې اصـول او پرنسیبونه یې څه دي؟ چې د انسان عمل په خپل ذات کې ښه یا بد دي یـا دا له عمل نه دباندې عوامل دي، چې د ښه او بد پرنسیپونه ټاکي; او چـې هغـه معیارونه کوم دي، چې د هغو له مخې دغه تشخیص وشي.

انسان چې د خپل طبیعت له مخې اجتماعي دی مجبور دی لـه نـورو سره پـه ګډه ژوند وکړي، او سره اړیکې او یو نظـام ولـري، داسـې هـم دی مجبـور دی چې نورو ته هغه حقوق ومني چې د ځـان لپـاره یـې غـواړي، دی چـې دعقـلي قوې او ارادې خاوند دی، او د دغو صفتونو په لرلو سره له نورو موجوداتو نـه توپیر لري د کومو پرنسپونو له مخې ژوند وکړي، چې ځان خـوښ او نیکمرغـه کړي، او په دغه ډول خپل طبیعت د بشپړتوب حد ته نور هم نزدې کـړي، دا ټول لازم کړي چې انسانان مجبور دي اخلاقي پرنسـیپونه ولـري، او د هغـو لـه مخې ژوند وکړي، او کنه ژوند به یې حیواني او بې ارزښته وي.

دغه اثر له دغو او دغسې نورو موضوع ګانو نـه بحـث کـوي او بحـث هـم پـه ساده ژبه کوي، که څه هم اخلاقپوهنه چې د فلسفې یوه څانګه ده له مجـردو

مفهومونو څخه غږېږي خو دغه اثر د دغسې مجردو مفهومونو د ښې پوهاوي لپاره د عملي ژوند مشخص مثالونه ورکوي، ليکونکي يې دغه مطلب په نظر کې نيولی او وايي: چې (دغه اثر يوازې د پوهنتون محصلانو لپاره نه دی، د هرهغه چا لپاره دی چې غواړي د اخلاقي پرېکړو په اړه چې دی مجبور دی هره ورځ يې بايد وکړي. ... مقصد يې دادی چې د لويو اخلاقپوهانو نظريې په منظم ډول په دغسې ژبه وړاندې کړي، چې زموږ دعصر تعليم کړي اشخاص پرې پوه شي چې ليکونکی يې اندروس ورګا (Andrew C. Varga) لرغوني مهال نه تر معاصر مهال پورې د اخلاقپوهنې په اړه د پوهانو نظرونه هم په لنډ ډول بيان کړي او هم يې په انتقادي توګه ارزولي دي او په دغه ډول دغه اثر يې نور هم ارزښتناک کړی دی، د فوردهم پوهنتون (Fordham University) د فلسفې استاد او د فلسفې منابعو د پروګرام چلوونکی هم دی.

دغه اودغسې نورو اثرونو ته اوس خاصه اړتيا شته، افغانان د نورو خلکو په شمول د تحول په حال کې دي، دغسې تحول چې کلتورونه د نړۍ په سويه متاثر کوي، عوامل يې د لويو او کوچنيو عامه رسنيو هغه تخنيکي وسيلې دي چې اثر يې په ټوله نړۍ حس کېږي، غټ مثالونه يې تلويزيون، کمپيوټر، انټرنيټ، فيسبوک، يوټيوب، ټويټر او دغسې نورې وسيلې دي، چې يو پيغام د نړۍ هر ګوټ ته د سترګو په رپ کې رسوي او يو عالم ډول، ډول مالومات هم ورکوي.

دا دغسې اثرناک پراخ تحول دی، چې زموږ لويه نړۍ يې وړه کړې او ولسونه يې سره دغومره نزدې کړي دی، چې ځينې اوس دغه پراخه نړۍ کلی بولي.

دغه تحول د تېرې پېړۍ د لومړيو لسيزو له پيښو نه پوره توپير لري د تېرې پېړۍ دغه لسيزه د سياسي انقلابونو جهاني جنګ، د کمونستي او فاشستي زورواکو نظامونو دوره وه، په داسې حال کې چې د دغې پېړۍ د پيل کلونه د دموکراتيک نظامونو، د اقليتونو او ښځو د حقوقو او ازادي دوره ده، چې په دغې پېړۍ کې د نړۍ ټول وګړي له قانوني حقوقو څخه بهره من شوي دي،

دغه انکشاف چې د پرمختګ نښه ده، يوه پروسه ده چې د وخت په تېرېدلو سره به نوره هم پياوړې شي، او نور حيرانوونکی انکشافونه به هم له ځان سره ولري خو په برابر کې يې د خلکو غبرګونونه سره ډېر توپير لري په داسې حال کې چې د لويديځ په مخکې تللو هېوادونو کې ولسونه په عمومي ډول د جنګ، انسان وژنې، او حتی قانوني اعدام مخالف شوي دي، د ختيځې نړۍ په پرمخ تلونکو او په خاص ډول په اسلامي هېوادونو کې په عمومي ډول عقيده پالان عنعنه پالان، او ساتنپالان دغومره جزمې او بې رحمه شوي دي چې په خپلو کې هم ترور او وژل کوي.

البته دغه ډول وژنو په افغانستان باندې د شوروي اتحاد او بيا د امريکې له يرغلونو او داسې هم په عراق باندې د امريکې له يرغل نه وروسته شدت موندلی، خو دا د ټولو دينونو او حقوقي منشورونو پر خلاف عمل دی چې يو څوک دې د قانوني نظام له فيصلې او حکم نه پرته بل انسان ووژني، دا خو لا پر ځای پرېږده چې يو څوک دې هم خپل ځان ووژني او هم نور معصوم انسانان او مسلمانان د ښځو او ماشومانو په ګډونووژني په داسې حال کې چې د قرآن مجيد د النساء په سورت د درې نويم آيت ارشاد دی چې "که يو څوک يو مومن په قصدي توګه وژني تلپاتې ځای يې دوزخ دی، او د خدای تعالی غضب به پرې باندې او لوی عذاب به ورته تيار وي".

د دغو عملونو په اړه ډول، ډول نظرونه وړاندې کېږي او له ټولو نه دا مالومېږي چې د هغو عاملان د عقل، وجدان او اخلاق په بحران کې لتاړ دی، او مصلحانو ته سخته اړتيا ده، چې ورته ښودنه وکړي، او قانع يې کړي چې دا د انسان د کرامت پر ضد عمل دی او سالم انسان په هر حال کې د اخلاقي پرنسيپونو پر بنسټ عمل کوي او يو انسان چې د سالم وجدان، سالم عقل او سالم فکر خاوند وي دغسې عمل نه کوي ، پروفيسور ورګا وايي; چې وجدان د يوه عمل په سم توب او ناسم توب باندې زموږ د عقلي قوې قضاوت دی، البته وجدان تل په يوه حال نه پاتې کېږي او په وده کولو سره تغير کوي، خو "د وده کولو مانا زموږ د ټولو اخلاقي پرنسيپونو ازمېيل دي، د هغو تعديلول

چې ناسم دي، او دهغو منل چې سم دي، نـه د نـورو مقامـاتو لـه مخـې بلکـه زموږ د خپلې عقلي پوهې د درک له مخې".

موږ چې هـر چېـرې او پـه هـر حـال کـې اوسـو وجـدان راسره وي اوس چـې د همدغه جهاني تحول په اثر افغانان هم اغېـزمن کېـږي، او کلتـوري ارزښـتونه يې له تغير سره مـخ کېـږي دوی دغسـې اثـارو تـه چـې د وجـدان او عقـلي او اخلاقي قضاوت په اړه وي سخت ضرورت لري نو د پروفيسـور ورګـا دغـه اثـر په دغې چټک بدلېدونکې نړۍ کې دعقـلي او اخلاقـي يـا ښـه انسـاني ژونـد د کولو په لار کې لارښود کېدلی شي.

**(پای)**

**م.ح. کاکړ**

**دسمتبر ۲۰۱۴**

# د انسانتوب په اړه د اخلاقپوهنې پرنسيپونه

اندروس ورگا

## سريزه

څنګه چې د اخلاقپوهنې په اړه هرکال ډېر کتابونه راوځي، د دغه اثر د ضرورت په هکله بايد يو څه وويل شي.

ما چې د اخلاقپوهنې د ښوونې په هکله ډېر داسې کتابونه لوستلي دي، زده کوونکو ته د درس په ورکولو کې له يوې ستونزې سره مخ شوی يم، چې هغه د دغسې يوه دقيق کتاب وړاندې کول دي، چې د اخلاقي موضوع ګانو اساسات پکې په منظم او منسجم ډول بيان شوي وي، د درسي کتابونو زياتره د ډول، ډول اخلاقي سيستمونو يوه سروې بيانوي، او زده کوونکي پرېږدي چې خپلو اخلاقي تيوري ګانو ته په خپله انکشاف ورکړي، او د اعتبار وړ يې وګرځوي، دغه طرز په معمولي ډول د ستاينې وړ مقصد لپاره په نظر کې نيول کېږي، چې د عقيدې د تلقين د محصل په عقلاني ازادي باندې د بې لزومه فشار مخنيوی وشي، خو زما په تجربې سره د يوه ښه جوړ شوي اخلاقي سيستم رغول، که پوره ناممکن نه وي، ډېر ستونزناک وي، هغه هم د يوه مبتدي لپاره نو په دغه اثر کې کوښښ شوی، چې سترې اخلاقي مسئلې په ښه چوکاټ او په متوافق ډول وړاندې شي، په عين حال کې چې زده کوونکي آزاد وي، چې د مخالفو اوموافقو دليلونو په نظر کې نيولو سره ځينې اصلونه ومني يا رد کړي.

سره له دې هم دغه اثر په دغه نيت نه دی تهيه شوی چې د نسبي ثنويت يا کاواکه ايډيا پر مخ بوځي چې وايي فرق نه کوي، موږ په خپل چلند کې د کوم اخلاقي پرنسيپ رعايت کوو، يوازې دغومره چې موږ متوافق اوسو، دلته استدلال شوی، چې د ښه او بد ترمنځ توپير موجود دی، چې ټول پرنسيپونه سم نه دي، او چې دا ډېر فرق کوي، چې موږ په خپلو شخصي او عامه چارو کې دکوم ډول اخلاقي سيستم رعايت کوو، دلته د افاقي اخلاقياتو د شته توب په اړه هم يو ټاکلی دريځ غوره شوی، داسې هم د يوه معقول اخلاقي سيستم په غوره کولو کې

د طبيعـي قـانون ميتـود غـوره شـوی دی، د دغـه اثـر اصـلي مقصـد دادی; چـې وښودله شي، چې اخلاقيات د انسان په طبيعت ډډه کوي، خو د انسان د طبيعت اوږده مطالعه د انسان فلسفې دسپلين ته پرېښوول شوې ده.

دغه اثر يوازې د پوهنتون د محصلانو لپـاره نـه دی، د هرهغـه چا لپـاره دی چـې غواړي د اخلاقي پرېکړو چې دی مجبور دی، هره ورځ يې بايد وکړي.

دغه اثر د کوم ابتکاري سيستم د وړاندې کولو ادعـا نـه لـري مقصـد يـې دا دی; چې د سترو اخلاقپوهانو نظر يې په منظم ډول په دغسې ژبه وړانـدې کـړي، چـې زموږ د عصر تعليم کړي اشخاص پرې پوه شي.

که په دغه کتاب کې کوم نوی شی وي، هغه د بيان طرز دی، نظر دې تـه چـې د محتوياتو په اړه وي، دغه اثر د طبيعي قانون د ډېـرو اخلاقيـاتو لـه نظرونـو څخـه متاثر دی، او دغه تاثر ځينې وخت زياتره د توحيدي علم په شکل وي، چـې هغـه د ډېرو لوستلو او مطالعاتو نتيجه ده نظر دې ته چـې هغـه يـوه يـا بـل مؤلـف تـه منسوبه وي.

# لومړی څپرکی
# د اخلاقپوهنې موضوع

انسان پوهانو، او تاریخپوهانو ډېر مالومات ټول کړي، چې ښيي د ښه او شر موضوع هغومره پخوانۍ ده، لکه انساني نژاد چې دی، د سلوک مفصلې مقررې چې د ښه عمل سپارښتنه کوي او بدعمل منع کوي، په لرغونو مهالونو کې موجودې وې، په ډېرو لومړنیو کلتورونو کې مذهبي او مدني موضوع ګانې هغسې په څرګنده ډول سره بېلې نه وې، لکه زموږ په وخت کې چې دي دولت کوښښ کاوه، خپل رعیت هم له مذهبي او هم له مدني اړخ نه ښه وروزي، چې ښه شخصیتونه ووسي، هغه وخت دغه دواړه سره یو وو، ښه شخص په دې مانا و، چې د خدای تعالی یا خدایګوټو د قانونو رعایت وکړي، د بېلګې په ډول یو ښه یهود هغه و، چې د یهوه (Yahweh) قانونو اطاعت وکړي.

لرغونو متفکرانو او قانون جوړوونکو په غالب احتمال د ښه ماهیت انعکاس کاوه، داسې هم په هغو عواملو په خاص ډول چې د انسان لپاره ښه څه دي، اخلاقپوهنه په دغه ډول له عصري فلسفې یا حتی له لرغوني څخه نه پیل کېږي. خو دغه اصطلاح Ethics (ایتکس) له هغو مطالعو څخه پیدا شوې،

چې يونانيانو ورته انکشاف ورکړی دی، د ايتکس د اصطلاح ريښه ايتوز (Etose) يوناني کلمه ده، چې مانا يې دود دی لومړنيو يوناني فيلسوفانو درک کړه، چې ځينې دودونه له نورو نه ډېر پائېدونکي او نه تغير ليدونکي دي، او دوی ځانونه مکلف وګڼل چې د تغير منونکو د دودونو (د کاليو اغوستلو، فېشن کولو او د قومي ډلو له خوا دبېلو خوراکي څېزونو برابرول او داسې نور) او د پائېدونکو دودونو (لکه په وعده وفا کول، رښتيا ويل، د نورو د ملکيتونو او ژوند رعايت کول، او داسې نور) ترمنځ توپير مطالعه کړي، دوی د سلوک د با ثبات طريقو مطالعه اتيکا (Ethica) ونوموله چې د انګريزي اصطلاح ايتکس (Ethics) له هغې نه راوتلی دی.

اخلاقپوهنه هغه علتونه څېړي چې ولې ځينې عملونه په عمومي ډول ښه يا بد، مجاز يا ممنوع دي، داسې ښکاري چې هغه غواړي دغې پوښتنې ته ځواب ووايي چې د عمل په ماهيت کې داسې څيز شته، چې سم توب يا ناسم توب ټاکي، يا چې د هغه پر خلاف د رښتين توب يا نارښتين توب مفهوم په عمل کې له باندې څخه ټاکل کېږي.

د لرغوني روم فيلسوفانو چې په عمومي ډول د لرغوني يونان د فيلسوفانو په لار تلل د ايتکس يوناني کلمه په لاتين واړوله، د ايتوز (Ethos) لپاره لاتيني کلمه مورز (Mores) نوميږي بيا نو ايتکس په لاتيني ژبه کې فيلاسوفيه موراليس (Philosophias Moralist) شوه او د انګريزي موراليتي (Morality) يا اخلاقياتو له هغې څخه راووت. ايتکس يا اخلاقپوهنه به د انساني کړو د رښتين توب يا غلط توب مطالعه وګڼله شي.

# مثبت او معياري علوم

ددې لپاره چې د اخلاقو د مطالعې ماهيت څرګند شي، موږ بايد پوه شو، چې هغه د اخلاقپوهنې په کوم ډول پورې اړه لري، د عمومي او منلې شوې عنعنې له مخې علوم يا مثبت (Positive) يا معياري يا نې نورماټيو (Normative) دی.

مثبت يا بيانيز ساينسونه د څيزونو، يا پېښو بيان کوي، خو په خپلو موضوع ګانو باندې قضاوت نه کوي، هغه د ښه يا بد له موضوع ګانو سره سر او کار نه لري. فزيک، کيميا، بيالوجي د مثبت ساينس بېلګې دي، نورماتيو ساينسونه له بلې خوا له قانونو، نورمونو، يا معيارونو څخه بحث کوي، چې په هغو سره د هغو د څېړنو په موضوع ګانو قضاوت کېږي، نورماتيو ساينسونه د قضاوت يا حل لپاره قانونونه باسي او دستور ورکوي، بديعيات يا ښکلا پېژندنه د بېلګې په ډول له هغو نورمونو څخه بحث کوي، چې د هغو له مخې موږ د درک په څيزونو قضاوت کوو، چې هغه ښکلی دی يا کرغېړن.

منطق دغه معيارونه ټاکي چې د هغو له مخې موږ قضاوت کوو، چې کوم ډول استدلال سم دی يا نه دی، اخلاقپوهنه په نورماتيو يا معياري ساينس پورې اړه لري، په دې چې هغه معيارونه ازميي، او د اعتبار ګرځوي چې په هغو سره موږ قضاوت کوو، چې زموږ عملونه سم دي، يا ناسم.

نورماتيو ساينسونه نه يوازې د نورمونو او قانونو له عملي تطبيق سره سر او کار لري، له هغې اساسي مسئلې سره هم سر او کار لري، چې ايا دغه نورمونه سم دي، او هغه به څنګه تطبيق شي.

د اوس مهال په ليکنو کې د اخلاقي نورمونو د اعتبار مطالعه په ميتا ايتکس (Meta-ethics) يادېږي.

# دوهم څپرکی
# ښه توب په عمومي ډول

ددې لپاره چې پوه شو، چې په انساني علومو کې ښه یا بد څه مانا لري، ګټور به وي چې د ښه کلمه وڅېړو.
تر هرڅه د مخه موږ باید په عمومي ډول وکسو چې اصطلاح ګانې او کلمې څه ځیز تمثیلوي، هغه سمبولونه دي او د یوه ځیز تمثیل کوي، چې هغه واقعیت یا حقیقت دی د انسان دماغ زموږ د نړۍ په شا وخوا ګرځي، دغه حقیقت کشفوي، او په ډېرو ځیزونو پوهېږي، څنګه چې موږ له یوه او بل سره پوهاوی کوو، موږ د هغو ځیزونو لپاره چې پرې پوهېږو کلمي یا اصطلاح ګانې راوړو د یوه ماشوم یا رسیدلي کس کلمې د هغه د دغه واقعیت د پوهې په ودې سره وده کوي.
زموږ د شاوخوا ځینې ځیزونه په اسانۍ درک کېدلی شي، لکه کور، منه او خښته موږ دغه کلمې په اسانۍ پېژندلی او بیانولی شو، خو ځینې داسې واقعیتونه هم شته چې په اسانۍ تعریف او بیان کېدلی نه شي، لکه هغه چې د بېلګې په ډول د "وفا پال"، "عادل""ښکلا" او "ښه" لپاره راوړل کېږي سره له دې هم موږ دغه کلمې ډېرې یادوو، او د هغو په کارولو سره یوه مانا په غوڅ ډول په نظر کې لرو، د دغو کلمو شاته څه واقعیت پروت دی؟ ایا موږ ټول

عین مانا په نظر کې لرو، یا له هغو نه مو مطلب د واقعیت بېل شکلونه دي؟ داسې ښکاري چې له دغه واقعیت سره سره چې دغه کلمې په اسانۍ تعریف کولی نه شو ځینې ګډ عناصر شته دي، چې دغه اصطلاح ګانې د هر چا له خوا ورته راجع کېږي.

موږ په دغو کلمو سره یو څه مانا په نظر کې لرو، او یو دقیق تحلیل د دغو کلمو شاته واقعیت ښکار کولی شي، "ښه" ممکن زموږ د خبرو یوه ډېره عامه کلمه وي، او څنګه چې د انسان د کړو ښه توب او بدتوب د دغه اثر موضوع ده، موږ اړ یو ددې لپاره چې د هغه په مانا پوه شو، د دغې کلمې تحلیل وکړو، د دغې څېړلې پروسې په بهیر کې به ګټور وي چې د "ښه" ډېره عامه مانا ومومو، او وروسته وڅېړو چې د دغو انساني کړو په تړاو له ښه څخه مطلب څه دی.

## د "ښه" د اصطلاح کارولو دوه بېلې لارې:

۱- موږ د "ښه" له صفت څخه د دوه څیزونو په تړاو کار اخلو موږ وایو، چې یو ګاډی ښه دی؛ له ښې هوا، ښو خوړو او داسې نورو څخه غږېږو یو بزګر به ووایي؛ چې باران ښه دی، خو هغوی چې غواړي د مېلې لپاره ووځي، وبه وایي؛ چې باران بد دی، که ته غواړې چې د سکې کولو لپاره لاړشي، ته به د ډېرې واورې اورېدل ښه وګڼې، خو هغوی چې اړ دي په واوره کې موټر وچلوي، ورته به بد ووايي.

نو داسې ښکاري چې موږ د ښه کلمه په نسبي ډول یادوو، موږ له یوه عمل یوه څیز او یوې پېښې څخه د کوم طبیعي یا په خپله اراده غوره شوي مقصد لپاره کار اخلو، او دا چې له موږ سره خپلې موخې ته په رسېدلو کې مرسته کوي، ښه یا بد وایو؛ بزګر به ووایي، چې باران ښه دی، په دې چې هغه د فصل په رسېدلو کې ورسره مرسته کوي، هغه د هغه د غنمو یا جوارو د پوره حاصل په ترلاسه کولو کې ورسره مرسته کوي، له حد څخه ډېر باران به بد وي ځکه چې هغه به یې فصل وروست کړي، د فصل په تړاو څه څیز د باران لازم مقدار د باران "ښه والی" تاکي؟ داسې ښکاري، چې هغه د یوه خاص

فصل د طبيعت په ارتباط ټاکل کېږي، د بېلګې په ډول غنم تر شولو نه لږ باران ته اړتيا لري، د ښه د عامې اصطلاح دغه تحليل موږ ته دغه پايله په لاس راکوي، چې د يوه څيز يا يوې پېښې ښه والی کله کله له طبيعت سره مطابقت کوي، چې د هغه له ودې يا د هغه له بشپړتوب سره مرسته کوي، چې د خپل ظرفيت پوره حد ته ورسېږي نور عملونه او څيزونه له يوه ټاکلي طبيعت سره جوړ نه راځي، ورته تاوان اړوي او وده يې دروي دغو څيزونو يا عملونو ته موږ "بد" وايو.

کله چې کومه موخه غواړو، ترلاسه کړو، طبيعي نه وي، چې موږ په خپله غوره کړې وي، د بېلګې په ډول موږ غواړو د سکې لوبه وکړو د سمندر په سفر لاړشو، ډېره واوره يا کافي باد موږ ښه ګڼو، په دې چې هغه دغو موخو ته د رسېدلو لپاره له موږ سره مرسته  کوي.

کوم هغه واقعيتونه چې زموږ مخه نيسي چې دغو موخو ته ورسېږو لکه له صفر نه پورته تودوخه، يا توپان بد ګڼل کېږي.

داسې هم موږ د دغسې څيزونو لکه ماشينونو، کورونو، پلونو او داسې نورو طرح جوړه وو، د لازمي ټوټو، يا عملونو، د موټر کاربوريټر، د يوه تيرې توګوونکی مهارت، چې له دغې طرح سره برابر نه راځي، رد کوو، او بد يې ګڼو.

پورتنی تحليل راڅرګندوي، چې ځينې څيزونه او عملونه ښه ګڼل کېږي، په دې چې هغه د طبيعي يا غوره شوي مقصد ته د رسېدلو لپاره وسيله وي.

له موخې يا مقصد سره د عمل يا د يوه څيز د ارتباط واقعيت ښه ګڼل کېږي، موږ د ښه اصطلاح په نسبي ډول، نه په مطلق ډول استعمالوو، په دې چې موږ د يوې پېښې يا يوه څيز ښه والی د يوه څيز په تړاو ګڼو نه د هغه د ماهيت له فتحې.

۲- داسې هم موږ د "ښه" اصطلاح بې له دې چې د يوه بل څيز په تړاو وي، يانې چې موږ ځينې څيزونه د هغو د ماهيت په تړاو وينو نه د يوه بل څيز په ارتباط، ورته ښه وايو، د بېلګې په ډول يو فصل چې په خپل ټول ظرفيت وده

وکړي، ښه فصل ورته وايي، د منې يوه ونه چې ډېرې ښې منې ورکړي، بې له دې چې د څښتن عايدونه يې په خرځولو کې په نظر کې ونيسو د ښې منې ونه ګڼو، هغه وخت چې يو څيز خپل پوره ظرفيت واقعي کوي، د هغه د شته والي بشپړتوب ته ښه ويل کېږي.

په بله ژبه، دا د يوه څيز د طبيعت يا د ډيزاين د بشپړوالي د واقعيت صفت دی، چې هغه ښه کوي، کله چې يو څيز خپل پوره ظرفيت يا استعداد واقعي کړی وي، مکمل (Perfect) ګڼل کېږي، چې دا د بشپړتوب بله کلمه ده. د (Perfect) کلمه د لاتين له Perfectms څخه راوتلی ده، چې مانايې "ټول جوړ شوي، يا پوره جوړ شوي.

په پای کې ويلی شو، چې مخکينی تحليل ښيي چې د "ښه" اصطلاح په نسبي يا مطلق ډول کارول کېږي يانې يو څيز يا يو عمل د خپل مقصد يا يو څيز د خپلې پوره ودې يا کامل کېدلو په تړاو ښه ګڼل کېږي.

# دریېم څپرکی
# اخلاقي ښه توب

د ښه اصطلاح له تحلیل نه وروسته اوس موږ کولی شو، د انسان په کړو کې د هغه د مفکورې مشخص تطبیق وګورو، ځکه چې زموږ د دغه اثر موضوع ښه او بد دي، چې په انسان کې موندل کېږي.

کله چې موږ دغه کلمه د انسان په اړه یادوو، هغه بېلې ماناګانې لري، د یوه شخص په اړه ویلی شو، چې هغه ښه لوبغاړی، ښه اشپز یا ښه جراح دی، یا دا چې موږ په ساده ډول وایو، چې هغه ښه سړی دی، څه وخت چې موږ پوښتل کېږو، چې ایا یو نامتو لوبغاړی ښه سړی دی، موږ پوهېږو چې د یوه ښه سړي او ښه لوبغاړي ترمنځ توپیر شته، یو ښه لوبغاړی یا یو ښه جراح به ښه انسانان وي، خو دوی به له دې امله چې په خپلو ځانګو کې یې خاص مهارت ښوولی وي، حتمي نه ده، چې هغوی به ښه انسانان هم وي.

موږ پوهېږو چې که دوی ښه انسانان وګڼو دوی باید څه نور صفتونه هم ولري، څه وخت چې موږ یو څوک د ښه سړي په نامه یادوو ، مقصد مو دادی; چې هغه ښه انسان دی په انسان پالنه کې ښه دی، نه یوازې د انساني طبیعت په یوه یا بل کسب کې د غه خاص انساني ښه توب اخلاقي ښه توب دی.

کوم څيزونه يو شخص په اخلاقي لحاظ ښه کوي؟ يو څوک په اخلاقي لحاظ نه ښه او نه بد زېږېدلی دی، دی د لويېدلو په بهير کې د ښه يا بد کړو په کولو سره ښه يا بد لګېږي په نتيجه کې کـه مـوږ وغـواړو چـې د انسـاني ښـه تـوب سرچينې ته لاړشو يا په بله ژبه، د هغه اخلاقي توب جوړوونکي عامل ته لاړشو، موږ ته ښايي د انسـاني عمـل تحليـل وکـړو، د هغـه، هغـه خاصـيت او صـفت ومومو چې هغه ښه کوي.

موږ د انساني کړو رښتين توب يا غلط توب څنګه ټاکلی شـو؟ د ښـه اصـطلاح ښه توب مخکينۍ مطالعه به په دغې وظيفې کې له مـوږ سره مرسـته وکـړي، چې په دغې څېړنې کې هم د اخلاقي ښه توب لپاره لـه هغـې طريقـې نـه کـار واخلو چـې پـه اخلاقـي لحـاظ د ښـه اصـطلاح پـه کتنـه کـې مـو تـرې نـه کـار اخيستلی وه، ځينې عملونـه لکـه رښـتين تـوب، پـه وعـده وفـا کول، د وظيفـو ترسره کول په عالمي ډول ښه يادېږي، په دې چې هغه د پوره انساني طبيعـت له مفکورې سره سر خوري، ځکه چې دغه عملونه په يوه شخص کـې رښـتينی انسان پالنه پياوړې کوي، په دغـو عملونـو کـې دغسـې خاصـيت شـته چـې د انسان له کامل توب سره مرسته کوي، چې موږ بيا له يـوه رښـتياني انسـان نـه غږېدلی شو، نه دا چې هغه په خپلو کړو کې "نـا انسـان" وي اوس پوښـتنه دا ده; چې د انسان دغه کامل توب، پوره توب، او بشپړتوب څه څيز دی؟

ټـول اخلاقـي سيسـټمونه چـې لـه لرغـوني مهـال زمـوږ تـر دغـه وخـت پـورې غوړېدلي دي، د هغه په انسانتوب کې د انسان د پوره توب او کامل تـوب پـه اړه ډول ډول فکرونه وړاندې شوي دي، دغه ډول، ډول فکرونه په اساس کـې دا چې انسان څه څيز دی، د خپل پوهاوي او تيوري يا نظر انعکاس کوي، کـه انسان په عمده ډول د احساس موجود وي، بيا نو هر هغه عمل چې د احساس خوند توليدوي، په اخلاقی لحـاظ ښـه وي، پـه دې چـې هغـه انسـان پـه خپـل انسانتوب کې بشپړ کـړي، او کامـل وي او کـه انسـان پـه اصـل کـې عقـلي او اجتماعي موجود وي، بيا نو د هغه کړه، چې عقلاني چلنـد او لـه خپلـو ملګـرو

سره د همغږۍ ژوند ته وده ورکوي له اخلاقي نظر نـه ښـه عملونـه دي، ځکـه چې هغه په هغه کې رښتينی انسانيت پياوړی کوي.

اخلاقي طرزونه يا سيستمونه پـه دې اړه چـې انسـان څـه مانـان لـري؟ د بېلـو فکرونو په وړاندې کولو سره توپير کوي، په نتيجه کې دا پرنسيپونو د پوهـاوي لپاره د انسان سمه فلسفه يو مهم او لازمي عنصـر دی.

د ځينو فيلسوفانو خاصه طريقه انسان داسې ګڼـي چـې معيـار يـا نـارم وضـع کوي، چې په هغه سره د يوه عمل ښه توب يا بد توب ټاکل کېـږي، بيـا نـو پـه دغه مفهوم سره د اخلاقي نارم، معيار مانا د انسان له عمل سره پرتلـه کېـږي، او په دغه ډول د يوه عمل ښه توب يـا بـدتوب ټاکـل کېـږي، مـوږ پـه ورځنـي محاوره کې د ميزان د بېلو معيارونو له استعمال سره اشنا يو موږ د اوږدوالي، وزن، حجم، تودوښې او داسې نورو لپاره له بېلو معيارونو څخه کـار اخلـو، کـه څه هم د يوه ميزان او کوم طبعي واقعيت (Fact) ترمنځ به څه تـړاو وي، مـوږ پوهېږو، چې هغه معيارونه چې موږ يې نن ورځ استعمالوو، په اجتماعي مقاولو (Conventions) ولاړ دی، لکـــه د يـــوه فـــوټ اوږدوالـــی د ميتريـــک يـــا انګلوساکسون معيارونو په اړه بين المللي موافقتونه موجود دي، او په امريکـې کې د معيارونو ځانګه له قبول شويو معيـارونو سره د يـوه شـکل قبـولي يقينـي کوي.

دغه مسئله چې د اخلاق معيار يا ميزان په اجتماعي مقاولې يا په کوم طبيعي واقعيت ولاړ دی، د بشـر د اخلاقي ژوند لپاره اسـاسي دی، او د اخلاقيـاتو پـه محوري مسئلې پورې اړه لري، د دغې پوښتنې ځواب د يـوه کـس د مفکـورې انعکاس کوي، چې انسان څه راز موجود دی.

د دې لپاره چې د اخلاقياتو سم معيار وڅېړو موږ به لوی معيارونه يـا طرزونـه وګورو، ځکه چې هغه د پوهاوي شرح کوي، چې کوم عمل د اخلاق له نظـر نـه سم دی، موږ به د هغو پياوړي او ضعيف ټکی بيان کړو، ددې لپاره چـې مـوږ د اخلاقياتو په اړه خپل پوهاوی زيات کړو، او بيـا هغـه نـارم شرح او د اعتبـار وړ وګرځوو، چې موږ ته د انساني کړو رښتين توب يا غلط توب روښانه کوي.

# څلورم څپرکی
# انساني عمل

پخوا له دې چې بېل اخلاقي سیستمونه تر کتنې لاندې ونیسو، موږ باید وټاکو چې د اخلاقي ښه توب یا بدتوب لپاره چېرته وګورو انسانان په اخلاقي لحاظ ښه یا بد نه دي پیدا شوي، خو دوی د ودې او انکشاف په بهیر کې د ښو یا بدو کړو په کولو سره ښه یا بد کېږي نو داسې ښکاري چې ښه توب یا بدتوب ترڅه حده د انسان په عمل کې نغښتی دی.
له دغې مشاهدې څخه داسې ښکاري چې د انسان د عمل جوړښت او طبیعت د اخلاقیاتو لپاره زموږ په لټون کې اساسي اهمیت لري فلسفې سیکالوجي له دغې موضوع څخه بحث کوي; دلته به موږ یوازې د هغه موندنې په لنډ ډول بیان کړو، د دغې موضوع د اوږدې کتنې لپاره موږ باید د انسان سیکالوجي "ساهپوهنه" یا فلسفي ته مخه وکړو.
انسان له څلور بولو نه په خاص ډول د عقل او ازادي ارادې په استعدادونو سره توپیر لري ځینې عملونه چې موږ یې ترسره کوو، په خصوصیاتو کې د حیواناتو له عملونو څخه فرق نه کوي، ځکه چې دغه عملونه د عقل او ازادې ارادې تر نفوذ لاندې نه دي، د بېلګې په ډول غیر ارادي عملونه، یا هغه عملونه چې انسان پوره بلې خوا ته وګرځوي، په خاص ډول انساني کړه نه دي، په دې چې عقل او ازاده اراده د هغو د رامنځته کېدلو علتونه نه دي.

انسانان ډېر داسې عملونه کوي، چې هغه خصوصيتونه لري، چې حيوانـان يـې ترسره کوي لکه خوړل، اورېدل، له درد نه تښتېدل، يـا د خونـد لټـول دا ټـول داسې ښکاري چې هغه په حيوانانو او انسـانانو کـې سره ګـډ دي، خـو انسـاني عمل د عمل د پوهې او په ازادۍ سره د عمل د ترسره کولو له امله له حيـواني عمل نه توپير کوي، حيوانان په داسې حال کې چې يو څه علـم او شـعور لـري "چې په اصل کې ځينې علم او لږ څه ناځرګنده شعور دی، چې د انسان خپـل شعور نه توپير لري".

د دوی عملونه په طبيعي غريزې يا غوښتنې سره تړاکل کېږي، يـو وړی حيـوان چې خواږه ومومي خوري يې خـو پـه هغـه حـال کـې چـې تـر هغـه نـه پيـاوړې غوښتنه يې "چې له درد يا وهلو څخـه ډډه وکـړي" لـه خوړلـو نـه منـع کـوي، څاروي په انعام او جـزا پـه خونـد او درد سره روزل کېـږي او مقيـد يـا عـادي کېږي، خو دوی په عقلي لحاظ زده کړه نه کوي.

نو مشخص انساني عمل هغه دی چې انسان ترې نه خـبروي، او پـه ازادۍ يـې عملي کوي، هېڅ داسې انساني عمل نه شته چې د مقصد په اړه يـې پوهـه نـه وي، ځکه چې انسان کېدل په دې مانا دي، چې په عقل اداره شي، داسـې هـم پوهه د ازادي د تمرين لپـاره اسـاسي ده، پـه دې چـې رښـتيانی ازاد انتخـاب زموږ د ازادې ارادې له انتخاب نه پرته نه شـته دی، لـه هغـې پـوهې نـه پرتـه چې بايد عقل يې ولري، اراده ړنده وي، څه وخت چې موږ پـه انسـاني طريقـې سره عمل کوو، لومړی موږ د خپل د عمل د مقصـد درک کـوو، او بيـا پـه ازاد ډول هغه ترسره کوو.

دا پوهه او ازادي ده، چې موږ په عمل لاس بری کوي، عمل پـه رښـتياني ډول په خپله زموږ دی او دهغه لپاره موږ مسئول يو مسئوليت لـه پـوهې او ازادۍ نه ولاړېږي، څنګه چې اخلاقيات او په مشخص دول ښه توب په رښتياني ډول په انساني عمل کې ځای لري، له دې نه داسې ښکاري چـې د انتخـاب ازادي او له هغې نه را ولاړ مسئوليت د اخلاقياتو مخکيني شرايط دي.

# پنځم څپرکی

## جبر او اختیار

دا منطقي ده  چې وویل شي چې له اختیار یا دغوره کولو له ازادي نه پرته مسئولیت نه شته.

خو ایا دا مسلمه ده، چې انسان د دې قابلیت لري، چې د عمل له څو انتخابونو څخه یو په ازاد ډول غوره کړي؟ د جبری یا معینیت (Determinism) له مخې انسان له ټولو ظواهرو سره سره بیا هم په خپلو کړو کې ازاد نه دي، پخوا له دې چې دازادي او جبر په اره په دلایلو بحث وکړو، دازادي او جبر مفهومونه به واضح کړل شي، ددې لپاره چې د نه پوهاوي مخه نیول شوې وي.

### ازاده اړده:

د علیت اصل وایي چې له یوه مناسب علت نه پرته هیڅ عمل یا نتیجه تولیدېدلی نه شي، او دا چې بې علته پېښې هیڅ نشته د انتخاب د ارادې مانا دا نه ده چې ازاد عملونه علتونه نه لري مانا یې دا ده، چې اراده د یوه عمل دعلت په توګه دغه قدرت لري، چې خپل ځان وټاکي، په دې چې هغه دغه توان لري چې د عمل بېلې لارې غوره کړي یا دغه استعداد لري، چې په ځینو حالاتو کې د یوه عمل له کولو نه ډډه وکړي.

ازادي په عمومي ډول د اجبار نه شته والی دی، خو دا يـوازې د ازادي منفـي اړخ دی "ازادي له"; د هغه مثبت اړخ "ازادي لپاره" تل مقصـد تـه د رسـېدلو په لور په نظر کې نيـول شـوی عمـل د اجـرا لپـاره دا نرمـي د سـملاسي زيـات لګښت اماده کوي.

اجبار ممکن فزيکي، روحياتي يا اخلاقي دی، د فزيکي يا جسمي اجبار نه شـته والی د په خپل سر يا بې اختياره ازادي په نامه يـادېږي يـو سـړی هغـه وخـت "ازاد" وي چې شاوخوا ګرځي، او تړلي نه وي، هغه وخت چې يو مجرم په بنـد محکومېږي، موږ وايو; چې هغه خپله ازادي له لاسه ورکـړې ده، مانـا دا چـې بې اختياره ازادي يې بايللې ده، ځکه چې هغـه ازاد ګرځېـدلی نـه شي، او لـه زندان نه وتلی نه شي.

د سيکالوجيکي يا ذاتي اجبار نه شته والـی د سـيکالوجي ازادي، يـا دانتخـاب ازادي په نامه يادېږي.

دا د ازادې ارادې جوهر دي او دا پـه عمـومي ډول پـه همـدغې مانـا پېژنـدل شوي دي، دغه ازادي د مسئوليت بنسټ يا سرچينه ګڼله کېږي، په دې چـې دغه ازاد عمل پر هر هغه شخص پورې اړه لـري، چـې يـې تـرسره کـړي، او لـه کولو نه يې ډډه کولای شوه، ويل کېږي، چې څـاروي دغـه ذاتي سـيکالوجيکي ازادي نه لري، ځکه چې ازاد کړه په هغه چا اړه لري، چې ترسره کړې يـې وي، په داسې حال کې چې له کولو څخه ډډه کولی شوه. ادعا کېږي چـې څـاروي دغه ډول ذاتي سيکالوجيکي ازادي نه لري ځکه چې دوی خپلو طبيعي غريزو او قوتونو له امله اړ دي، چې ځينې کـډه وکړي، يو وړی سـپي د خپـل طبيعـي ميل له امله مجبور دی، د موجودو خوړو په خوړلو سره خپله لوږه رفـع کـړي، خو يو وږی سړی له خوړلو څخه ډډه کولی شي، دی حتی اعتصـاب کـوي، او له لوږې څخه ځان مرګ ته سپاري.

د ذاتي اجبار نه شته والی د ازادي منفي اړخ دی، د هغه مثبـت خصوصـيت د ارادې هغه قابليت بيانېدلی شي، چې څه وخت د عمل کولـو ټـول شرطونـه موجود دي، په بېلو طريقو عمل کوئ، د عمل کولو څخه ډډه کوي، يا د عمـل

ترسره کولو د تمرين ازادي نومېږي په دغه ډول له يوه عمل څخه په ارادي ډول ډډه کول يو ازاد انتخاب دی، او هغه موږ ته منسوب کېدلی شي، په ورځنۍ محاوره کې موږ هغه ته د عمل حذف وايو ځرګنده ده، چې موږ د ارادي حذفونو چې موږ يو عمل کولی شو، او مجبور وو، چې ويې کړو، مسئول يو، د بېلګې په ډول يو کس د خپلې ماليې د نه ورکولو يا د خپل سمستر د مقالې دنه ليکلو مسئول دی.

کله چې غواړو يو عمل وکړو، موږ زياتره وخت د ځو انتخابونو چانس لرو، لکه د ماسپښين دمې کولو لپاره پلان جوړول، سينما ته تلل، لوبه کول، ټنګ ټکور اورېدل او داسې نور د ډېرو انتخابونو ترمنځ د يوه انتخاب غوره کول د مشخص توب ازادي نومېږي.

د اجبار د پخوانيو فورمونو نه برسېره موږ له اخلاقي اجبار نه هم غږېدلي شو. يو قانون چې يو ګرځندوی اړکوي د هغو مالونو ماليات ادا کړي، چې يې دباندې رانيولي و، د هغه دغه قابليت له مينځ څخه نه وړي، چې دغه ځيزونه پټ کړي او د ګمرک محصول ورنه کړي، خو دی "ازاد" نه دی، چې دغه کار وکړي يانې دی په اخلاقي لحاظ ازاد نه دی، که هغه قانون چې دغه محدوديت يې هغه وضع کړئ، ګرځندوی ازاد کېږي، چې دغه ځيزونه "د محصول له ورکولو نه پرته" راوړي، د دغه ډول ازادي مانا د اخلاقي اجبار نه شته والی دی، او هغه د اخلاقي ازادي يا د خپلواکي ازادي نومېږي، چې له سيکالوجيکي ازادي څخه ازادي ده، يوه مستعمره هغه وخت ازاده کېږي، چې هغه د استعماري هېواد له قانون څخه خپلواکه شي.

هغه وخت چې موږ له اجتماعي او سياسي ازادي نه غږېږو موږ په عادي ډول هغه د اجتماعي شرطونو بې لزومه فشارونو د نه شته والي په نامه يادوو; لکه د طبقې يا نژاد امتيازونه، يا د يوه سياسي ګوند، يا د يوې ډلې خلکو حاکميت دغه ازادي بايد د دغې "اصطلاح" له فلسفې مفهوم سره ګډ نه شي.

## جبر:

د مسئولیت او اخلاقیاتو مخکینی شرط د انتخاب ازادي یا سیکالوجیکي ازادي ده، جبر د دغسې ازادي شته والی نه مني او وایي چې له ټولو ظواهرو سره سره موږ په خپلو کړو کې ازاد نه یو، بلکه د ډېرو عواملو له امله اړ یو یوازې په یوه مشخص ډول عمل وکړو.

**بیالوجیکي جبر یا معینیت وایي:** چې وراثت یانې هغه ډول بدن چې موږ یې لرو، دخپلو ټولو فزیالوجیکي تعاملاتو او بیالوجیکي قوانینو سره زموږ ټول عملونه ټاکي دا چې موږ څنګه چلند کوو، زموږ په بیالوجیکي جوړښت پورې اړه لري د سلوک ډېر متخصصان په تېره سکنر (B.F. Skinner) استدلال کوي، چې چاپېریال زموږ چلند ټاکي او د یوه مشخص کرکټر او چلند ټول د اجتماعي او فزیکي ماحول محصول دی، نو مسئولیت او اخلاقیات په دغه نظر سره هېڅ مفهوم نه لري، هیڅ څوک باید د خپلو کړو له امله جزا ونه ویني، خو هغه دې لا په ښه ماحول کې وي، دغسې ماحول چې چلند ته به یې تغیر ورکړي، دده په ژبه "دا د انساني چلند د تجربې تحلیل په طبیعت کې ده چې هغه باید هغه وظیفې له مینځ څخه یوسي چې پخوا یوه خپلواک کس ته منسوبې وې او هغه دې یو په یو کنټرول کوونکي چاپېریال ته نقل کړي."

د دغه نظر یا تیوري له مخې انسان د چاپېریال له خوا په مهارت سره اداره کېږي او د هغه چلند یا سلوک د ماحول د دغو ټولو اغېزو ټولګه ده.

زیګموند فروید(Sigmund Freud) بیا دغه تیوري وړاندې کړه چې بې اختیاره یا لا شعور (Subconscious) زموږ په عملونو باندې ټاکوونکی رول لري او د انتخاب ازادي هسې یو نوم دی، تحلیلي سیکالوجې زموږ دعملونو په پټو علتونو باندې رڼا اچولی شي، سیکالوجیکي جبر تایید وي، چې طبعي میل زموږ دعملونو تر ټولو پیاوړی محرک دی، انسان یوازې دغه انسیاقونه یا طبیعي میلونه بیا بیا له نظر نه تېروي او تر ټولو پیاوړی محرک د عمل بهیر فیصله کوي محرک کله داسې پېژندل کېږي چې هغه د یوه شخص غوښتنه

وي، او پــه دې ډول تــر ټولــو پيــاوړي غوښــتنه د انســان عملونــه اداره کوي.مذهبي جبر هغه نظر ته ويل کېږي، چې خـدای تعـالی د کايناتو بهير دمخه ټاکلی د انساني عملونو په ګډون لږ تر لږه تر هغـه حـده چې د انسـان تلپاتې قسمت ټاکلی شوی دی، دغه نظر د مخه ټاکل شوی.
(Predetermination) تيوري يادېږي خـدای تعـالی کلـه لـه قسـمت (Fate) سره يو ګډل کېږي او دغـه تيـوري پـوره مبهمـه کېـږي پـه دې چـې د تقـدير دماهيت څرګند تعريف شوی نه دی، او واضحه شـوې نـه ده، چـې د تقـدير دکارونو مسئول څوک دی، په قسمت باندې عقيده په تقدير اوړي يـانې هغـه عمل ته چې وايي ټـولې پېښـې د قسـمت پـه زور پېښـېږي او انسـانان نـه شي کولی د پېښو بهير وټاکي.
د مذهبي معينيت ځينې ډولونه د خـدای تعـالی نـه د وړونکـو اشخاصـو پـه عقيدې کـې ښـکاره کېـږي چـې دوی ټـولې پېښـې د خـدای تعـالی ارادې تـه منسوبوي، نه هغومره د انسانانو بې اعتنا يا بې فکره ازادو عملونو ته.

## د انتخاب شته والي ازادي:

د انتخـاب ازادي معتقـدان نـه تاييـدوي چـې زمـوږ ټـول عملـوه ازاد دي د چاپېريال سيستم فزيولوجيکي وظيفې اجرا کول، ځينې ارثي خاصيتونه، ځينې سيکالوجيکي لکه داور اچولو نه کنټرول کېـدونکی ميـل (Pyromania) دغـلا کولو نه کنټرول کېدونکی ميـل (Kleptomania) روحيـاتي ياعصـبي مرضـونه ممکن دغومره پياوړي شي، چې يو شخص مجبور شي د خپـل عمـل ازادي لـه لاسه ورکړي، سره له دې هم دوی عقيده لري، چې انسانان په عمومي ډول په خپلو ډېرو عملونو کې ازاد او مسئول دی، د هغو په اړه چې يې په ارادي ډول او په پوهې سره ترسره کوي.
د ازاد انتخـاب د موجوديـت لپـاره پـه معمـولي ډول لانـدې دليلونـه راوړل کېږي.

۱- د ازادي سملاسي خبرتیا. فلسفي سیکالوجي په دغه واقعیت ټینګار کوي چې ټول انسانان د ازادو تصمیمونو نیغ شعور لري، موږ پخوا له عمل نه دغه ازادي په غاړه اخلو او د عمل د ترسره کولو په بهیر کې له خپلې ازادۍ نه خبرتیا لرو، موږ پوهیږو چې موږ دغه توان لرو، چې د عمل د انتخابونو ترمنځ انتخاب وکړو، نېغه او دننۍ تجربه په دې مانا ده چې موږ دازادي د حقیقت د لومړي لاس مالومات لرو او دعقلي مطالعې لپاره موږ ته د ازاد انتخاب له تجزیې څخه زیات روڼ نزدې بل څیز نه شته او موږ له هغه سره له ډېر نزدې څخه ښکېل یو، کله چې موږ پرېکړه کوو، زموږ دخپلې ازادۍ پرېکړې په اړه فکر کوو او د دغې ازادۍ سملاسي تجربه موږ متیقین کوي، چې زموږ پوهه غلطه نه ده.

۲- دازادي غیر مستقیم شعور دغه ویښتیا پخوا له عمل څخه د فکر کولو په واقعیت واضحه کیږي، موږ د پلوي توب او مخالفت دلیلونه تلو ځکه چې موږ پوهیږو چې په نهایت کې دا په موږ پورې اړه لري، چې په یوه یا بل ډول پرېکړې ته ورسیږو.

۳- د شخصي مسئولیت عقیده ټول رسېدلي کسان د هغو کړو مسئولیت مني چې په خپله یې په ارادې او فکر سره ترسره کړي وي، هغومره چې ماشومان وده کوي د هغو دغه قابلیت چې په ازادي انتخاب وکړي هم وده کوي او ورسره د دوی د مسئولیت احساس هم څرګندیږي، څنګه چې موږ د خپلو کړو مسئولیت منو په همدغه دول موږ نور هم د هغو د خپلو کړو مسئول ګڼو، په ټولنې کې ژوند دمسئولیت په همدغه احساس باندې ولاړ دی، او له هغه نه پرته منظمه انساني ټولنه به ممکنه نه وي.

۴- د ازادي دشته والي اتفاق په دې اړه عمومي اتفاق دی چې انسان ازاد دی دغه عمومي اتفاق په یوې ټولنې کې له څو واقعیتونو څخه ښکاره کیږي څنګه چې موږ د خپلو کړو مسئولیت په غاړه اخلو په نورو باندې هم موږ په دغه ډول قضاوت کوو، د بېلګې په ډول څه وخت چې موږ چور کیږو یا پر موږ حمله کیږي، موږ په غوسه کیږو حتی هغه کسان هم چې د مسلک له

مخې په جبر عقيده لري، دغسې عمل کوي لکه چې ازاد وي او په دغه عمومي اتفاق کې برخه اخلي د قوارې په ښودلو ، د عمل د کولو په طريقې په پلان کولو او داسې نورو حتی هغه تحليلي روحيات پوهان چې د فرويدي جبر نظر يې منلی هم وي دغسې اکټ کوي، چې انسانان ازاد دي ځکه چې دوی کوښښ کوي هغو ناروغانو ته د انتخاب ازادي يو څه اندازه بېرته ژوندۍ کړي، چې دوی په نه کنټرول کېدونکو عملونو سره زيانمن شوی وي.

يو ځوک اعتراض کولی شي چې حتی د ټول انساني نظام ډېر عمومي اتفاقونه هم ناسم کېدلی شي، د بېلګې په ډول انسانان د اوږدې مودې په بهير کې په دې عقيده وو، چې لمر د مځکې شا وخوا ګرځي خو د انتخاب ازادي د شعور يو بل شکل دی، دغه شعور په پوره داخلي او په شخصي نيغې تجربې او علم باندې ولاړ دي، دا دغسې يوه ساينسي پېښه نه ده، چې له موږ څخه بېله وي، او په نېغ ډول تجربه نه شي.

٥- د عدالت ترسره کېدل. زموږ ټولنه په دغې عقيده ولاړه ده، چې انسانان د خپلو کړو مسئول دي، ځکه چې دوی د انتخاب کولو ازادي لري. متمدن ملتونه دغسې سيستم لري،چې د هغه له مخې دوی اول د يوه تورن د ازادي اندازه ګوري. که دی دماغي اخلال ولري، حتی که د هغه لېونتوب موقتي هم وي د يوه غير قانوني کار مسئول نه ګڼل کېږي، او د جزا پر ځای ددې لپاره چې که ممکنه وي ازادي بېرته پر ځای شي، د کوم ډول درملي سپارښتنه کوي، خو په دواړو قضيو کې ازادي او مسئوليت يې په اسانۍ ثابت کېږي او عدالت ترسره کول يې د دغه واقعيت له مخې کېږي.

٦- اجتماعي چاپېريال او کلتوري مخينه په يقين سره زموږ په رجحاناتو او انتخابونو اثر کوي، خو د چاپېريال قوت کله کله دغسې قوت کېږي چې حتمي کوي، دا چې ډېر کسان خپل نظرونه اړوي، د ژورو تعصبونو په ګډون، هغه وخت چې دوی پاخه کېږي، او په خپل ژوند له سره نظر اچوي، ښيي چې چاپېريال موږ له خپلې ازادۍ څخه محروموي.

۷- څرګنده ده، چې موږ د يوې موخې له پوهې نه پرته، يا بې لـه دې چـې يـو محرک ولرو، يو رښتيانی انساني عمل نه ترسره کوو، سيکالوجيکي جـبر تائيـد وي، چې موږ بس د بې پرې تحليل ګر يو، او دا چـې مـوږ لزوماً تـر ټولـو غـټ محرک تعقيبوو، خو دغه پياوړی محرک کـوم دی؟ کـوم ځـواب چـې ورکـړل شوی هغه د ډارون شعار ته ورته تر ټولو پياوړی پاتې کېدل دي. د تعريف لـه مخې تر ټولو پياوړی هغه دی، چې ژونـديی پـاتې شي، خـو دا يـو بـې ځايـه او قبيح تکرار دی، او پوښتنې ته رښتينی ځواب نـه ورکـوي، پـه ورتـه ډول دغـه ځواب چې تر ټولو پيـاوړی محـرک هغـه دی چـې بريـالی وي لـه قبـيح تکـرار څخه تښتېدلی نه شي، څه چـې پـه رښـتيا پېښـېږي هغـه دا دي; چـې موږلـه خپلو محرکاتو نه يو غوره کوو، چې ميـدان يـوسي تجربـه راښـکاره کـوي، چـې ځينې وخت د خپل "لا ښه قضاوت" په وړاندې په ظاهر کې يو ښه غوره کـوو، او موږ پوهېږو چې د مخالف عمل په وړاندې "لا پيـاوړي" دليلونـه شـته دي، طبيعي ميل يا انسـياق اراده نـه مجبـور وی، خـو انسـان پـه ازاد ډول پرېکـړه کوي، چې د دغه يا هغه ميل په پېروي عمل وکړي، د انتخاب ازادي پـه اولـه کې وړې پرېکړې وي، لکه په يوه رستورانت کې چې دغـه يـا هغـه ډول خـواړه غوره يانې د انتخاب ازادي په خاص ډول په هغـو پرېکـړو کـې مطـرح کېـږي، چې اخلاقي ارزښتونه پکې نغښتي وي، ايا زه په نطفه کـې اولاد ووژنـم، يـا ونـه وژنم؟ ايا د پوهنتون کتابتون دغه کتاب غلا کړم؟ ايا په يوې اونۍ کې په يـوه روغتون کې شپږ ګړۍ په خپله خوښه له اجورې نه پرته کار وکړم؟ يـا دا چـې په کور کې د تلويزيون ننداره وکړم؟

انساني ازادي په خاص ډول په هغه عمل کـې تمـرين کېـږي، چـې د يـوه لـوړ مقصد لپاره وي، لکه په ژوند کې دکسب يا حرفي غـوره کـول يـوې مـوخې تـه ژمنتوب د يوه کس په ټول ژوند اثر کوي او د ورځې په ډېرو فعـاليتونو کـې د هغې موخې تر پايـه پـورې هڅـوي، چـې يـې غـوره کـړی دی، د پـوهنځي زده کوونکي به پرېکړه وکړي چې طبي ډاکتر شي، طبيعي ده چې دغه پرېکـړه بـه د دغه مقصد په لور د هغه ډېر فعاليتونه متوجـه کـړي، دی بـه مجبـور وي،

چې په پوهنځي کې ټول هغه مضمونونه غوره کړي، چې ورته لازم وي او ډېر زيار وکاږي، چې طبي ښوونځي ته يې ورسوي او داسې نور. څخه وخت چې د طبابت شهادتنامه ترلاسه کوي، د ده هغه لومړنۍ پرېکړه چې طبي ډاکتر شي دده په ټول ژوند طرز اثر کوي او څوک بايد ونه وايي چې دده عملونه ټاکل شوي وو، ځکه چې هغه يواځې د هغه د هغې پرېکړې د ترسره کولو محصول و، چې ده کلونه د مخه غوره کړی و، ازاد انتخاب د يوه چا په ژوند کې په اوږد ډول دوام کوي، او تر سره کېږي.
دا د عمل منطق وي، څوک چې غواړي يوه موخه ولري بايد وسيلې يې هم ورته غوره کړي البته په ژوندانه کې نظر د مسلک غوره کولو ته ورې پرېکړې هم دي، خو هغه وخت چې اخلاقی ارزښتونه ښکېل وي، په لږ مهمو پرېکړو کې هم د انسان ازادي عملي کېږي.
په اخلاقپوهنه کې موږ په خاص ډول دغه ازادې پرېکړې د اخلاقياتو مناسب مضمون په شان ګڼو ځينې جبريون د ازادي سملاسي شعور دليل تر پوښتنې لاندې نيسي او وايي چې يو کس د مصنوعي خوب له وېښېدلو نه وروسته هم د هغه تر اثر لاندې ځينې کارونه وکړي، د بېلګې په ډول يو چاته به امر وشي، چې وره ته ورشي او خلاصه يې کړي، او څنګه چې دی دغه امر پر ځای کوي دی د وره د خلاصون له تش په نامه ازادي نه خبر لري، خو هغه سره له دې هم د هغه دغه عمل د هغه د مخکيني مصنوعي خوب په اثر ترسره کېږي له بلې خوا دا يو واقعيت دی، چې اشخاص د مصنوعي خوب په حال کې مامور کېدلی نه شي، چې هغه عملونه وکړي، چې د هغه د معتقدانو او ژمنتوبونو پر ضد وي، دا، دا هم ښيي چې انساني ازادي په خاصه توګه د هغو ارزښتونو او ژمنتوبونو په انتخاب کې تمرين کېږي چې د ښو او ارزښتناکو موخو لپاره وي او په دغو حالاتو کې زموږ د ازادۍ ارادې په موجوديت او ترسره کولو د اعتبار وړ بصيرت په خپل ځای پاتې وي.

## دازادي او مسئوليت اندازې:

د اخلاقياتو موضوع د انسان ازادي او په نتيجه کې مسئول عمل دی، په مخنيو فقرو کې په دغې موضوع بحث وشو او هغه دليلونه سروې شول، چې د انتخاب د ازادي د شته والي په ملاتړ يې کاوه، اوس به وپوښتل شي چې ايا ټول ازاد عملونه په برابر ډول ازاد وي، يا د ازادي بېلې درجې او اندازې به وي، او په نتيجه کې د مسئوليت مختلفې درجې به وجود ولري، دغې پوښتنې ته ځواب د شخصي اخلاقياتو او د عدالت د ترسره کولو لپاره ډېر اهميت لري.

حتمي ده چې هر ازاد عمل بايد د عمل د موضوع د پوهې او د ازادۍ د قابليت نتيجه وي، ياني دا چې عقل او اراده به دواړه د يوه ازاد عمل په رامينځ ته کولو کې رول لري، خو دواړه استعدادونه يا قواوې به د خپلو وظيفو په ترسره کولو کې په ځينو عواملو سره متاثر شي، چې ممکن د يوه شخص د ازادي اندازې او مسئوليت ته تغير ورکړي، سيکالوجي له هغو عواملو څخه اوږد بحث کوي، چې زموږ د پوهې او ارادې په مخ کې خنډ کېږي، زموږ د مقصد لپاره به کافي وي، چې ځينې دغه موثرات ياد کړو او له اخلاقي ګوټ نه پرې وغږېږو.

# هغه موثرات چې عقلي قوه متاثره کوي

ځیرتوب او انحراف په بېلو درجو پېښېدلی شي، هرڅوک دا په خپل شعور باندې په فکر کولو سره یقیني کولی شي، موږ وظیفه لرو، چې څه کوو ورته ځیر شو، په تېره چې عمل مهم وي.

د "دماغ کنټرول" تخنیکونه ددې لپاره چې زموږ د تمرکز یا د ځیرتوب قوت ډېر شي، د ځینو تمرینونو سپارښتنه کوي سره له دې هم داسې پېښېږي، چې یو څوک په نه ملامت کېدونکي ډول منحرف شي او چې څه کوي ورته کافي دقت ونه کړي، انحراف د یوې موضوع واضحه پوهه محدوده کوي، چې هغه به ممکن مسئولیت لږ کړي، خو انحراف به مسئولیت له منځ څخه وړلی نه شي، د بېلګې په ډول یوه موټر چلوونکي ته حتمي ده چې سرک او ترافیک ته توجه وکړي او څه وخت چې پوه شي د سټرتیا یا نورو خنډونو له امله تمرکز کولی نه شي، حتمي ده چې موټر ونه چلوي.

ناپوهي په ورته ډول د یوه ازاد عمل عقلي برخه اغېزمنه کوي، هغه ناپوهي چې علاج یې نه کېږي، په تخنیکي ژبه کې په نه لاندې کېدونکې ناپوهي یادېږي دا هغه وخت پېښېږي، چې موږ حتی شک نه کوو، چې د یوه ازاد عمل د ځینو اړخونو په اړه د ناپوهي په حال کې یو په دې ډول یو پوسته رسوونکی به خیال ونه کړي، چې په هغې پوسته کې چې دی یې رسوي بم ایښودل شوی دی، په ناپوهي به کله هیڅ لاس بری ترلاسه نه شي، حتی له ډېر ځیرتوب نه وروسته هم ځکه چې په ځینو اړخونو موږ هیڅ پوهېدلی نه شو.

په نورو حالاتو کې به په پوره څېړنې یا تحقیق سره په ناپوهي غلبه وشي، دغه ډول ناپوهي فتح کېدونکې یادېږي، د ناپوهي د پایلو په اړه تفکر سره موږ دغې نتیجې ته رسېږو چې نه لاندې کېدونکې ناپوهي مسئولیت له منځ نه وړلی نه شي، خو ملامتیا به لږه کړي.

**تعصب:** د ځینو کسانو، نژادونو، دینونو او داسې نورو خصوصیاتو په اړه د نظرونو جوړولو یوه ذاتي طریقه ده څه وخت چې یو کس پوه شي، یا مشکوک شي، چې د هغه ځینې عملونه د تعصب له مخې کېږي، هغه وظیفه لري، چې د خپلې ناپوهي چاره وکړي او که نه دی به په اخلاقي لحاظ د هر هغه عمل له امله چې نورو ته زیان اړوي مسئول وي.

**ناپوهي:** به د یوه عمل پایلو ته راجع شي، یو څوک به په نامقصر ډول چې د یوه ازاد عمل د پایلو په اړه وړاندوینه وکړي، اوپه دې ډول مسئولیت به یې لږ شي، یا په ځینو حالاتو کې پوره له منځ نه لاړ شي، خو یو څوک وظیفه لری، چې د یوه ازاد عمل پایلې په نظر کې ولري او نورو ته د ممکن زیان مخنیوی وکړي.

**وېره:** دغسې یوه کلمه ده، چې ښېلې ماناوې لرلی شي، یوه به یې د خطر یا نا وړې پېښې خبرتیا یا انتظار لرل وي، یا دا چې هغه به د یوه سخت خطر او اندېښنې هیجاني حالت په زړه کوي، چې هغه به د کوم ناوړي گواښ له امله وي، وېره په لومړي مفهوم عقل او په دوهم مفهوم اراده متاثره کوي، یو زده کوونکی وېرېږي، چې که په کورس کې لیکنه وړاندې نه کړي په کورس کې به بریالی نه شي، دغه وېره به یې وهڅوي چې کتابتون ته ورشي او د لیکنې لپاره څېړنه وکړي دا د لومړي مفهوم وېرې یوه بېلگه ده، یو باندنی ایجنټ به ورته ووایي؛ چې دتا په اړه مالومات لري، چې هغه به یې څرگنده کړي، خو په هغه حال کې چې دی هغه پټ مالومات ورته ورکړي، چې دی هغو ته د یوه حکومتي چارواکي په توگه لاس رسی لري.

دا د لومړي مفهوم د یوې بلې وېرې بېلگه ده، ایا هغه وېره چې په لومړي مفهوم سره پېژندل شوی، مسئولیت لري؟ ایا کوم هغه عمل چې په لومړي مفهوم سره تحریک شوی وي مسئولیت لري؟ دناکامي وېره زده کوونکي هڅوي چې ډېر زیار وکاږي او موږ په رښتیانه غواړو چې هغه د سخت زیار له نعمت نه محروم کړو، هغه په ارادي او شعوري ډول زیار وایست، ایا د خجالت وېره ورته دلیل ورکوي چې دروغ ووایي؟ ایا د درد یا خجالت له امله

يو ملكي چارواكي يا نظامي سرتېري د جاسوسي كولو يا خپل هېواد ته خيانـت كولـو نـه معـاف كېـږي؟ داسـې ښـكاري چـې وېـره پـه لـومړي مفهـوم سره مسئوليت نه رفع كوي، ځكه چې دغه كس لا هم د خپلـو فكرونـو خاونـد دی، او له دښمن سره مرسته كولی يا له مرستې كولو نه ډډه كولی شي.
خو وېره ممكن د غومره ډېره شي چې هغه په تهديد، كړاو، سيكالوجيكي زجـر يا دماغ منځلو واوړي، په دغو حالاتو كې وېره نه يوازې په عقـل اثـر كـوي پـه ارادې يې هم كوي او ممكن ازادي او مسئوليت له منځ څخه يوسي.

## هغه عوامل چې اراده اغېزمنه كوي:

دا طبيعي ده چې انسان خوښـي غـواړي او لـه درد او نـاوړو احساسـونو څخـه ډډه كوي.
قوي احساس (Passion) د اشتهاد هغه پياوړی احساس په شان پېژندل شـوی چې غواړي خوند واخلي او له درد څخه وتېښتي. گېډو چې تل له حد نه ډېـره خوري، او دخوړو له خوند نه ډډه نه شي كولی، دغه احساس ته غاړه ږدي.
دغه قوي احسـاس چـې پـه ارادي ډول راپورتـه كېـږي، پـايليز قـوي احسـاس نـومېږي، يـو څـوک بـه د يـوه سـپكاوي پـه سر ډېـر چـرت ووهـي او تـر دې وپارېږي، چې همدا چې دښمن ويني غواړيي انتقام ترې نه واخلي.
هغه قوي احساس پخوا له دې چې يو څوک خپل ځان كنټرول كـړي پـه خپلـه راولاړېږي، ضمني قوي احساس نومېږي، ځكه چې هغـه د عقـل لـه خبرتيـا او ارادې له شعوري كنټرول نه دمخه را ولاړېږيو ځينې كسان به په اسانۍ خپل "مزاج" له لاسه وركوي لكـه چـې يـو تنـدخوی چـې بـه پنجـو بانـدې يـې پښـه كښېښوولـه شي، ژر په غوسه كېږي،
وده كول د نورو څيزونـو پـه ډلـه كـې پـه دې مانـا ده، چـې يـو څـوک د ځـان كنټـرول كـول زده كـړي، سره لـه دې هـم مخنـی قـوي احسـاس بـه كلـه د

مسئوليت رفع وکړي، يا يې لږ کړي. له بلې خوا پاېليز قوي احساس ارادي او د خپلې خوښې عمل دی.

کړاو هم فزيکي او هم سيکالوجيکي کړاو ممکن د غومره سخت شي، چې له هغه نه د ژغورنې هيله به د يوه عمل لپاره د يوه چا اراده ماته شي او مسئوليت به رفع شي. مالومه شوې، چې زورواکو رجيمونو د فزيکي او سيکالوجي کړونو دغسې پېچلې طريقې ايستلې دي، چې ډېر ټينګ اشخاص هم ورته طاقت کولی نه شي، خو دا څرګنده ده، چې به يوه وخت کې اراده کنټرول له لاسه ورکړي له کړاو او فشار نه د خلاصون هيله به دغومره ټينګه شي چې ازادي او مسئوليت به له منځ نه لاړ شي.

**زور:** زور يو فزيکي اجبار دی او څه وخت چې له هغه نه د يوه چا د رضا پر خلاف کار اخيستل کېږي، مسئوليت له منځ نه ځي.

عادت د يوه چلند هغه طرح ده، چې د ځينو دواګانو په استعمال سره د هماغه يوه عمل تکرار غوښتل کېږي ددې لپاره چې ځينې عملونه اسان کړي ددې لپاره چې موږ يو نورمال ژوند په مخ بوځو موږ بايد ځينې عادتونه خپل کړو لکه لوستل، ليکل، غږېدل، قدم وهل، موټر چلول، د موسيقي د الو زده کول، ټايپ کول او داسې نور. له بلې خوا دا ښه څرګنده ده چې ځينې دواګانې لکه تمباکو، الکول، هيروين او داسې نور په عادت اوړي، او ممکن د فزيولوجيکي د يپريشن (Depression) لامل شي.

موږ د غير ارادي اکتسابي سلوکونو مسئول نه يو، لکه قسم خوړل چې په وړوکتوب کې پرې عادي کېږو، خو مجبور يو په هغه غلبه وکړو، څه وخت چې کشف کړو، او پوه شو چې هغه په اخلاقي لحاظ نظم ورانوي او مضر تماميږي.

يو څوک د ارادي اکتسابي عادتونو او هغو کړو مسئول دی، چې له دغو عادتونو څخه را ولاړېږي. د بېلګې په ډول يو الکولي يا د نشه يي موادو معتاد چې هغه په ارادي ډول يا لږ تر لږه په پوهې سره د خپلو ملګرو يا پلار او مور له خبرداريو سره سره دغه عادت خپل کوي، د هغو اعمالو مسئول دی، چې

د دغه عادت له امله يې ترسره کوي، ځکه چې دی د هغو پـه پـايلو پـوهېږي، هغه علت چې دغه پايلې يې زېږولې په رضا سره و، او په نتيجه کې نتيجې يې هم په رضا سره وي موږ دغو نتيجو ته په علت کې رضا کاري وايو.

سيکالوجي او سايکايتري (Psychiatry) هغه طبي څانگه چې له دماغي اخلال نه بحث کوي) ډېر نور عوامل هـم ازميـي، چـې د ازادي لړوالـی شي. عصـبی ناروعتيـا (Neurosis) او روحيـاتي ناروغتيـا (Psychosis) دارادې مخنيـوی کوي، خو دا گرانه ده، چې وويل شي يو څوک څه وخت غير نورمـال کېـږي او د خپل عمل له مسئوليت نه ژغورل کېږي، خو له غيـر نورمـال حـالتونو څخـه څرگنده ده، چې ازادي له منځ څخه تللی شي، حتی هـوا هـم د يـوه کـس پـه غبرگونونو، مودونو، او ويښـتيا اثـر کـولی شي، چـې پـه هغـه سره د يـوه کـس مسئوليت متاثر کېدلی شي.

# شپږم څپرکی

## اخلاقیات جوړېږي یا کشف کېږي؟

لکه څنګه چې مو د مخه وکتل انسان د ښو یا بدو کړو په کولو سره اخلاقي لحاظ ښه یا بد کېږي. نو اخلاقیات باید د انسان په کړو کې وکتل شي، د دې لپاره چې دغه څېړنه اسانه شي موږ به د انساني عمل د ځانګړتیاوو جوړښت مطالعه او تحلیل کړ، اوس اماده یو هغه عامل وګورو چې د انسان عمل ښه یا بد ګرځوي. ددې لپاره چې له ناپوهي څخه ډډه شوي وي، موږ باید په نظر کې ولرو، چې د انسان عمل یوازې فزیکي عمل نه دی، لکه یو ډوبېدونکی کس چې له ډوبېدو څخه وژغورل شي. انساني عمل په اول سر کې ارادي عمل دی، چې یوه ځیز ته ځیر وي، خو اراده تر هغو چې ترسره شوې نه وي، پوره نه وي، یا لږه چې د تصمیم د ترسره کولو لپاره ټینګ کوښښ شوی وي، د بېلګې په ډول اراده هغه وخت ترسره کېږي، چې هغه ډوبېدونکی کس وژغورل شي.

کیمیاپوه په خپل لابراتوار کې یو ځیز ددې لپاره ازمیي چې د هغه ځیز دننه د عملونو او غبرګونونو ځانګړتیاوې ومومي. دی په خپله قانونونه نه جوړوي او هغه په هغه خاص ځیز پورې نه نښلوي، بلکه په هغه ځیز کې دننه دغه قانونونه کشف کړي، اتومي فزیک پوه د اتومي انرجي قانونونه نه جوړوي، خو دننه په اټوم کې یې کشف کوي.

ایا د انساني عمل په تړاو موږ ورته ځیز ویلی شو؟ ایا هغه عامل چې یو ځیز ښه یا بد کوي، په خپله په عمل کې دی، یا له باندې نه پرې اضافه کېږي؟ ایا

دا یو ځانګړی فرد دی چې دغه کار کوي؟ ایا اخلاقیات دنني دي یا باندني عندي یا افاقي؟
که هغه عامل چې یو عمل ښه یا بد ګرځوي له باندې نه پرې اضافه کېږي، دغه عنوان څوک پرې اضافه کوي؟ یا په حاکم ډول ازاد دی، چې ووایي هغه کوم عملونه ښه یا بد ګڼي ددې لپاره چې ښه او بد عندي او نسبي مفکورې شي، او هغه د عمل کوونکي شخص په تغیرېدونکو مودونو او خیالونو متکي وي ایا دغه کس په ځینو افاقي واقعیتونو محدود دی، که څه هم هغه به په خپله عمل ته خارجي وي، ددې لپاره چې اخلاقیات نور هم ټینګ او افاقي وي؟ ایا دا ټولنه یا عامه واکمن مقام دی، چې د یوه عمل رښتین توب او غلط توب ټاکي؟ ایا د ټولنې مثبت قانونونه یوازې د یوه صلاحیت لرونکي مقام افادې دي، یا دغسې مثبت قانونونه دي چې د افاقي او ذاتي اخلاقیاتو افاده ده، که اخلاقیات دباندې عامل له خوا نه جوړېږي بلکه هغه په خپله د عمل له ماهیت څخه کشف کېږي مور هغه څنګه کشف کړو، هغه معیار یا نارم کوم دی، چې مور ته به وښیي دغه عمل ښه یا بد دی؟
لکه هسې مو چې د ښه د اصطلاح په تحلیل کې ولیدل یو څیز پوره توب ته رسېدل په عمومي ډول ښه ګڼل کېږي نو د یوه کس پوره انسان توب ته رسېدل به د انسان رښتین توب وي او هغه عمل چې له مور سره د انسانتوب په پوره کولو کې مرسته کوي، هغه به په رښتیا یو ښه عمل وي، رښتینی انساني ښه توب چې مور په انسانتوب کې پوره کوي او نه یوازې په یو خاص مهارت یا د انسانتوب په یوه اړخ د اخلاقي ښه توب په نامه یادېږي کله چې مور پیدا کېږو په خپل انسانتوب کې پوره او مکمل نه یو خو مور کوښښ کوو، د ټول ژوند په بهیر کې د دغسې کړو په کولو سره چې له دغه پوره توب سره مرسته کوي، د خپل ماهیت پوره توب ترسره کړو.
خو د انسان پوره توب څه ته وایي؟ نژدې ټول اخلاقپوهان له لرغوني مهال نه تر اوسه په څرګنده یا څنګیز ډول وایي چې ټول انسانان د نیکمرغه کېدلو لپاره زیار باسي، نو نېکمرغي به د انسان اکمال یا پوره توب وي خو نیکمرغي

بېل بېل او حتى متضاد تعبيرونه مني، دا يو عندي حالت دی، چې د يوه ځانګړي څيز په ترسره کولو سره توليدېږي، نو دغه موضوع بايد هغو څيزونو يا کړو ته راجع شي چې نيکمرغي راولي، موږ نېکمرغي يا سفارت ته نېغه ګوته نيولی نه شو، مجبور يو د هغو څيزونو پلټنه وکړو، چې د هغو ترلاسه کېدل ددې لامل کېږي، چې انسان خپل پوره توب ته پرې ورسېږي.

اخلاقپوهان بايد د عملونو ماهيت ته ځير شي، چې انسان په انسانتوب کې اصلاح کوي او په دغه ډول د نيکمرغي د کوم شکل لامل کېږي.

ټول اخلاقي سيستمونه ځينې معيارونه يا نورمونه وړاندې کوي، چې يو عمل د يوه کس انسانتوب ښه کوي دغه اخلاقي سيستمونه له يوه بل نه په خپلو معيارونو کې سره فرق کوي او دغسې دليلونه وړاندې کوي، چې په هغو سره د خپلو نورمونو يا معيارونو اعتبار ثابت کړي.

## د اخلاقياتو د يوه اعتباري معيار لپاره زموږ د څېړنې لار:

موږ به بېل معيارونه يا نورمونه چې ددغې موضوع په اړه په تاريخ کې د لويو اخلاقي سيستمونو له خوا کشف شوي او تر اوسه هم بېلې بېلې ډلې پرې ولاړې دي، چې يا يې په فلسفي شکل افاده کوي يا يې په خپلو کړو کې په ضمني ډول اعلاموي وګورو. د اخلاق هر محصل په شخصي لحاظ موظف دی، وګوري چې له دغو معيارونو څخه کوم يو يې د اعتبار وړ دی، په بله ژبه، دا زموږ شخصي وظيفه ده، چې په يوه عمل کې هغه عامل چې هغه ښه يا بد کوي، په عقلاني ډول وڅېړو ددې لپاره چې موږ د اخلاقياتو يو مدلل او معقول معيار وټاکلی شو، له موږ سره به په دغې وظيفې کې مرسته وشي، خو په نهايت کې دا يو شخصي عقلي قضاوت دی، چې د هغه لپاره د مسئوليت بار په اوږو لري، چې موږ په دغه لټون کې په عقلي لحاظ رښتين واوسو.

# اووم څپرکی

# د اخلاقیاتو معیارونه

د اخلاقیاتو د لویو پرنسیپونو په دغه لنډ بحث کې مونږ ټولې هغه اخلاقي تیوري یا نظرونه چې د تاریخ په بهیر کې مکلف شوي، کتلی نه شو، مونږ به یوازې د اخلاق هغه څلور لوی ډولونه وګورو چې د اخلاقیاتو پر واقعیتونو یا استدلال باندې ولاړ معیارونو څېړنې پورې تړاو لري. اخلاقي سیستمونه په بېلو طریقو تصنیف کېدلی شی، او دا زمونږ په څېړنې کې یوازې د وضاحت په خاطر ده، چې مونږ یې په څلورو ډلو ویشو، بې له دې چې ټینګار وکړو، چې دا یواځنی تصنیف دی. ځینې اخلاقي سیستمونه به حتی لا په دوه بېلو ډلو وویشل شي، او دا به په دې خاطر وي، چې ددغه سیستم په کوم اړخ باندې تاکید کېږي او مهم ګڼل کېږي.

**لومړۍ ډله:** زمونږ هغه قابلیت تر پوښتنې لاندې نیسي، چې په عقلاني لارې ثابته کړې چې یو عمل ښه یا بد دی دا د اخلاقیاتو کوم عقلي معیار نه رامنځ ته کوي، خو وایي چې د اخلاقي حکمونو بنسټ په جذباتو (Emotions) ولاړ دی.

**دوهمه ډله:** په ټینګه وایي چې مونږ اخلاقي ښه توب پېژندلی شو، خو دلیل ورته ویلی نه شو، چې کوم یو یې ښه او کوم یو یې بد دی ځکه، چې ښه او بد

په نهايت کې نه اختصار کېدونکي صفتونه يا کټه ګوري ګانې دي او موږ ښه او بد په حسي يا نبغ درک (Intuition) سره پېژنو.

**درېيمه ډله:** د اخلاقياتو معيار له علم څخه دباندې عنصرونو کې لټوي په دې ډول هغه دباندې اخلاقياتو وړاندېز کوي، چې ممکن عندي شي ځکه په هغه حال کې چې خارجي قواوې اخلاقيات ټاکي په حاکمانه ډول تغيرېدلی شي.

**څلورمه ډله:** ادعا کوي چې د اخلاقياتو معيار د عمل په ماهيت کې مومي يانې د يوه عمل په قابليت کې چې هغه په ډېرو حالاتو کې د انسان پوره توب د هغه په پوره توب کې وي، د دغې تيوري له مخې اخلاقيات داخلي او افاقي دي، ځکه چې هغه د انساني عمل په افاقي ځانګړتياوو متکي کېږي.

## جذباتي تيوري:

د جذباتي تيوري پلويان په دې عقيده دي چې اخلاقي حکمونه يا د اخلاقي ارزښت حکمونه بې مانا دي.

داسې کومه طريقه نشته چې مالومولی وشي چې هغه رښتيا يا غلط دی.

ارزښتي قضاوتونه د جذباتو بيانونه دي.

د دغې تيوري لوی استازي الفريد ايير (Alfred J. Ayer) دی، چې په کال ۱۹۱۰ کې پيدا شوی و، ده خپله تيوري د ويانا کړۍ (Vienna Circle) د علم پوهنې د پرنسيپونو پربنا را ايستلې ده، د دغې ډلې غړو چې زياتره يې د فلسفې علاقمن، ساينسپوهان وو، د ۱۹۲۰ لسيزې په اولو کلونو کې د منطقي مشبتيت فلسفه يې په ويانا کې مطالعه کړه، او انګلستان ته له ستنېدو وروسته يې خپل د اخلاق جذباتي تيوري و ايستله چې هغه د منطقي مشبتيت يا مثبت پالنې (Positivism) پر پرنسيپونو بنا ده.

د ايير په نظر مانا لرونکي بيانونه يوازې دوه ډوله دي: تجربې بيانونه يا حکمونه. په تحليلي بيان کې مبتدا يا خبر (Predicate) په فاعل کې شامل دي، او په نتيجه کې موږ له هغه څخه هېڅ پوهه ترلاسه کولی نه شو. د

بېلګې په ډول دا د منطق او رياضياتو بيانول دي، چې د نړۍ بيـان نـه کـوي. هغه د نورو ماناګانو مراجعې ته په استنتاجی ډول تشبيت کېږي چې مثالونـه يــې دادي: "ټــول لــه خپــل جــز څخــه لــوی دي". تجربــې حکمونــه (Empirical Statements) زموږ پوهې تـه يـو نـوی څيـز ورکـوي، ځکـه چـې مبتدا يا خبر دغسې موييده يا تاييد وي چې هغه د موضـوع لـه معنـی څخـه استناج کېدلی نه شي، تجربـې بيانونـه پـه حســي تجربـې او د ساينسـونو پـه عصـري ميتودونو سره تاييدېږي، چې هغه په نهايت کې د تجربې پر پرنسيپ ولاړ دی.

د ايير په نظر اخلاقي بيانونـه بـې مانـا دي، پـه دې، چـې هغـه پـه هـيڅ دغـو طريقو سره نه تاييدېږي، هغه نه غلط او نه رښتينی دی هغه صـاف سـاده بـې مفهومه دی، ځکه چې هغه د چارو د هيڅ حال بيان نه کـوي. د مانـا لـه نظـر څخه هيڅ توپير نشته، چې "تا دغه پيسې غلا کړې دي" او "تا د دغو پيسو په غلا کولو سره غلطي کړې ده""تا غلطي کړې ده" د دغه واقعيتي بيان پـه مانـا کې هيڅ څيز نه زياتوي.

نو اخلاقي بيانونه يا حکمونه کوم دي؟ هغه يوازې زما احساسات ښيـي، زمـا د ښې ايسېدنې يا نه ښې ايسېدنې جذبې. دغه بيانونـه علمـي افـادې نـه بلکـې جذباتي افادې دي هغه ممکن هيلې او ټينګې غوښتنې وي، کله چـې وايـم يـو څيز په اخلاقي لحاظ ښه دی، زه په برابر ډول د هغه لپاره خپله ښـه ايسـېدنه اعلاموم. کله چې وايم يو څيز د اخلاق له پلوه بد دی، زه يوازې خپلـه نـه ښـه ايسېدنه څرګندوم. اخلاقي ارزښت د رښتينې نړۍ کومه برخـه نـه ده، او پـه نتيجه کې هيڅ اخلاقي سيستم رښتين يا غلط ثابت کېدلی نه شي.

اخلاقيات زموږ ښه ايسېدنه او نه ښه ايسېدنه په لست کې نيسـي خو د دغـه ليست نيولو لپاره دليلونه نه ورکوي، له همـدې املـه ده چـې د دغـې تيـوري پلويان د پوهې نه پېژند پالنې (Non Cognitivists) په نامه شوي دي.

چارلز سټيونس (Charles Stevenson زوکړې کال ۱۹۰۸) وايي چـې داخلاقـي بيانيو جذباتي مانا ګرد سره غير عقلي ده، موږ د خپلـې ښـې ايسـېدنې يـا بـد

ایسېدنې لپاره دلیلونه ورکوو، ځکه چې زموږ ښه ایسېدنه یا بـده ایسـېدنه پـه منطقـي طریقـې سره تړلـې دي. اخلاقیـات د دغـې ښـې ایسـېدنې یـا بـدې ایسېدنې د دغې منطقې همغـږي تـوب تحلیـل کـوي او پـه دې ډول زمـوږ د اخلاقي قضاوت لپاره یو څه دلیل ورکوي.

**ارزونه:**

دجذباتي تیوري پلویان نسبتاً یوه وړه ډله ده، چې هغـه هـم د انگلـو ساکسـون فیلسوفان وو. دغې تیروي ډېر تنقیدونه وپارول، او په دغـو نـژدې وختـو کـې یې په فلسفې کړیو کې خپل نفوذ له لاسه ورکړی دی.

د جذباتي تیوري منتقدان د ساینسـي او ارزښتي قضاوتونو ترمنځ زموږ د ټولـو ادراکونو د دقیق تحلیل ضرورت مني او د علمي او ارزښتي قضاوتونو د تـوپیر په اړه د فلسفي تحلیل په مرسته اعتراف کوي.

خو له بلې خوا متنقدان دا هم په گوته کوي، چې جذبات او سلوکونه په خپـل ذات کې یو عمل ښه یا بد نه گرځوي. دغه فلسفه باید د زیـات شـمېر ټینگـه عقیده شرح کړي، چې ځینې عملونه زمـوږ لـه جـذباتو څخـه پـه خپلـواک او افاقي ډول هم او نور یې په افاقي ډول غلط دي، د اخلاقـي ارزښـت پـه ساحه کې د ښه والي لپاره څېړنه په ساینس کې د رښتین توب څېړنې ته ورته ده، او یو عقلاني تحقیق نه یوازې د ځیرتوب وړ دی، بلکه د انسان د ښه زونـد لپـاره حتمي دی.

څنگه چې یو څـوک پـه ریاضـیاتو کـې لـه تجربـې او علمـي طریقـو څخـه کـار اخیستلی نه شي، بیا نو دا به سمه نـه وي، چـې د اخلاقیـاتو پـه ساحه کـې د ریاضي یا ساینسـي طریقو څخه کار واخیستل شي، اخلاقیـات د واقعیـت یـوه ځانگړې برخه ده، چې د رښتین توب او غلـط تـوب د تشـبیت لپـاره یـې یـوې خاصې طریقې ته انکشاف ورکړی دی.

پر دې برسېره جذباتي تیوري په خپـل معیـار سره هـم رد کېـږي دغـه تیـوري کوم تحلیلي بیان یاحکم نه دی، او نه دغسې تیـوري ده، چـې پـه تجربـې سره

تشبیت شي، په نتیجه کې هغه د خپل معیار پر بنسټ ادعا نه لري چې رښتیا به وي.

**نېغ درک پالنه:**

دوهمه ډله چې موږ یې ازمیو په عمده ډول له هغې طریقې څخه بحث کوي، چې موږ په خپلو عملونوکې ښه او بد پېژنو. ښه او بد په یقین سره مالومېدلی شي، ډېر خلک په انساني ژوند کې په اخلاقي لحاظ له ښه او بد څخه خبرتیا لري، استشراق پالان یا نېغ درک پالان (Intuitionists) د اخلاقیاتو په اړه کوم افاقي معیار نه وړاندې کوي، خو وایي چې موږ د یوه عمل رښتین توب یا غلط توب په کوم ډول نېغ درک سره پېژنو.

## د طبیعت پالنې غلطي:

چارچ -ا- مور (George -e-Moore ۱۹۰۸-۱۳۷۳) عنعنوي اخلاقي سیستمونه تر انتقاد لاندې ونیول چې زیار باسي اخلاقي ښه توب تعریف کړی دی. په دې عقیده دی چې د ښه مفهوم تعریف کېدلی نه شي په دې دلیل چې ټول تعریف په اجزا سره د مفهوم تحلیل دی، خو ښه یو ساده مفهوم دی او په برخو وېشل کېدلی نه شي، د مور په نظر ډېر اخلاقي سیستمونه د "ښه" اصطلاح د یوه بل څیز په تړاو تعریفوي. خوندپالان یا هغوی چې هغه له خوند سره تړلې ګڼې د خوند په ارتباط یې پېژني، خیر یا ګټه رسونکی یې له ګټورتوب، نور سیستمونه یې له ځان- پوهې، ځان، اکمال یا دخدای تعالی په ارتباط تعریفوي.

د اخلاق ډېرې تیوري له انساني عملونو سره د یوه څیز د پوره کېدلو او غوړېدلو په تړاو د ښه توب ماهیت شرح کوي او د واقعیت د سکون نظر ردوي چې هغه په وړو او تحلیل کېدونکو برخو ویشي. د واقعیت برخې په ډینامیکي ډول سره تړلې دي او له یوه او بل سره دهغو اړیکې دغسې واقعیت دی، چې داجزاوو اهمیت باندې یو څه ور اضافه کوي، د بېلګې په ډول ټولنه

يو واقعيت دى او هغه به د افرادو په شرح کولو سره چې ټولنه جوړوي، تعريف نه شيځکه چې ټولنه د افرادو له محفل ټولګې څخه ډېره ده. دا د افرادو ډېناميک خپلمنځي اړيکې دي چې دغسې يو خاص څيز جوړوي، چې هغه په سرک باندې د رخصتي د وخت خلکو څخه توپير لري، چې په منځ کې يې دوام لرونکې اړيکې به هېڅ هم نه وي، د يوه خاص مقصد لپاره د افرادو ډېناميک ارادې اتحاد هغه اساسي عنصر دي، چې د افرادو له يوې ډلې څخه ټولنه جوړوي. په ورته ډول عدالت د دو يا درې کسانو ډېناميکي اړيکې پېژندل شوې، چې مجبور دي، يوه بل ته حقونه ورکړي.

## د اخلاقي مفهوم تيوري:

الف: انتوني کوپر (Anthony -A- Cooper ۱۷۱۳-۱٦۷۱) يو برتانوي جنټلمين فيلسوف لومړى کس و، چې د اخلاقي مفهوم شوونځى پرنسيپونه يې په څرګند ډول بيان کړل. دى په خپلو اثارو کې ښېګڼه يا اخلاقي ښه توب "طبيعي مهرباني، يا د سخاوت عاطفي" او د کرکې او دښمني "غير طبيعي عاطفو" ترمنځ د توازن نتيجه بولي، ددې لپاره چې موږ مناسب توازن ترسره کولى وشو، بايد ددغو عاطفو مثبت او منفي توازن وپېژنو دى وايي: چې موږ له اول وړوکتوب نه د مخالفت او مهرباني چلند توپير په اسانۍ کوو; وروستي ته کش کېږو، او له لومړي څخه بېزاره کېږو. دى دغه قوه چې په هغې سره دغه توپير کوو "اخلاقي حس" (Moral Sense) نوموي. داسې ښکاري چې دغه اخلاقي شعور د انجذاب او دفع حس وي، چې دبديعياتو په ډګر کې د ښکلا انجذاب او کرغېړتوب دفع ته ورته دى، دغه اخلاقي شعور د اخلاقي حساسيت انعکاس دى، چې زموږ د رښتيني يا غلط ارادې عمل د انتخاب دليل دى.

جوزف بتلر (J. Butler ۱۷۵۲-۱٦۹۲) د انګلستان د برسټل ښار راهب ويل چې دا درې پرنسيپونه دي، چې انسانان په اخلاقي ژوند کې تحريک کوي، د خير

رسولو پرنسيپ ، د ځان ميني پرنسيپ او د ژور سوچ پرنسيپ. له ژور سوچ نه "د اخلاقي ښه ايسېدنې يا د ښه نه ايسېدنې قوې" په واسطه كار اخيستل كېږي، چې هغه به "وجدان، اخلاقي شعور يا رباني" ونومول شي. هغه به د "پوهاوي احساس" وګڼل شي.

فرانسس هچسن (F. Hutcheson ١٦٩۴-١٧۴٧) تاييده وي چې موږ بې له عقلاني محاسبې نه د ښكلا نېغ درک لرو. دی دا هم وايي چې اخلاقي ښكلا په ورته ډول به نېغ فهم سره عملونه درک كوو، اخلاقي شعور يو "داخلي شعور" دی او هغه زموږ عملونه تنظيموي او كنټرولوي.

**ادم سمت:**

ادم سمت (Adam Smith ١٧٢٣ -١٧٩٠) د خپل د لومړني اثر، د اخلاقي احساساتو د تيوري "١٧٥٩" په نسبت په خپل بل اثر، د ملتونو شتمني (١٧٧٦) ډېر يادېږي، دی د سكاټ لينډ په ګلاسكو كې د فلسفې استاد و، او په هغه فكري ښوونځي پورې يې تعلق لاره، چې اخلاقي ښه والي ته يې خاص مفهوم منسوب كړ. هغه له مناسب يا ښه سلوک څخه وغږېد، چې له هغه نه يې مطلب اخلاقي ښه توب و، د ښه سلوک دغه مفهوم په موږ كې يو ډول منصف يا "بېطرف مشاهد" دی. انصاف يا بېطرفي يوازې هغه وخت ترسره كېدلی شي چې كه موږ خپل سلوک هغسې وګورو، لكه چې د بل چا وي، موږ به خپل سلوک ښه يا ښه ونه ګڼو او دا به د هغو احساساتو له مخې وي، چې زموږ عملونه يې تحريک كړي دي، د دغه مناسب سلوک يا انصاف حس وجدان نومول كېدلی شي، چې هغه د خواخوږي طبيعي حس دی.

**ارزونه:**

د بې عدالتي، بې رحمي غولولو يا خواخوږي او له نورو سره مرسته كولو او داسې نورو موضوع ګانو په اړه تفكر يو څوک په اسانۍ دغې پايلې ته رسوي، لكه د اخلاقي نېغ درک ښوونځی يې چې رسوي، چې موږ د ښه لپاره

خواخوږي او د شر لپاره دښمني لرو، د دغه فکري ښوونځي پلويان د دغو جذبو او عاطفو په اوږد تحليل کې بوخت دي او په نتيجه کې وايي چې هلته [په انسان کې] به اخلاقي شعور يا کومه قوه وي، چې دغه غبرګونونه رامنځ ته کوي.

خو منتقدان وايي چې د دغو عواطفو سرچينه بې له دې چې دغسې اخلاقي شعور پخوا له پخوا وګڼل شي، شرح کېدلی شي. موږ د خپلو پلرونو، ميندو، ښوونځي او ټولنې له خوا پوهول کېږو، چې له ځينو عملونو څخه د بد په شان ډډه وکړو او ځينې نور د ښه په شان وکړو. زموږ ټول قضاوتونه او عملونه ترڅه حده له احساساتو سره ملګري دي، خو موږ بايد په نظر کې ولرو، چې دغه دوه عمليات دي سره ګډوډ نه شي، څنګه چې موږ وده کوو، او د قضاوتونو تکرار کوو، موږ په خپلې ماشومتيا کې زده کړه کوو، دا به طبيعي وي، چې موږ به له بې رحمي او بې عدالتي نه په تېره چې هغه پر موږ شوې وي، زړه بدي کېږو او په مهرباني او روغ نيتي سره به مجذوب شو.

د يوه عمل د اخلاقي توب په اړه قضاوت په نهايت کې د عقلي دليل محصول دی، نه د احساس نتيجه. سيکالوجي نه ده توانېدلې چې تش په نامه دغسې اخلاقي شعور يا ځانګړې قوه ومومي چې دا به يې وظيفه وي چې موږ ته د ښه او بد عمل پوهه تهيه کړي، دا په اصل کې زموږ عقلي قوه ده، چې د يوه عمل رښتين توب او غلط توب اعلاموي، او هغه په دغه ډول کوي، چې په مشخصو قضيو باندې ځينې پرنسيپونه پلې کوي. وجدان د خواخوږي کوم ذاتي احساس نه، بلکه زموږ د عقلي قوې عملي استدلال دی. پردې برسېره په ښه او بد باندې د علم متکي کول اخلاقي ژوند ته يو پياوړی اساس ورکولی نه شي، ځکه چې احساسات تغير کوي او جذباتي حالت به د اخلاقياتو لپاره يو نسبي اساس وي، هغه تيوري ګانې چې د باندينيو معيارونو وړانديز کوي.

## ۱- اخلاقي مشبتيت:

دريمه ډله د اخلاقياتو سرچينه او شرح په دغسې عواملو کې لټوي، چې لـه عمل څخه دبانـدې وي، دغـه بانـدني قوتونـه د مرکـزي مقـام يـا حکومـت، د پياوړو کسانو نفوذ يا اراده، د اکثريت يا اجتماعي فشار نظرد واکمنـي طبقـې گټې، يا د خدای تعالی حاکمه او ازاده اراده وي، چې خپـل قانونونـه پـه ټولـو انسانانو باندې تحميل کوي.

دغې تيوري په ټولې نړۍ کې ډېر پلويان مونـدلي، او نـن ورځ هـم ډېـر کسـان شته، چې شعوري يا طبقي ژوند د عادت د قوې له مخې د يوې ټـاکلې ټـولنې يا د اجتماعي طريقه د خپل اخلاقي نارم په مني څنگه چې اجتماعي عادتونـه تغيـر کـوي، داسـې هـم د دوی پـه نظـر اخلاقيـات ځکـه چـې شـه او بـد د تغيرېدونکي عامه ذهنيت يا په بېلو شرايطو سره ټاکل کېږي.

## ۲- د اجتماعي قرارداد تيوري گانې

تومـاس هـابز (Thomas Hobbes ۱۵۸۸-۱٦۷۹) يـو مـنظم فيلسـوف و او د فلسفې په عملي مقصد يې ټينگار کـاوه. مـوږ د هغـه پـه ليکنـو کـې د اخـلاق درې سيســـتمونه مونـــدلی شـــو، هغـــه چـــې د اخلاقـــي مشـــبتيت (Moral Positivism) نظر په ډېر څرگند ډول افاده کوي د هغه په دغـه اثـر کې شرح شوی دی: لي وي تن يا مـاده، فـارم، او د کانوليـت قـوت، دينـي يـا مدني (۱٦۵۱) دغه اثر د لي وی تن Leviathan په نامه يادېږي.

هانبر د ټولنې سرچينه بيانوي او وايي چې انسانان د مدني ټولنې لـه جوړېـدلو نه د مخه لـه يـوه بـل سره د جنـگ پـه حـال کـې وو. انسـان يـو متجـاوز او د اجتماع پر ضد موجود دی، او په خپل لـومړني حـال کـې لـه ټولـو سره د ټولـو جنگ و. خو انسانان تر هرڅه ډېر له مرگ څخـه وېرېـږي، او درک کـوي چـې دوی په يوازې خپل ځان ساتلی نـه شي، مـدني ټولنـه جـوړوي او بـې لـه شرط

څخه د حکومت واکمني تـه غـاړه ږدي، مرکـزي واکمنـي مقـررې او قانونونـه تحميلوي او د ښه او بد مفعوم د لومړي ځل لپاره رواج پيدا کوي.

د همدغو قوانينو له مخې ځينـې عملونـه مجـاز او ځينـې منـع اعلامېـږي. د دغې تيوري له مخې د ښه او بدي سرچينه حکومت کېږي، چې له عمل څخه دباندې وي، په دې ډول د اخلاقياتو نارم يو مثبت عامل کېـږي، چـې رښـتين توب او غلط توب له باندې څخه ټاکي. له دغـې تيـوري نـه څرګنـدېږي، چـې قوت په حقه دی.

د هابز په نظر لومړنۍ اجتماعي قرار داد بايد د واکمن مقام واکمني ته بې له شرط نه رضايت وي، ځکه چې لـه دې څخـه پرتـه بـه خلـک دغـه حـق د ځـان کړي، چې د ټولنې له قوانينو څخه سر وغړوي او په پای کې د جنـګ لـومړني حـال تـه ورشي، د تشـدد او د ګـډ وډي د شـته والي پـه وړانـدې د سـياسي واکمني د تضمين دليل دادی: چې حکومتونه قدرت لري، چې حکمونه وکړي او د عملونو رښتين توب او غلط توب وټاکي.

په نتيجه کې اخلاقيات يا کانونشـنونه قـراردادي دی، او د عمـل پـه ماهيـت سره نه ټاکل کېږي.

ژان ژاک روسو (J.J Rousseau ۱۷۱۲-۱۷۷۸) په خپل اجتماعي قـرارداد نـومي اثر کې شرح کوي، چې انساني ټولنه او هغه قوانين چې زموږ سلوک تنظيموي څنګه منځ ته راغلل. دی د هانبر پر خلاف فکر کوي، چې انسانانو د "طبيعت په حال" کې هغه څه کول چې به طبيعي لحاظ ښه و او د يوه او بل پـر ضـد د جنګ په حال کې نه وو.

سره له دې هم ده ومنله چې انسانان په طبيعي لحاظ ځان غوښـتونکي دي، او تايد کړه، چې دغه ځان غوښتنه په اجتماعي قرارداد سره په اخلاقي مکلفيـت واړول شو، د اجتماعي قرارداد عمومي بنسـټ عمـومي اراده يـانې د ټـولنې د غړو ټولنيزه اراده ده، چې د هغو قوانينو اطاعت وکړي، چـې د سـولې د ژونـد نظم او د ټولو د ښېګڼې په خاطر پرې تحميـل کېـږي، د طبيعـت لـه حـال نـه مدني حال ته دغه تحول د اخلاقياتو سرچينه ده.

روسو هغه وخت چې ټينګار کاوه، چې عمومي ارادې ته په غاړه اېښودلو سره موږ په واقع کې د ځان اطاعت کوو، کوښښ کوي، چې د اخلاقي مشبتيت لـه افراطي حال څخه دېده وکړي، سره له دې هم دی مني چې واکمن مقام بايـد ځان غوښتونکی انسان اړ کړي، چې لـه "خپلـې ارادې" سره موافقـت وکـړي، "مجبور يې کړي چې ازاد اوسي". واضحه ده، چې دا د انسـاني ازادي يـو څـه عجيب تعبير دی، لا منطقي به دا وي، چې وويل شي چې سياسي واکمنـي د ټولنې په غړو باندې د سلوک قانون پلې کوي.

## ۳- د پياوړي انسان اراده:

فريـدريک نيچـه (F. Nietzsche ۱۸۴۴ - ۱۹۰۰) پـه خپـل اثـر د معنويـاتو جينيالوجي يوه حمله (۱۸۸۷) کـې د ښـه او بـد مفهـوم سرچينـه پـر ضـعيفانو باندې د پياوړو برلاسي ته نه منسوبوي.

باداران له ښه او بد څخه دباندې وو، په مريـانو بانـدې يـې خپلـه اراده تپلـه، دوی د ځپل شويو د انتقاد موضوع شول، او د بادارانو عملونه يـې بـد وګڼـل. دغه واقعيت د بادار اخلاقياتو او د مريي اخلاقياتو سرچينه شوه.

يهوديت او عيسويت د مريانو ضعفيانو، متواضعاتو او خوارانو خوا ونيولـه او د مريي اخلاقياتو تبليغ يې وکړ، چې موږ تر هغه لاندې ژوند کوو، د ټولنې دنده داده، چې بادار- اخلاقيات يو ځل بيا د پياوړو اخلاقيات له سره ژونـدی کـړي او دسوپرمين اوبرمنش (Ubermensch) او د انساني نـژاد ارسـتو کـراسي تـه انکشاف ورکړي، چې له عامه وګـړو څخـه جيـګ شي، د بشـر لپـاره يـوه ښـه راتلونکې يقيني کړي، سوپر مين يا زبر انسـان لـه ښـه او بـد څخـه پورتـه او د هغه اراده قانون دی.

## ۴- عام نظر، ټولنيز فشار

عامه ذهنيت سروې ګانې زموږ د ژوند برخه شوې ده. هغه په سياسي مبارزو کې او هم د عصري ژوند په نورو اړخونو کې نور هم مهم کېږي. ذهني سروې ګانې د ټولنې او د انسانانو د ژوند د مطالعې يوازې يوه لار ده.
اګستې کامتی (Auguste Comte ۱۷۹۸-۱۸۵۷) د مشبتيت فرانسوي فيلسوف چې د سوسيالوجي (ټولنپوهنې) د ساينس موسس ګڼل کېږي، وايي چې يو مثبت ساينس د هغو د خلکو جوړښت، تنظيم او انکشاف مطالعه کوي، چې په ټولنيزو ډلو کې ژوند کوي.
ځينې ټولنپوهان چې له له خپل مثبت ساينس څخه فلسفې ته مخه کوي اخلاقيات د اکثريت او ژوند له طريقې سره يو ګڼي، اخلاق به په دغه مفهوم سره مثبت ساينس شي، چې عامه ذهنيت او د اکثريت اتفاق به ثبتوي. په نتيجه کې اخلاق به نسبي شي او د ټولنيزو ډلو په تغيرېدونکي ذهنيت به متکي شي، د اخلاقي سلوک تعبيرونه به د اجتماعي فشارونو د ذکي کسانو د رسنيو له خوا د جامعې د کنټرولو نتيجه شي، هغه به داسې هم د اقتصادي انکشاف يا د تعبيرونو يا د هر هغه عامل له امله وشي، چې عمومي ذهنيت ته تغير ورکوي.

## ۵- د خدای تعالی اراده:

ساموېل پوفندورف (Samuel Pufendorf ۱٦۳۲-۱٦۹۴) پروتستاني فيلسوف د دغه فکري ښوونځي له ډېرو نومياليو استازو څخه دي. دهغه په نظر يو عمل هغه وخت ښه وي، چې خدای تعالی يې همدغسې اراده کړې وي، او بد هغه چې خدای تعالی محکوم کړی وي دغه تيوري د خدای اخلاقي مثبت په نامه ياده شوې ده، ځکه چې د هغه له مخې دا د خدای تعالی اراده ده، نه د عمل ماهيت چې د يوه عمل رښتين توب او غلط توب ټاکي، په دې حساب د ښه او بد ټاکونکی عامل يو باندنی او مثبت عنصر کېږي.

فان پوفندورف په دې عقيده دي، چې موږ ته د خدای تعالی اراده په الهام سره مالومېږي، خو دده تيوري يوازې د الهام تيولوجي نه ده ځکه چې دی هغې ته په خپل ډېر لوی اثر د طبيعت او ملتونو قانون "١٦٧٢" کې فلسفې تعبير ورکوي.

**ارزونه:**

پورته يادې شوې تيوري ګانې په معمولي ډول د اخلاقي مثبت پالي تيوريو په نامه يادېږي، په دې چې هغه اخلاقيات له مثبتو قوانينو يا د ټولنې له دودونو څخه راووباسي اخلاقي مثبت پال سلوک ان تر دوهم نړۍ وال جنګ پورې په فردي او بين المللي، اخلاقياتو کې په ژور ډول ځای نيولی و، د تېرې پېړۍ په بهير کې د طبعي قانون اخلاقپوهنه يا هغه اخلاقپوهنه چې اخلاقيات د انسان په طبيعت باندې ډډه لري په څو دليلونو سره مشکوکه وګڼل شوه.
د طبيعت د قانون اخلاقيات ځينې مدافعان بايد ترڅه حده د هغه لپاره ګرم وبلل شي، ځکه چې دوی د انساني طبيعت تعبير د سکون او نږدې په ميخانيکي ډول وکړ، خو مطلق او ټولواک تمايلات تر ډېره حده مسئول وو، چې د مثبتو تيوري ګانو د اسان منلو لپاره يې هم په شخصي او حقوقي ژوند کې ډګر هوار کړ.
د جنګ له امله ستر بدلونونه پيښ شول او هغو دغسې غورځنګونه په حرکت راوستل چې د حکومتونو هغه واک مې تر پوښتنې لاندې ونيوه چې په حاکم ډول قوانين وباسي، دغه غورځنګونه د عدالت اساسي مفهوم او د ښه او بد لا ژور پوهاوي غوښتنه کوي کومې هغه نا ارامي ګانې چې د ١٩٦٠ په لسيزې کې په امريکې او ډېرو اروپايې هېوادونو کې پېښې شوې ښکار کړه، چې حکومت د ډېرو کسانو په نظر د اخلاقياتو سرچينه نه ده، او حتمی ده چې پر ځای يې مدني مقام د دغه اساسي عدالت درناوی وکړي، چې د انساني نظام په ارادې متکی نه وي مدني نافرماني په دغه نظر بنا ده چې رښتيا او غلطي د

یوه حکومت یا حتی د خلکو د اکثریت تخلیق نه وي، بلکه هغه د انسان په ماهیت او عزت متکي دی، چې مدني مقام یې باید تر پښو لاندې نه کړي.
بیا هم دا به ناسمه وي چې اخلاقي مثبتیت د ماضي تیوري او تمرین وګڼل شي.
اوس هم د خلکو ډېر شمېر په خپلو اخلاقیاتو باندې د ډېره کیو د نظر یا د مسلطو اجتماعي دودونو پلوي کوي څنګه چې اخلاقي عادتونه او هوسونه تغیر کوي داسې هم د دغو خلکو اخلاقي سلوکونه به تغیر وکړي، د پوهاوي عامه رسنۍ به د هغو خلکو په یوې برخې غټ اثر وکړي، چې په خپله مستدلل اخلاقي استدلال کولی نه شي، او په اسانۍ خوځېږي، چې د جمعیت یاد ذکي انتخاباتي مبارزو تر اثر لاندې شي.
هغه تیوري ګانې چې د باندنیو معیارونو وړاندیز کوي په څرګند ډول وایي چې اخلاقیات د هغو عواملو له خوا جوړېږي چې له عمل څخه دباندې وي، دغه عناصر چې اخلاقیات جوړ وي، دغه لاندې کېدلی شي:
حکومتي واکمني چې په اجتماعي قرارادا سره ترلاسه کېږي، د خلکو عمومي اراده، د ډېره کیو یا عامه ذهنیت د حکومت نظامي یا پولیسي قوه چې قانونونه وضع کوي او تطبیقوي ټولنیز فشار، د شتمنو او پیاوړو اراده د خدای تعالی اراده ده.
د دغو تیوري ګانو تحلیل څو نیمګړتیاوې او تناقضونه را برسېره کوي، انسان کوم اجتماعي ضد موجود نه دی، هغه د خپل طبیعت له مخې اجتماعي دی، زموږ طبیعي فردي اړتیاوې نظر زموږ فردي قوت نه ده چې ترلاسه یې کړو ډېرې دي. دا یوازې اجتماعي همکاري ده، چې د انسان دغه اساي ضرورتونه رفع کولی شي. د انسان دغه همیشنۍ غوښتنه چې نور هم پوه شي، نور هم زده کړي او مدنیت ته انکشاف ورکړي یوازې په اجتماعي همکاري سره ترسره کېدلی شي. انسان د خپل طبیعت د خاصیت له مخې په اساسي ډول اجتماعي دی، د دغه واقعیت سره سره چې ځینې کسان کله کله اجتماعي ضد سلوک کوي، د قانون جوړولو د کړنلارې په نظر کې نیولو سره موږ وینو

چې قانون جوړونکي حتی زورواک دولت همد لایحو خصوصیتونه یا هغه قوانین چې باید ویستل شي، له دغه ګوټ نه ګوري، چې که هغه د ټولنې د ښېګڼې مقصد یا لږ تر لږه هغسې چې قانون جوړونکی پرې پوهېږي ترسره کولی شي.

په بله ژبه د یوه عمل سم توب او ناسم توب دننه په عمل کې د هغه د یو څه خاصیت له امله ټاکل کېږي. په اړه یې اورېدنې کېږي، او له متخصصانو سره مشوره کېږي ددې لپاره چې هغه لایحې چې په قانوني لحاظ مجاز کېږي، هغه او صاف ولري چې په هغو سره مقصد ترسره کېدلی وشي. وژنه بدعمل ګڼل کېږی، چې ټولنه یې منع کوي، بلکه ددې لپاره چې انسان وژنه په خپل ماهیت کې یو بد عمل دی، ټولنه منع کوي ځکه چې هغه په هر قانون کې هیڅ ټولنه چې د عملونو رښتین توب یا غلط توب په حاکم دول ټاکي پاتې کېدلی نه شي، په ورته ډول د اکثریت نظر د هغه عمل یا د کوم ډول سلوک د توانانې په کوم سم یا ناسم پوهاوي باندې بنا دي، چې کوم ډول مقصدونه ترسره کوي، عمومي نظر د فردي عقیدو په ورو ورو یو ځای کېدلو سره چې ځینې عملونه ښه یا بد دي جوړېږي، په دې چې هغه مطلوب مقصد ته رسېږي یا مو مخه نیسي چې ورته ورسېږو.

**هغه تیورۍ ګانې چې د داخلي معیارونو وړاندیز کوي:**

د دغې ډلې په ډېرو تیورۍ ګانو کې به موږ هغه یادې کړو چې په تاریخ کې مهمې وي او لا هم د ډېرو کسانو د اخلاقي قضاوت په کولو کې نفوذ لري.

## الف: د عالمي توب پرنسیپ:

دغه پرنسیپ په دغې ګڼهې ولاړ دی، چې وایي کوم څیز چې د یوه کس لپاره ښه یا بد وي د نورو لپاره به هم همدغسې وي، چې په همدغسې شرایطو کې وي دغه اصل د ماشومانو په اولي پوهنه کې اورېدل کېږي.

د بېلګې په ډول هغه وخت چې پلرونه او میندې خپلو ماشومانو تـه نصـيحت کوي، چې خپل ورونه یا خپلې خویندې ټپي نه کړي، ځکه چې هغوی هېڅکله نه غواړي تاسې ټپي کړي. "مه یې زخمی کوه، هغه دې نه زخمي کوي"داسې هم دغه اصل په دغه طلايي قانون کې افاده کېږي: "دغسې چلند ورسره وکړه چې تـه غـواړې هغـوی یـې لـه تـاسره وکـړي" بایـد وویـل شي چـې د عالمیـت پرنسیپ د اخلاقي قانون محتویات په واقعي ډول تر کتنـې لانـدې نـه نیسـي، بلکه هغه شکل چې په نظر کې نیسي۔ چـې هغـه عمـل پکـې برابـر شي، ددې لپاره چې هغه ښه وګرځي. بیا نو مـوږ پـه یـوه مفهـوم ویلـی شـو، چـې هغـه د اخلاقیاتو داخلي معیارونه ورکوي، خو پـه بـل مفهـوم د دغـه عمـل داخـلي یـا خاص صفت باید هغه وخت په نظر کې ونیول شي، چې یو څوک کوښښ کوي هغه په عالمي قالب کې برابر کړي، مشکل دا دی چې په دې اړه کوم څرګند لارښود پرنسیپ نشته چې یو څوک هغه څنګه برابر کړي، چې دغه عمل له م څه ډول مشخص خاصیتونه ولري.

د ایمانویل کانت (Immanuel Kant ۱۷۲۴-۱۸۰۴) اخلاقي فلسفه که څـه هـم په موجبه ښوونې او څرګندونې کې خورا پېچلې ده، پـه نهایـت کـې د عـالمي تـوب پرنسـیپ تـه متحـول کېـدلی شي، د کانـت د پـوهې یـا علـم تیـوري (Epistemological Theory) لـه مخـې زمـوږ خـالص عقـل (Pure Reason) څیـز پـه خپـل ذات کـې (Thing in Itself) یـا نـې د څیزونـو جـوهر یـا (Noumenon) پېژنـدلی نـه شي بلکـه یـوازې د حـادثې (Phenomenon) یـا څیزونون ظواهر "پېژندلی شي"خو زموږ عمـلي عقـل (Practical Reason) یـو شمېر ګڼې (Postulates) مني په دې چې موږ بې له دې چې ځینې څیزونـه رښتیني وګڼو، اخلاقي ژوند کولی نه شو.

یو له هغـو رښـتین توبونـو څخـه چـې زمـوږ عمـلي عقـل یـې پېـژني د اخلاقـي مکلفیت شته والی او عالمي خصوصیت دی. د تاریخ په بهیر کـې بېلـو ټولنـو او کسانو د بېلو اخلاقي قوانینو پـر بنسـټ ژونـد کـړی دی، خـو دوی د دغـو قوانینو له سترو ځانګړتیاوو سره موافقه کړې، چې د هغو اطاعت به په عـالمي

توگه کېږی.د اخلاقي قانون شکل "فارم" دادی چې مکلفیت تحمیلوي، دا مطلق حکم (Categorical Imperative) دي. د قانون موضوع او محتوی تغیر کوي خو د اخلاقی قانون مهم اړخ دا دی چې هغه د عالمي توب ادعا لري او فارم تغیر نه کویکه فارم په محتوی باندې په انتقادي دول تطبیق کېږي د قانون حاکمیت یا فارم باید د قانون محتوی ته ثبات او همېش توب درکړي بیا نو کانت داسې نتیجه را باسي چې د اخلاقیاتو پرنسیپب دا دی چې "یوازې په دغه شعار سره عمل وکړه چې ته په عین حال کې عزم لرې، چې هغه باید یو عالمي قانون شي." څنگه چې دکانت د علم تیوري له مخې سوچه عقل یا عقلي دلیل د طبیعت وجودي نظام درک کولی نه شي د قانون د عالمي توب عملي فارمول باید زموږ فکرونو ته هدایت یا لارښوونه وکړي. په دې ډول مطلق حکم له مغز نه خالي پوچ پوټکی دی. له همدې امله ده، چې د کانت اخلاقی تیوري اخلاقي صورت یا ظواهر نومول شوې ده. موږ باید د یوه اخلاقي قضاوت په کولو سره دغه ظاهری حال تل په خپلو کړو باندې پلې کړو چې "که هرچا دغسې وکړه څه به پیښ شي." یا "ایا زه هیله کولی شم چې به هغه حال کې هرڅوک باید په هغه ډول عمل وکړي لکه زه چې غواړم عمل وکړم؟))

**ارزونه**

نزدې ټول دینونه اخلاقیاتو ته د لارښود په شان د طلایي قانون وړاندیز کوي، یو څوک باید انکار ونه کړي، چې دا د دغسې اسان قانون په شان دی، چې په ډېرو حالاتو کې مرسته کوي خو د عالمي توب پرنسیپ په خپل ذات کې دغې پوښتنې ته ځواب نه وایي چې ځینې عملونه ولې ښه او نور یې بد دي، په دې چې هغه د عمل د محتوی تحلیل نه کوي، لږ ترلږه په څرگند ډول هغه یوازې د عالمي توب فارمول ترکتنې لاندې نیسي، خو فلسفي تیوري باید له شکل یا فارم څخه وړاندې لاړه شي، او دغه قابلیت ولري، چې د یوه مکلفیت محتوی تحلیل کړي، او دلیل وړاندې کړي چې د عمل یو ډول ښه

يا بد دي، او په نتيجه کې دغسې عملونه ولې په عـالمي ډول مجـاز يـا منـع وګڼل شي.
داسې ښکاري چې ممکنه نه وي، بې له دې چې کوښښ وشي، چې لـړ تـر لـږه دليل وويل شي چې دغه عمل په عـالمي توګـه مجـاز اعـلام شي. مـوږ نـه شـو کولی بې له دې چې د قانون محتوی يانې د يـوه عمـل ماهيـت مطالعـه کـړو، چې مجاز يا منع دي، د هغه عالمي توب څرګند کړو.
دغه څېړنه به يو څه څرګنده کړي، چې دغه عمل ښه يـا بـد دی پـه دې چـې هغه هغسې موخې ته رسېږي، چې د انسان د موجوديت لپاره ضروري دي، يـا يې د رسېدلو په مخ کې خنډ کېږي.
د بېلګې په ډول د اجتماعي او عقلي مخلوق په شان د انسان انکشاف ته دغه رښتين توب بايد يو عالمي قانون وي ځکه چې هغـه د انسـاني همکـاري لپـاره ضرور دی، چـې لـه هغـه څخـه پرتـه مـوږ حتـی اسـاسي جسـمي او عقـلاني ضرورتونه رفع کولی نه شو.
د عالمي توب پرنسيپ د يوه عمل ځينې ځانګړتياوې ترکتنې لاندې نيسـي، يا نې هغه خاصيت چې هغه قادر کوي چې عالمي قانون شي. له همدې امله ده چې دغه تيوري د اخلاقياتو دغسې معيار وړانـدې کـوي، چـې دغـه عمـل تـه داخـلي وي، خـو د عـالمي تـوب دغـه خاصـيت تـر دې څخـه زيـات نـه شرح کېږي. هيڅ څرګند افاقي دليل نه ورکول کېږي، چـې ثابتـه کـړي، چـې دغـه عمل دی ولې په عالمي ډول مجـاز يـا منـع وي. د افـاقي موجهـه تـوب يوڅـه کموالی د اخلاقياتو عندي تعبير ته دوره پـه خـلاص پرېښـودلو تـامېږي خـو هغه څه چې د عالمي توب په پلـې کېـدلو کـې پـه معمـول ډول پېښـېږي، پـه خپلـه د تيـوري تـرک کېـدل کېـږي، ځکـه ډېـر خلـک پـه افـاقي دليلونـو سره کوښښ کوي ثابته کړي، چې دغه عمل ولې په عـالمي توګـه مجـاز يـا ممنـوع دی. په بله ژبه دوی د مطلق حکم له پوچ فارم څخه وړاندې ځي او د عمـل د ماهيت تحليل ته ورګرځوي.

## ب- خوند پالنه:

يونانيی کلمه هيډون (Hedone) دخوند مانا لري. هيڅ د نزم يا خوند پالنه يا د مزې فلسفه هغه سيستم ته ويل کېږي، چې وايي د اخلاقياتو معيار خوند دی. د لرغوني يونان فيلسوف دسای رين (Cyrene) ارستي پوس (Aristippus, اټکل ۴۳۵- اټکل ۳۵٦ ق م) په دې فکر و، چې يوازې خوند ښه دی. ده خوند نيکمرغي وبلله ښه عمل هغه دی، چې د خوند احساس ورکوي، په نېغ يا نا نېغ ډول او بد عمل هغه دی، چې درد يا ناوړي احساسات زېږوي. د انسان موخه نيکمرغي ده، او نيکمرغي له خوند نه راولاړېږي. په همدغه دليل ده، چې د يوه عمل اخلاقي ښه والی د هغه په خاصيت سره ټاکل کېږي، چې خوند وزېږوي، يانې اخلاقيات تر هغه ځايه چې د انسان د مقصد لپاره يوه وسيله وي، د يوه عمل له دنني خاصيت څخه جوړوي.

ارستپوس او پلويان يې تر عقلاني خوند څخه زيات په حسي خوند ټينګار کوي، په دې چې هغه "حسي خوند" لا ډېر پياوړي او لا ډېر خوښوونکي او د نيکمرغه لېدلو لپاره ډېر مرستندوی دي. خو عاقل انسان ياني فيلسوف به خوند له تميز نه پرته او له حد څخه د ډېر ونه غواړي ځکه چې د هغه نتيجه به درد شي، نه خوښي. انسان ته ښايي ځان يو څه کنټرول کړئ که نه هغه به د خوند مريه وګرځي چې هغه به يوه دردناکه تجربه وي. ددې مانا دا ده; چې هوښيار انسان خپلې غوښتنې محدودې کړي، او ددې لپاره چې خوښي او نېکمرغي په لوړه درجه ولري، بايد يو مناسب انډول وساتي.

اپيکور (Epicurus مخزيږدی ۳۴۱-۲۷۰) د سرينانو په شان د ژوند مقصد په خوند کې لټوه، خو په داسې حال کې چې سرينانو د حاضر وخت په خوند ټينګار کاوه، اپيکورپاييدونکي خوندونه غوره ګڼل. څنګه چې حسي خوند دوام نه کوي، هغه ښوونه کوله چې د انسان مقصد عقلاني خوند دی، چې هغه په عمده ډول د روح له ارامي، له ذهني سولې او په ټولنه کې له همغږي ژوند څخه راولاړېږي. ښېګنې ته د يوې وسيلې په توګه د عقلاني خوند د توليدولو لپاره ارزښت ورکول کېږي.ځان کنټرول يوه مناسبه وسيله ده، چې

پاییدونکي خوندونه زیږوي، داسې هم ملګرتوب او عقلاني ژوند. هغه عملونه چې کولی شي، چې زموږ ذهني ارامي یا عقلاني خوند ډېر کړي، په اخلاقي لحاظ ښه عملونه دي، او هر هغه څه چې درد یا اندېښنه تولیدوي په اخلاقي لحاظ بد عمل دی، او له کولو نه یې باید ډډه وشي.

**ارزونه**

مسلمه ده چې د یوه چا له خوا د دغو نظریو منل یا ردول د انسان د مقصد په پوهاوي پورې تړلي دي، ایا د انسان د ژوند مقصد حسي یا عقلي خوند دی یا څه نور څیزونه چې د انسان شته والي ته مانا ورکوي؟
منقدان د انسان د اساسي تمایل له مسئلې نه برسېره دا هم وایي چې د خوند پالنې پلویان خوند له ښه والي سره معادل ګڼي بې له دې چې قانع کوونکي دلیلونه وړاندې کړي. دغه تعادل داسې ګڼل کېږي، لکه چې مسلم وي. دا رښتیا ده، چې خوند تر یوه حده غوښتل کېږي، خو دا مسلمه نه ده، چې زموږ د غوښتنو هر څیز به ښه وي، ډېر عملونه په عالمي توګه ښه ګڼل کېږي. خو سره له دې هم هغه خوند یا لږ تر لږه حسي خوند نه تولیدوي صداقت او رښتین توب که حتی په قرباني او سخت کار سره هم تر سره کېدلی شي، ښه وي، د حسي خوند همیشنۍ غوښتنه د یوه عقلاني شخص لپاره مناسبه نه وي او دا یو ښه پېژندل شوی سیکالوجیکي واقعیت دی، چې دغسې غوښتنه د نیکمرغي نه بلکه د زړه تنګي او ناخوښي لامل کېږي.
خوند زیاتره د یوې لنډې مودې خوندور احساس دی نه د اوږدې مودې خوښي. د اپیکور فلسفه د سري نانو څخه ډېره دقیقه او رڼه ده، په دې چې هغه د انسان روحي او عقلاني ځانګړتیاوې دواړه په نظر کې نیسي سره له دې هم هغه دغه اساسي اصل ثابتولی نه شي، چې عقلاني خوند او ښه والي سره بدلېدونکي اصطلاحات دي او د یوه څیز مانا لري.

## ج. د ګټورتوب فلسفه:

د ګټورتوب يا د ګټې رسولو فلسفه (Utilitarianism) پـه دغـه نظـر ولاړه ده، چې خوند او درد يوازنی هڅونکی يامحرک دی، په دې ډول چې لـومړني يـې موږ هڅوي چې عمل وکو او وروستي مو مجبوروي چې له عمـل کولـو نـه ډډه وکړو. د دغې تيوري له مخې زموږ د کړو سيکالوجيکي تحليـل دغـه واقعيـت څرګندوي، چې موږ په ضروري ډول خوند لټوو، او کوښښ کوو لـه درد څخـه ډډه وکړو. دغې تيوري ته سيکالوجي هيډونزم ويـل کېـږي يـانې چـې هغـه د انسان واقعيت شرح کوي، چې دا لـه اخلاقـي هيـډونزم څخـه بېـل دی، چـې ذاتي انسان بايد خوند ولټوي.

د ګټورتوب فلسفې به اتلسمې او نولسمې په انګلسـتان کـې انکشـاف وکـړ، د هغـــې ســـتر طـــراح کـــوونکي برتـــانوي فيلســـوفان، جرمـــي بنتهـــام (Jeremy Bentham) او جان سـتوارت مـل (John Stuart Mill) وو. بنتهـام (۱۷۴۸-۱۸۳۲) د سياسي انقلابونو په خوځـونکې دورې کـې يـانې د جنګونـو، او صناعتي انقلاب د پيل په وختونو کې ژوند کاوه، ده د عمـر پـه لومړيـو کلونـو کې د صادق حکومت او د ټولنې د سمون پـه اړه علاقمنـدي وښـووله، د هغـه فلسـفه پـه دغـه اثـر کـې پـه ښـه ډول شرح شـوې وه، داخلاقـي او تقنينـي پرنسيپونو پيلامـه (۱۷۸۹) دی نـور اثرونـه هـم لـري، او پـه حقـوقي او سـياسي ليکنو کې يې هم د ګټورتوب تيوري ګانې موندلې کېږي.

د بنتهام د پيل ټکي د سـيکالوجيکي هيـډونزم بيـان دی. ټـول انسـانان عمـل کـوي، چـې خونـد ترلاسـه کـړي او لـه درد څخـه ډډه وکـړي. انسـان ځـان غوښتونکی دی، او عمل به ونه کړي، خـو پـه هغـه حـال کـې چـې خپلـه ګټـه ترلاسه کړي. کله به دی نورو ته خدمت وکړي خو په دغه حـال کـې هـم دده هڅوونکي محرک شخصـي ګټه ده نـه د نـورو، دی د انسـان د سـيکالوجي پـه بيان کې هم خوند له نيکمرغي سره يو ګڼي، او دغې نتيجې ته رسېږي چـې د اخلاقپوهنې لومړی پرنسـيپ دادی; چـې د انسـاني رښـتين تـوب او مطلـوب مقصد نيکمرغي ده يانې د خوښۍ غوښتل او له درد څخه ډډه کـول. دده پـه

نظر دغه لومړنی پرنسیپ مسلم دی، او ثبوت ته اړتیا نه لري، له دې نه داسې ښکاري چې د یوه عمل رښتین توب یا غلط توب باید د هغه له پایلونه او د دغه عمل له قابلیت نه تر حکم لاندې ونیول شي.چې خوښي راولی او درد له منځ ځخه وړي. هغه عمل چې د خوښي او درد مخلوط تولیدوي، باید پر هغه باندې د هغه د خوښۍ او درد د مقدار له مخې قضاوت وشي، د کوم یوه اندازه چې ډېره وي، هغه عمل ته به اخلاقي خصوصیت ورکړل شي، څه وخت چې د ډېرو عملونو ترمنځ چې خوښي تولیدوي، دغوره کولو چانس لري، هوښیاره پرېکړه هغه ده، چې دی هغه عمل غوره کړي، چې نتیجه یې د خورا ډېرو لپاره خورا ډېره نېکمرغي وي. خو ښې او نیکمرغې د یوه او بل په مانا راوړله کېږي.

دی د هر عمل یا څیز خاصیت چې خوښي یا نیکمرغي تولیدوي، "گټورتوب" بولي له همدې امله ده چې دغه تیوري په عمومي ډول د گټروتوب فلسفې په نامه یادېږي.

خوښي بېل ډولونه لري، لکه خوړل، څکل، سندرې ویل، یا ښکلو انځورونو ته کتل، خو د بنتهام په نظر دکمیت له مخې اندازه کېږي: هغه به واحدونو ته واړول شي او په دې ډول دا ممکن کېږي، چې د نیکمرغي اندازه حساب کړو. څنگه چې انسان د سیکالوجیکي اړتیا له مخې خوښي غواړي، او له درد څخه ډډه کوي د انسان د کړو ارادې مقصد دادی; چې په دغه ډول عمل وکړي چې خورا ډېره خوښي ترلاسه کړي.

د بنتهام د تیوري مانا دا کېږي چې موږ د خوښي یا نیکمرغي د ډېر اندازو ترمنځ ازاد یو، چې انتخاب وکړو او په دغه ډول د اخلاقي قانون مانا هغه مکلفیت چې خورا ډېرې نیکمرغي وغوښتل شي، په نتیجه کې هیډونزم له سیکالوجیکي هیډونزم څخه راوځي.

د خورا ډېرې نیکمرغي پرنسیپ به فرد یا ټولنې ته راجع شي، که موږ د ټولنې فکر وکړو موږ مجبور یو د خورا ډېرو خلکو لپاره د خورا ډېرې نیکمرغي

کوښښ وکړو، د ټولنې مقصد د خورا ډېرو خلکو لپاره خورا ډېره نيکمرغي ده، او يو ښه حکومت بايد دغه عام ښه والی ډېر کړي.

خو دلته د بنتهام د شخصي خوند پالنې او د هغه د خورا ډېرې نيکمرغي د خورا ډېرو لپاره د پرنسيپ ترمنځ تناقض ليدل کېږي. دده په دغه نظر کې ليدل کېږي، چې که کوم فرد په خپل عمل سره عامه ښېګڼه په نظر کې ونه نيسي، هغه به له دردناکو پايلو سره مخ شي او په دغه ډول هغه به د خپل خورا ډېرې نيکمرغي د پرنسيپ پر ضد عمل کړی وي، په نتيجه کې يو څوک عامه ښېګڼه يوازې د منورې ځان ګټې له امله کوي.

د بنتهام په نظر که موږ خوښي په سمه توګه اندازه کولی وشو، اخلاقي يو مثبت ساينس کېږي، هغه د دغه مقصد لپاره د خوښي زيږوونکی يا د خوښي اندازه کولو محاسبې (Felicific or Hedonistic Calculus) وړاندېز وکړ، د دغې محاسبې تطبيق موږ ته د خوښي د حجم دقيقه اندازه راکوي، په هر عمل باندې بايد اوه عوامل اندازه شي، شدت، دوام، يقين توب، نږدې والی، "خپلوي" ښېرازتوب، سوچه توب، او وسعت. دغه عوامل يوه لنډ وضاحت ته اړتيا غواړي. ښېرازتوب د يوه عمل هغه قابليت دی، چې نوره خوښي وزېږوي سوچه توب په دې مانا چې خوښي له درد سره ملګرې نه ده، پراختيا دلته هغه شمېر کسانو ته راجع کېږي، چې هغه وخت چې موږ د ټولو ښه والی په نظر کې نيسو، چې په خوښي يا درد سره متاثره کېږي.

بنتهام که څه هم د عمل ګټورتوب او د قانون ګټورتوب فلسفې له اصطلاحاتو څخه غږېدلي نه دي. اصطلاح ګانې ايستلې نه دي، دغه ډېر نوي مضمونونه د هغه له تيوري څخه په اساسي ډول ايستل کېدلی شي.

بنتهام که څه د عمل ګټورتوب او د قاعدې ګټورتوب اصطلاح ګانې پرنيسپ دي دغه ډېر نوي مفهومونه د هغه له تيوري څخه په اساسي ډول ايستل کېدلی شي. د عمل ګټورتوب فلسفه له دغه ګوټ څخه ازميي چې هغه د فرد خورا ډېره نيکمرغي په نظر کې نيسي يا د خورا ډېرو خلکو نيکمرغي. له بلې خوا به د قاعدې ګټورتوب فلسفه عالمي قوانين تر بحث لاندې نيسي او

د دغو قوانينو يا مقررو ګټورتوب ازميي چې که هغه د خورا ډېرو خلکو، خورا ډېره نيکمرغي پر مخ بيايي.

عملي ګټورتوب فلسفه په يوه خاص مفهوم له عصري حال اخلاق (Situation Ethics) سره ورته والی لري. دا په يوه مشخص حال کې فردي عمل دی، چې ددې لپاره کتل کېږي، او ازمېيل کېږي، چې هغه په نړۍ کې د بدي په تناسب د ښه والي خورا ډېر مقدار توليدوي. د دغه عمل اخلاقيات د هغه له پلويانو سره د هغه د بيساري تړاو په نظر کې نيولو سره ټاکل کېږي او نه له عمومي قانون سره د هغه د تړاو له امله، د بېلګې په ډول دغه پوښتنه به وشي، چې په يوه مشخص حال کې د حقيقت پر خلاف وينا نظر د حقيقت ويلو ته به د نيکمرغي ډېره اندازه توليد کړي، چې که هغه به په ټولو خواوو کې خوښي يا نيکمرغي راوړي په دغه مشخص حال کې د عملي ګټورتوب فلسفې له مخې د حقيقت پر خلاف وينا د عمل ښه طريقه ده.

له بلې خوا قاعدوي-ګټورتوب فلسفه د عالمي توب اخلاقي تيوري ته ورته ده. دلته د اخلاقياتو په عمومي قانونو باندې ټينګار کېږي، نه په خاصو حالونو باندې. د اخلاقياتو د قوانينو په ټاکلو کې لارښود پرنسيپ دا دي; چې هغه قانون چې د ټولو لپاره خورا ډېر ښه والی راوړي داخلاقياتو قانون دی، چې هر فرد د ژوند په ټولو حالاتو کې مکلف کوي، په خاصو حالاتو کې استثنی مجاز نه وي، په دې چې د استثنی منلو ته اجازه به په نهايت کې د ټولنې نظم ګډوډ کوي.

حتی هغه کس ته به لا ډېر تاوان واړوي، چې له دغې استثنی څخه د ځان لپاره استفاده کوي، د قاعدوي ګټورتوب فلسفي پلوي به لکه د عالمي توب پلوي دغه پوښتنه وکړي، چې که هر څوک هغسې عمل وکړي لکه ما چې وکړ، څه به پيښ شي؟ ايا دغه عمل به په نړۍ کې د ښه يا بد توازن توليد کړي؟

د ګټورتوب فلسفې دواړه شکلونه ټينګار کوي، چې د يوه عمل ګټورتوب چې د خورا ډېرو لپاره خورا ډېره خوښي پر مخ بيايي د يوه عمل اخلاقيات ټاکي،

خو يو څوک بايد په نظر کې ولري، چې د قاعده ييز ګټورتوب فلسفه عالمي توب پرنسيپ ته هم رجوع کوي. پر دې برسېره د يوه قانون د اخلاقياتو په ټاکلو کې د عدالت پرنسيپ هم بايد په نظر کې ونيول شي؛ دليل يې دا دی؛ چې ځينې قانونونه په يوې ټولنې کې د خورا ډېر مقدار خوښي توليدولی شي، خو هغه په عين حال کې د همدغه ښه والی عادل او منصف ويش نقض کولی يا د اکثريت په ګټه اقليت زبېښلی يا استثمار کولی شي. واضحه ده، چې يو قانون چې په هغه سره يوازې ښه والی زياتېږي خو د هغه مقدار په عادل او منصف ډول نه ويشل کېږي، په اخلاقي لحاظ ښه نه وي، خو د قانون په تدوين کې دعدالت په نظر کې نيول د ګټورتوب يا د خير رسولو د فلسفي پرنسيپونو د ترک په مانا کېږي، څنګه چې د دغې فلسفې دواړه شکلونه د ګټورتوب په پرنسيپ باندې بنا شوي دي، لاندې ارزونه په دواړو تطبيق مومي.

**ارزونه:**

لاندې ځينې هغه تبصرې دي چې د ګټورتوب فلسفي منقدانو کړې وي.

د بنتهام په نظر دا سيکالوجيکي واقعيت دی، چې موږ خوښي ضرور غواړو او له درد څخه ډډه کوو، خو دا چندان مفهوم نه لري، چې وويل شي، چې موږ بايد همدغسې وکړو، چې خوښي وغواړو، او له درد څخه ډډه وکړو. دی د انسان د تمايل د واقعيت بيان کوي خو د اخلاقي مکلفيت حتمي توب يا بايد توب نه شرح کوي.

د ګټورتوب لومړی پرنسيپ چې که موږ تل خوښي غواړو، او کوښښ کوو له درد څخه ډډه وکړو دغسې فرض شوی، لکه چې په اصل کې مسلم وي، خو هغه رښتينی نه مالومېږي، چې زموږ ارادې او غير ارادي ټول عملونه تل خوښي لټوي خوښي له نيکمرغه سره بې له کافي ثبوت څخه يو ګڼل شوی، لکه چې د هېډونزم په اړه د مخه ورته اشاره شوې ده.

که وړاندېز کېږي، چې د اخلاقياتو معيار د عمل هغه خاصيت وي چې نيکمرغي زيږوي، د عمل مقصد حتی نور هم مبهم کېږي، او تخريب کېږي نظر دې ته چې د خوښي کېږي. د نيکمرغي اهميت په کافي اندازه شرح شوی نه دی. هغه يوازې فرض شوې چې هر څوک خوښي غواړي او په دې

پوهېږي، چې هغه څه څیز دی، خو که دا پوره ناممکنه نه وي، ګرانـه ده چـې د نیکمرغي په اړه ټول سره یوه خوله اوسي، د بېلګې په ډول هغه به څـوک وي چې د ټولنې خوښي وټاکي؟ هغه به حکومت وي یا د دولت سردال یـا د خلکـو اکثریـت؟ دغـه ټـول ځوابونـه بـه ډېـرې سـتونزې پیـدا کـړي پـر دې برسـېره نیکمرغـي تـه بـه پـه نېـغ ډول ګوتـه ونـه نیولـه شي، ځکـه چـې هغـه زمـوږ د غوښتنې د کوم خاص څیز د شعوري ترلاسه کولو یا د ځینـو عملونـو د تـرسره کولو محصول دی.

ګټورتوب په هغه مفهوم سره چې بنتهام کارولې لـه عـادي اسـتعمال نـه بېـل مفهوم لري. په عمومي ډول هغه د ګټورتوب مانا ورکوي یـا هغـې وسـیلې تـه راجع کېږي، چې کوم مقصد پـرې تـرسره شي، بنتهـام پـه خـاص ډول هغـه د هغه عمل خاصیت ګڼي چې نیکمرغي زېږوي.

د خوند فلسفې محاسـبه پـه عمـل کـې کـار نـه کـوي. ممکنـه نـه ده، چـې د نیکمرغیي هغه مقدار اندازه شي، چې د فرد په حالت کې باید د عمل نتیجـه وي او کله چې پوښتنه دخورا ډېرو لپـار د خـورا ډېـرې نیکمرغـي وي، هغـه لا ګرانه کېږي، ځکه چـې د یـوې ټـولنې ډېـر غـړي پـه موافقـه ونـه کـړي، چـې نیکمرغي د دوی په نظر څه مانا لري. که د بنتهام مقصد یوازې دا وي چې د خپل خوند فلسفې محاسبې ته یو عمـومي لارښـود ورکـړي، یـو څـوک موافقـه کولی شي، چې دغسې لارښـود پـه فـردي حـالتونو کـې بـه ممکـن وي. ځینـې کسان په څرګنده توګه دغسې تخمین کوي،خو که دا د بنتهـام اراده وه هغـه به له خپل مقصد څخه تېر شوی وي، چې له اخلاقپوهنې څخه مثبت سـاینس جوړ کړي.

## جان ستوارت مل:

جان ستوارت مل (John Stuart Mill ۱۸۰٦-۱۸۷۳) تر دې حده د بنتهام تر نفود لاندې شو، چې د ګټورتوب فلسفه د هغه دين شو. ده د خپل ګټورتوب نومي فلسفې اخر کې د بنتهام اساسي نظرونه ومنل، خو دغه تيوري يې اصلاح هم کړه.
مل د بنتهام دخورا ډېرې نيکمرغي د انسان د ژوند مقصد دی، او نيکمرغي له خوښي سره يوه ده، مل په داسې حال کې چې د بنتهام د ګټورتوب فلسفې له بنسټيزو نظريو سره هوکړه وکړه. د هغه دغه نظريې رد کړه، چې خوندونه له يوه او بل نه يوازې په کميت کې سره توپير لري. مل په دې عقيده و، چې خوندونه په کيفي لحاظ هم سره توپير لري، او ځينې خوندونه د ښکته درجې او ځينې د لوړې درجې دي، يو څوک ښه ګڼي "چې نارام انسان وي نظر دې ته چې قانع سرکوزي وي"، "نارام سقراط وي نظر دې ته چې قانع احمق وی".
مل د خوند له کيفي تصنيف نه برسېره د نيکمرغي په ټولنيز خصوصيت هم ښکار وکړ، يو څوک بايد د خورا ډېرو خلکو لپاره خورا ډېره نيکمرغي ولټوي. د خلاقي عمل يوازې شخصي نيکمرغي نه بلکه دټولو لپاره خورا ډېره نکمرغي ده.

**ارزونه:**

مل په خوندونو کې د کيفي توپيرونو په راوړلو او د ټولنيز ملاحظو په ټينګار سره د بنتهام د ګټورتوب فلسفه نوره هم درنه کړه. سره له دې هم له اخلاقي ښه والي سره هغه د خوند يو شان ښوول نا ثابت پاتې شو، لکه هسې چې د بنتهام په تيوري کې و. يو يې هم له سيکالوجيکي خوند فلسفي نه اخلاقي خوند فلسفي ته د يوه انتقال هم ثابت نه دی. دغه واقعيت چې انسانان خوند غواړي يو واقعي حکم دی. له دې نه دانه مالومېږي چې انسانان په خپلو ټولو عملونو کې بايد خوند وغواړي. پر دې برسېره که سيکالوجيکي

خوند پالنه رښتياوي، ياني چې موږ په خپلو ټولو کړو کې خوند غواړو دغه مکلفيت چې موږ بايد همدغسې عمل د کړو چندان مفهوم نه لري. ډېر دليلونه شته چې د سيکالوجيکي خوند پالنې د عالمي توب پر قانون شک وشي، پر دې برسېره د مل د ګټې پالنې فلسفه کې يو څه تناقص ليدل کېږي، په داسې حال کې چې دی تائيدوي، چې نيکمرغي يا خوښي خورا لوړ ښه والی او د اخلاقياتو معيار دی، دی دا هم وايي چې ښه داده، چې يو څوک ناراضي انسان وي، نظر دې ته چې قانع سرکوزی وي. له دې نه دا مالومېږي چې مل په ضمني توګه د انسان طبيعت د اخلاقياتو د معيار په څېر ګڼي. له بده مرغه هغه د انساني طبيعت پوهاوي په ځرګند ډول بيان نه کړ، خو دی وايي چې "رښتيني" انساني طبيعت د هغه لپاره د اخلاقياتو معيار دی، او ښه داده چې انسان ناراضي سقراط وي. نه قانع احمق وي دا لا حتی هغه وخت چې دی د خورا ډېرو خلکو لپاره د خورا ډېرر نيکمرغي پر پرنسيپ بحث کوي، دی دغه پرنسيپ د انسان له اجتماعي طبيعت نه راباسي او وايي چې انسان دخپل ماهيت په تقاضا مکلف دی، چې عامه ښه والی پر مخ بوځي.

دګټې پالنې پلويانو ته چې د ټولو خلکو خورا ډېرې نيکمرغي ته ګوته نيسي حتمي ده، چې لږ تر لږه په ضمني ډول د انساني طبيعت ځينې عالمي توب خصوصيتونو فرضيه ومني او هم هغه طريقې چې دغه طبيعت اکمال ته رسوي، يو څوک بې له دې چې دغه فرضيه يې د مخه منلې وي، چې انسان به خپل طبيعت کې په رښتيا څه څيز دی.

په ټولنه کې د انسان د ژوند د اصلاح لپاره په واقعي دول وړاندېز کولی نه شي. نو داسې ښکاري چې د ګټورتوب فلسفي ټول پلويان د خوښي له منل شوي نارم څخه په ضمني ډول خارج کېږي او انساني طبيعت ته د اخلاقياتو د معيار په شان رسېږي.

# د ځان پېژندنې تیوري ګانې
# د بالقوه استعدادونو بشپړتوب

د ځان پېژندنې یا ځان درک اخلاقي تیوري پلویان دوه نیم زره کاله په دغه نظر ولاړ دي، او احتمال لري، چې دغه ډول تیوري ګانې اوس هم په فیلسوفانو او هم په وګړو کې ډېر پلویان ولري. که موږ د دغې تیوري بېل ډولونه او د هغې اساسي خاصیتونه په نظر کې ونیسو چې دغو مشخصو تیوري ګانو د بېلو سرلیکونو لاندې تر کتنې لاندې نیولې وې. په دغو ټولو تیوري ګانو کې ګډ عنصر هغه نظر دی، چې د فرد لپاره اخلاقي ښه والی تر هغو چې ممکن وي د پټ یا بالقوه استعداد انکشاف دی. هغه د یوه چا د طبیعت پوره ترسره کېدل یا اکمال دی، دغه انکشاف دی. هغه د یوه چا د طبیعت پوره ترسره کېدل یا اکمال دی دغه انکشاف په همغږي سره د یوه چا د پټ استعداد غوړېدل دي، په دغه ډول چې د هغه د طبیعت ټول عنصرونه د طبیعي اجتماعي کرکټر په ګډون په نظر کې ونیول شي.

**افلاطون:**

افلاطون (Plato، مخزیږدي اټکل ۴۲۹-۳۴۷) خپل اخلاقپوهنه د خپل علم د تیوري د میتافزیک "له طبیعت نه اخوا" پر بنسټ بنا کړ. د افلاطون په نظر دا فکر یا ایډیا ده نه حسي درک، چې د څیزونو جوهر په واقعي ډول درک کوي. یوه بېلګه به یې د "ښکلا پوهاوي وي." موږ ډېر څیزونه ښکلي ګڼو. څنګه چې موږ ښکلا په ډېرو څیزونو کې مومو، نو حتمي ده، چې د ښکلا ایډیا باید یو څه حقیقت ولري، ځکه چې که داسې نه وي موږ به ونه شو کولی، چې هغه وخت یې وینو، درک یې وکولی شو. همدغه تحلیل د ښه والي د ایډیا او نورو عمومیاتو لپاره هم د اعتبار وړ وي. افلاطون پوره منطقي ګڼله چې فکر وکړي د مطلقي ښکلا او مطلق ښه توب لپاره حقیقت شته دی. په

بېلو ځيزونو کې ښکلا او ښه توب د مطلق ښه توب او مطلقې ښکلا په "ايډيالي فورم"کې ګډون او انعکاس دی. د افلاطون لپاره دا يوازې يو بل ګام و، چې خپلو ايډيالي فورمونونه په ټول ځيزونو کې پراختيا ورکړي، او يوازې اخلاقي او بديعي عمومياتو ته يې محدوده نه کړي.په دې ډول زموږ د حسي درک جهان د واقعي نړۍ يوازې د ايډيالي فورمونو انعکاس دی. ايډيالي نړۍ د هر ډول ځيزونو پوره او دايمی مکان دی. د مځکې له پاسه ټول موجودات په يوه ايډيالي فورم کې ګډون کوي. داسې هم انسان د بشريت په ايډيالي فورم کې برخه لري، نو عالمي ايډياګانې رښتياني وجودي شته توب لري، او يوازې زموږ د ذهن مجردات نه دي، زموږ عقلاني قوه موږ دعالمي فورمونو له دغې رښتينې نړۍ سره نښلوي. په نتيجه کې ذهن يا دماغ د انسان ډېر مهم اړخ دی، چې د هغه د رښتيني ځان تمثيل کوي، انسان په واقع کې کې د خپل ذهن له لارې انسان دی.

افلاطون د خوند له اهميت څخه انکار نه کوي، ځکه چې انسان د هغه په نظر يوازې عقلي موجود نه دی. ښه ژوند د انسان لپاره د هغه د رښتياني طبيعت انکشاف دی، چې هم په ډېرېدونکې توګه د بشريت ايډيالي فورم دی. څنګه چې انسان يوازې ذهن نه دی.حتمي ده، چې ښه ژوند بايد د ذهن او حواسو د فعاليتونو له همغږې ترکيب څخه جوړوي. تر هغو چې موږ په دغې تلونکې نړۍ کې ژوند کوو، حتمي ده، چې موږ بايد تل درک کړو، چې دا رښتيانۍ نړۍ نه ده، بلکه د ايډيالونو د فورمونو د نقل نړۍ ده. اخلاقي ښه توب دا دی، چې له کاملې نړۍ سره د ورته کولو لپاره تر هغو چې کولی شو کوښښ وکړو خپل بالقوه استعدادونو ته انکشاف ورکړو، په خاص ډول د خپلې پوهې په ډېرولو کې. د پوره ښه والي پوهه مهمه ده، ځکه چې که انسان په دې قادر وي چې خپل طبيعت کامل کړي او نيکمرغي ترلاسه کړي.چې هغه به د کاملې نړۍ سلطنت ته راجعت وي، له کومې نه چې د زېږېدلو په وخت کې زموږ روح اخيستل شوی، او زموږ په بدن کې بندي شوی دی.

افلاطون په خپل جمهوريت نومي اثر کې د ایډيالي دولت بيان کوي، چې انسان په هغه کې د انکشاف کولو او په همغږي سره د ژوند کولو توان لري ياني چې ورسره مرسته کېږي، چې په اخلاقي لحاظ ښه ژوند وکړي. دی د انسان په اجتماعي طبيعت ټينگار کوي او په نتيجه کې د هغه په نظر د اخلاقياتو معيار د انسان يو ډيناميک او اجتماعي طبيعت دی، ځکه چې دی هلته انکشاف کوي او په ټولنې او په همکاري سره مکمل کېږي.

په ټولنې کې په همغږي سره ژوند کول به له انسان سره مرسته وکړي، چې خپل پوره والي ته ورسېږي. د انسان موخه دا ده، چې څومره کولی شي له مکمل ښه توب سره ورته والی وکړي. له ډېر لوړ ښه والي سره شراکت به انسان ته نيکمرغي راولي نو د انسان موخه دا ده; چې له مطلق (Absolute) سره د شراکت له لارې نيکمرغي ترلاسه کړي.

**ارستو:**

د ارستو (Aristotle مخزيږدې ۳۸۴-۳۲۲) اخلاقيات د هغه په ميتا فزيک بنا دي، چې د افلاطون د ایډيالي فورمونو د جلا نړۍ تيوري ردوي. سره له دې هم ارستو له افلاطون سره په يوه نظر دي، چې دغسې حقيقت (Reality) شته چې د موجوداتو له عالمي ایډیاگانو یا جوهرونو سره مطابقت کوي. حتمي ده، چې يو حقيقي څيز به وي، چې سره زر سره زر، اس، اس، او انسان، انسان گرځوي، خو د څيزونو عالمي ایډیا یا جوهر په جلا ډول موجوديت لرلی نه شي، خو حتمي ده، چې هغه واقعيت په فردي موجوداتو کې پيدا کړي. د يوه څيز جوهر له هغه څخه هغه څيز جوړوي چې هغه څيز دی. ده عالمي جوهر هسې چې په فرد کې واقعي کېږي، د موجوداتو اساسي يا اصلي فورم (Substantial Form) په نامه ياد کړ. دغه فورم به طبيعت وگڼل شي، ځکه چې هغه "طبيعت" د يوه موجود د مشخصو فعاليتونو منبع ده، هغه هغه طريقه ټاکي چې يو موجود په هغه ډول ژوند او عمل کوي. موږ د دغو عملونو منبع یا فورم نه وينو خو موږ د دغه موجود له مشاهدې يا فورم څخه

د هغه د وجود حقيقت ته رسېږي، "څنګه چې يو موجود دی هغسې عمل کوي" د منې ونه دمڼو حاصل ورکوي، نه ناک، زاڼه الوتل کوي، نه دماهي په شان لمبل. سره زر لکه وسپنه زنګ نه وهي او داسې نور. له نتايجو څخه يانې د يوه موجود له عملياتو څخه موږ د عملياتو د موجوديت له علت څخه نتيجه اخلو. دغه حقيقت چې د يوه څيز طبيعت به ونومول شي، د هغه فعاليتونه ټاکي.

اصلي فورمونه جلا يا په خپل ذات کې وجود نه لري خو هغه د هماغه صنف موجوداتو په هر يوه ژوند فردکې جوړوونکي عامل دی. هر شخص يو انساني موجود دی، د بشريت جوهر يا طبيعت لري، خو بشريت په دغه ډول بېل وجود نه لري، د يوه عضوي نوع په هر فرد کې د هر موجود مشخص جوهر په کمي لحاظ بېل وي، عالمي ايډياګانې يوازې زموږ په ذهن کې وجود لري، دوی مجردات دي، خو دغه ايډياګانې په ژونديو افرادو کې افاقي بنسټ لري لکه دغه افراد چې په افاقي او رښتياني ډول يا سپيان يا اسونه يا انسانان او داسې نور دي. ددې لپاره چې کوښښ وشي.

په ژونديو څيزونو کې د تغير واقعيت درک شي، د فورم د اصلي مفکورې د ژوند په شرح کولو کې د ارستو د فلسفي اصلي عنصر کېږي.په تل ترتله تغيرېدونکی موجود کې يو نه تغيرېدونکی ډيناميک زړې (Core) شته. د څېړې په پوره منکشف شوېونه کې هغه څه شته چې هغه په اساسي ډول په مغز کې و، خو هغه سره له دې هم ترې نه توپير لري. ارستو د يوه حجار له مقايسې څخه کار اخلي، چې له پوره تخته مرمرو څخه د مجسمې په بڼه ورته تغير ورکوي. حجار مرمرو ته دمجسمې فورم ورکوي، دلته فورم له باندې څخه د يوه خارجي عامل له خوا اضافه شوی دی.

فورم او ماده په يو ځای کېدلو سره يوه مشخصه مجسمه شوې ده. په طبيعی څيزونو کې اصلي فورم د يوه موجود په مينځ کې عمل کوي. هغه هماغه فورم يا جوهر پاتې کېږي، او د هغه يو تغير کېدونکی اوهغه غيرر فعال يا زغمونکی عنصر ټاکي چې ارستو لومړنۍ ماده (Prime Matter) نومولی

ده.خو دغه لومړی ماده له فورم یا جوهر څخه بېل موجودیت لری نه شي، لکه هسې چې اصلي جوهر یا فورم بېل موجودیت لرلی نه شي.په هر ژوندي موجود کې فورمله پخوا نه له لومړی مادې سره یو ځای شوې او هغه موجود ته یو مشخص کرکتړ یا طبیعت ورکوي.

په ژوندیو موجوداتو یا په هر عضوي وده کې اصلي جوهر ماده جوړوي. دا د ننی پرنسیپ دی، چې د هغه موجود طبیعت یا فورم د هغه مشخص موجود د ودې لامل کېږي. دغه فورم د ودې په بهیر کې ځان افاده کوي او د خپل طبیعت له مخې په واقع کې هغه څه کېږي، چې دی. هغه د ژوند په بهیر کې انکشاف کوي. دهغه بالقوه ظرفیت چې د څېړی ونه شي، ترسره کېږي او پوره کېږي. له دې نه داسې ښکاري چې فورم د ژوند خوځوونکی یا "صوري" علت دی. په عین حال کې چې هغه موخه ده، د یوه موجود نهایي علت.یو موجود په واقعي ډول هغه وخت تحقق کوي، چې هغه د خپل طبیعت بشپړتوب ته ورسېږي، د هغه د فورم ټولیز. فورم په دغه مفهوم سره نارم هم دی، چې یو موجود د هغه له مخې عمل کوي له انسان څخه پرته د نولو موجوداتو ډلې یا صنفونه د هغو په فورم سره تاکل کېږي، یا په فزیکي یا په سیکالوجیکي لحاظ ددې لپاره چې په مشخص ډول عمل وکړي.

یوازې انسان له خپلو ډېرو عملیاتو څخه ازاد دی خو د انسان لپاره هم د فورم یا طبیعت پوره تحقق موخه ده، د هغه د علت نهایي موخه. ارسټو ښودنه کوله، چې انسان هغه وخت چې د خپل اصلي فورم ټول ظرفیتونه تر ممکن حد پورې واقعي کوي، د خپل طبیعت ایډیالي فارم په اخلاقي لحاظ عمل کوي. څنگه چې دې په طبیعي لحاظ یو عقلي موجود دی د خپل د واقعي طبیعت د کشف کولو او پر هغه د پوهېدلو قابلیت لري. ښه انسان باید د خپل رښتیني طبیعت له مخې رښتین توب ولټوي او عمل وکړي هغه عملونه چې د انسان له طبیعت سره مناسب دی هغه موخې ته نږدې کوي دهغه د انسانتوب ترسره کېدل او پوره کېدل.

انسان هغه وخت چې د خپل طبيعت له مخې عمل کوي نور هم کامل انسان کېږي، او خپل فورم ته تحقق ورکوي، يانې د خپل طبيعت اکمال ته د هغه مناسب فعاليت نتيجه چې دغه تحقق ته رسېږي.
يو ډي مونيا (Eudaimonia) کېږي يانې هغه حال چې د انسان خوښي او نيکمرغي کېږي، [هغه نيکمرغي چې د عقل او اعتدال په ژوند کې موندله کېږي] په يوناني ژبه کې تيلوز (Telos) دموخې په مانا دی او څنگه چې د ځان تحقق تيوري انسان خپلې موخې ته نږدې کوي دغه ډول اخلاقپوهنه په عمومي ډول د موخه ييز يا غايوي اخلاق (Teleological) په نامه يادېږي. د اخلاقپوهنې په موخه ييز يا ځان تحقق په تيوري کې د اخلاقياتو د معيار په شان د انساند طبيعت سمه ايډيا د دغه سيستم بنسټ کېږي. ارستو د انساني طبيعت په اجتماعي خصوصيت باندې ټينگار وکړ. انسان يو اجتماعي موجود دی او دی په نتيجه کې خپل با نفوذ ظرفيتونه په ښې تنظيم شوې ښاري ټولنې (Polis) يا په ټولنه کې په همکاري سره منکشف کولی شي، بيا نو ده اخلاق د سياست يوه برخه وگڼله، يانې په يوې ټولنې کې د ساينس له مخې تنظيم شوی او همغږي ژوند کې انساني طبيعت د ارستو په نظر د فعاليتونو يوه ډيناميکه سرچينه ده، او په اخلاقي مسئلو کې به د رياضي دقيق توب تطبيق نه شي. موږ ته حتمي ده، چې د خپلو انسياقاتو او تمايلاتو په منځ کې يو انډول وساتو ددې لپاره چې انساني طبيعت په موږ کې تر ممکن حد پورې انکشاف وکړي. ښېگڼه له موږ سره مرسته کوي، چې خپل طبيعت ته انکشاف ورکړو هغه دغه قدرت راکوي چې ښه او خوښ ژوند وکړو ارستو د نيکو ماچي اخلاقپوهنې (Nichomachean Ethics) اثر کې د ښېگڼو سيستم ډېر او عملي مفهوم شرح کړی دی.

**سان توماس اکويناس:**

سان تاماس اکويناس (St. Thomas Aquinas ۱۲۲۵-۱۲۷۴) تل ارستو د فيلسوف په نامه ياداوه، او په خپلو ليکنو کې ډېر درناوی ورته قايل و، دهغه

فکرونه يې له خپلو فکرونو سره يوځای کړي او په دې ډول يې د ارستو فلسفه په اروپا کې ډېره مروجه کړه.
اکويناس په اصل کې د الهياتو عالم و، نو ده اخلاقياتو ته له مذهبي ګوټ نه کتل خو د هغه اخلاقي تيوري ګانې په مذهبي ليکنو کې په اسانۍ ليدل کېدلی شي، په خاص ډول د هغه په سوما تيلوجيکا (Summa Theologica) کې د هغه نفوذ په اخلاقي موضوع ګانو کې په عيسوي تفکر باندې ډېرونه يوازې د هغه په هم مهالو، بلکه په راتلونکو نسلونو باندې هم اکويناس له ارستو سره موافق و، چې انساني عمل د انسان له نهايي موخې سره په ارتباط لرلو سره راوتلی دی، ټول موجودات د خپل طبيعت له مخې د خپلو ظرفيتونو د واقعي کولو په لور ميل لري، او په نتيجه کې کوښښ کوي خپل طبيعت ته پوره انکشاف ورکړي، ددې لپاره چې خپلې نهايي موخې ته ورسېږي.
انسان د يوه ازاد عقلاني موجود په څېر کوښښ کوي خپل نهايي مقصد ته ورسېږي، نه يوازې د خپل طبيعت په زور بلکه د خپل عقلانيت او ارادې په وسيلې سره هم. عقلاني توب او ازادي هغه بنسټ دی، چې د انسان اخلاقيات او عمل پرې تکيه کوي.
انسان په عمدي ډول خپله موخه ټاکي او په خپلو کړو سره ورته نزدې کېږي، يا له خپلې موخې څخه ګرځي، چې يوازې هغه يې پوره کوي او نيکمرغه کوي، خو د انسان نهايي موخه څه ده؟ اکويناس په دغه نظر و، چې هيڅ محدود څيز انسان راضي کولی نه شي، ځکه چې هغه له خپل عقلانيت او ارادې سره له محدودو څيزونو او له خپل ځان څخه اخوا ځي.
سان تاماس د مذهبي عالم په توګه فکر کاوه، چې يوازې خدای تعالی د انسان غوښتنې او دهغه د عقلانيت او ارادې د عمل قوتونه پوره قانع کولی شي. د انسان ډېر لوړ ښه والی خدای تعالی وي، خو موږ په دغه ژوند کې خدای تعالی ته په پوره قانع کوونکي ډول رسېدلی نه شو، يوازې په بل ژوند کې د خدای (ج) متبرک ليد (Beatific Vision) موږ قانع او راضي کولی شي. دغه متبرک ليد د خدای تعالی عقلاني پوهه ده،چې موږ د خپل شته توب له

اغيزناک او نهايي علت سره نښلوي. انسان د دغسې عملونو په کولو سره چې د هغه له طبيعت سره اړخ لګوي، په اخلاقي ډول عمل کوي او په دغه ډول په بل ژوند کې د هغه د نيکمرغي د پوره ترسره کولو لپاره اماده کوي.

سان تاماس د اخلاقياتو د معيار په بحث کې د "سم عقل" (Right Reason) اصطلاح ډېره يادوي. څنګه چې هغه عقلاني قوه د انسان خاص کرکټر ګڼي نو مونږ د اخلاقياتو او نيکمرغي په موضوع کې په عقلانيت باندې د هغه په ټينګار پوهېدلی شو. دا د عقل له لارې ده چې انسان په خپله موخه پوهېږي، او په نتيجه کې د هغه د ښه توب لپاره په عمدي او شعوري ډول کار کوي خو داسې ډېر پېښيږي، چې انسان په ارادي ډول دغسې څيزونه غوره کوي، چې د هغو لپاره په افاقي ډول ښه نه وي او انسان خپلې موخې ته نه نږدې کوي."سم عقل" د هغه مقصد درک کوي، چې د انسان ظرفيتونه واقعي کوي او انسان خپلې موخې ته نږدې کوي. داسې هم سم عقل د عامل د مشخص شرايط او له نورو کسانو او ټولنې سره د هغه اړيکې تر کتنې لاندې نيسي، او هغه څه غوره کوي، چې د انسان له طبيعت سره مطابقت لري. عقل هغه وخت سم وي، چې د عامل له مشخص طبيعت سره په افاقي ډول مطابقت کوي، او دغسې عملونه غوره کوي، چې د هغه طبيعت په افاقي ډول ترسره کوي او پوره کوي.

د ځان تحقيق يا د ځان درک دغه درې تيورۍ ګانې چې مونږ دلته د بېلګې په ډول يادې کړې، د پېړيو، پېړيو په بهير کې په اخلاقي تفکر باندې نفوذ لرلی او ډېر پلويان يې موندلي دي، په دوی ټولو کې ګډ عنصر دغه دکتورين دی، چې انسان يو مشخص طبيعت لري، او دا چې اخلاقيات د هغو عملونو څخه مرکب دی، چې له انسان سره د هغه د طبيعت د پوره کولو په واقعي کولو کې مرسته کوي. دوی له يوه بل څخه د انسان سره د هغه د طبيعت د پوره کولو په واقعي کولو کې مرسته کوي، دوی له يوه بل څخه د انسان په ميتافزيکي او انساني فلسفي کې سره توپير لري، يانې د واقعيت په پوهاوي کې په عمومي ډول او د انسان په طبيعت کې په خاص ډول. د همدغه دليل

له امله ده، چې د ځان درک ډېرې تيوري ګانې د انسان د طبيعت په پوهاوي او سم تحليل باندې خاص ټينګار کوي.

ځينې يې په خاص ډول ټينګار کوي، چې انسان يوازې د يوه فزيکي يا بيالوجيکي موجود په شان ونه ګڼل شي، بلکه هغه په مناسب ډول په ماده کې روح، عقلاني، ازاد او اجتماعي وپېژندل شي، چې له نورو انسانانو او په وړو يا لويو ټولنو کې په يوه بل د متکي توب اړيکې لري، او په خپل چاپېريال باندې اثر کولی شي، په خپل طبيعت کې مداخله کولی شي، ځان کنټرول او له ځان څخه پورته کېدلی شي، خو دی خپل طبيعت تغيرولی نه شي، بې له دې چې خپل عقلاني او ازاد موجوديت ترک کړي.

له دغې کتنې څخه څرګنده ده، چې د انسان بېلې بېلې فلسفې د ځان تحقق تيورۍ ګانو په کامپ کې دننه د اخلاقياتو بېلو معيارونو نتيجه کېدلی شي.

**د مارکسسي لیننسي اخلاقيات:**

هغسې چې د عيسويت اصطلاح ډېرې عيسوي تيوري ګانې په غېږ کې نيسي، داسې هم مارکسزم ډېرو مارکسسي څانګو ته راجع کېږي، چې ځينې ډولونه يې دادي; کلاسيکي مارکسزم، نيو مارکسزم. نوی چپ، مارکسزم، لينزم او مارکسزم، لينزم، ماوزم. د مارکسيزم ټول ډولونه ادعا کوي، چې دوی دکارل مارکس د ايډياګانو اصلي مشروع تعبيرونه يا انکشافات دي.

په خپله مارکس د خپلو تعليماتو دغسې سيستم پرې ايښی نه دی، چې واضح او مکمل وي هغه که څه هم کاپټليزم او بورژ وازي په قوي الفاظو غندلي او محکوم کړي. خپل اخلاقيات يې مبهم دي، او په خپله يې د اخلاقياتو موضوع په څرګند او منسجم ډول نه ده بيان کړې. نن د مارکسسي تيوري تر ټولو پياوړی مارکسيزم، لينزم دی، چې په يوه مفهوم مارکسزم، لينزم ماوزم په غېږ کې نيسي دغه تيوري د نړۍ شاوخوا څلويښت سلنې خلکو باندې حکومت کوي، د دغه ډول مارکسزم د پياوړتيا له امله به دلته مارکسزم، لينزم په لنډ ډول تحليل شي. دغه دکتورين د شوروي اتحاد، چين او يو شمېر په پښو درول شويو کمونستي رژيمونو رسمي فلسفه ده، په لويديځ

کې ډېر کمونيستي ګوندونه د دغې فلسفې اطاعت کوي خو په دغو نږدې وختونو کې د فرانسې او ايټاليې ګوند په دغه دکتورين کې د ځينو تغيرونو، په خاص ډول د پرولټاريا دکتاتوري او سياسي تعدد وړانديز کړی دی.خو ډېر مشاهدان شک لري، چې که دغه ګوندونه په واک کې شي، دغه تغيرونه به پلې کړي.

لينن د مارکس له ټولو ليکنو سره اشنا نه و او شواهد ښيي چې د ځوان مارکس ليکونه يې ليدلي نه و، چې هغه وروسته چاپ شوي دي. بيا هم هغه د مارکس هغو فکرونو ته چې دی پرې پوهېده، انکشاف ورکړ، او له مارکسزم سره يې په نظر او عمل کې مهمې مرستې وکړې. نورو شوروي لويانو او فيلسوفانو هم خپلې قلمي مرستې پرې ورګډې کړي دي، د ۱۹۵۰ شاوخوا کې و، چې د مارکسسي لیننسي فلسفي ټول جوړښت منظم شو، دغه فلسفه د شوروي اتحاد په رسمي خپرونو کې په څرګند ډول معرفي شوې او د ټولو کمونستي هېوادونو په ښوونځيو کې د حتمي مضمون په څېر يې ښودنه کېږي، چې دغه فلسفه د کمونستي هېوادونو د اجتماعي، سياسي او اقتصادي موسسو او داسې هم د کمونستي اخلاقياتو بنسټ دی. ششکن (Shishkin) د مارکسزم د اخلاقياتو د رسمي متن مولف دی په نامه د مارکسسي اخلاقياتو اساسات خو دغه اثر په انګليسي کې راوتلی نه دی.

د مارکسزم لیننزم د تيوري اخلاقيات د واقعيت په ميتافزيکي دکتورين او هغه د انسان په فلسفه بنا دي. که دغه فلسفه موږ دلته شرح کړو، له اصلي مطلب نه به لرې شو، دلته به يوازې ډيالکتيکي او تاريخي ماټرياليزم په لنډ ډول بيان شي، چې د مارکسزم لينزم دوه اساسي برخې دي.

ډيالکتيکي ماترياليزم د واقعيت ډېر اساسي قوانين شرح کوي او وړانديز کوي، چې ثابته کړي هر موجود څيز ماده يا د مادې محصول دی. څنګه چې ماده د ساينس له نظر څخه له منځ څخه وړل کېدلی نه شي، نو ماده له منځ نه تلونکې نه ده، هغه داسې هم نه تلپاتې او نه خلق کېدونکې ده، چې مانا يې دا کېږي، چې خلق کوونکی وجود نه لري، "طبيعت د هغه خپل علت دی...

چې د مادې فورمول مانا چې طبيعت خلق كوونكي ته اړه نه لري، چې له پاسه وي، چې طبيعت په خپله د تل تر تله توب او نامحدوديت خواص لري، چې مذهبيان يې په غلطه خداى تعالى ته منسوبوي".
د مادې ډېر مهم او تلپاتې خاصيت حركت دى، خو حركت بايد يوازې په فضا كې حركت ونه ګڼل شي، هغه د تغير بېل بېل شكلونه نيسي. ماده ساكنه نه، بلكه ډيناميكه ده، او په نتيجه كې تغير كوي كه موږ د مادې په اساسي تغير پوه شو موږ كولى شو، د تكامل په واقعيتونو او د نړۍ په انكشاف رڼا واچوو. ماركسزم- لينـنزم ادعا كوي، چې د هغه ديالكتيكي د تغير ماهيت په ساينسي ډول شرح كوي.
په همدغه دليل ده چې دغه سيستم د ديالكتيكي ماترياليزم يا ديالكتيكي ماديت په نامه ياد شوى دى، د دياليستيكي ماټرياليزم درې قوانين دا دي;
۱- له كمي نه كيفي تغيرونو ته د انتقال قانون او د هغه برعكس.
۲- د ضدينو د اتحاد اوجګړې قانون ۳ د نفې قانون.

**تاريخي ماټرياليزم:**

د مادي ديالكتيكي قوانين د موجوداتو بېل طبقات توليدوي او د تكامل به يوه پړاو كې متفكر انسان د انسان په هسكېدلو سره تاريخ پيل كېږي، تاريخ د هر بل څيز په شان چې په اصل كې ماده نه وي، د مادې محصول دى په نتيجه كې هغه د ديالتيک په قانون سره اداره كېږي، په تاريخ باندې د ديالتيک د قوانينو پلې كېدل تاريخي ماټرياليزم توليدوي.
تاريخ د افرادو له خوا جوړېږي چې هغوى به يوې ټاكلې ټولنې كې په مختلفو اړيكو كې بوخت دي. ماركسست- لينـنسان د اړيكو دوه ډوله اړيكې سره تميز كوي. اقتصادي اړيكې او اجتماعي ايډيالوجيكي اړيكې. اقتصادي يا مادي اړيكې د بنسټ (Base) په نامه يادوي چې تعريف يې داسې كوي، "د ټولنې اقتصادي جوړښت د يوې ټاكلې ټولنې د توليديې اړيكو ټوله مجموعه" اجتماعي ايډيالوجيكي اړيكې پاسنى جوړښت (Super Structure) نوموي

چې تعریف یې داسې کوي، "داجتماعي ایډیاګانو ټوله مجموعه، موسسې او هغه اړیکې چې له ټاکلې اقتصادي بنسټ څخه را وځي" پاسنی جوړښت د ټولنیزې حادثې له درې ډلو څخه جوړ وي، لومړی اجتماعي، ایډیاګانې خویونه (Moods) اجتماعي احساسات، یانې ایډیالوجي او اجتماعي سیکالوجي، دوهم مختلفي موسسې او تنظیمونه، دولت محکمې، کلیسا او داسې نور.. دریم پاسنۍ جوړښتي ایډیالوجیکیی اړیکې"

بنسټ یا قاعده د تولیدي وسیلو د انکشاف له مخې له لومړني حال نه د پانګه والي د تولید پیچلی فارم سره تغیر کوي. په بنسټ کې تغیرونه په پاسني جوړښت کې تغیرونه راولي چې هغه په دې ډول پوره په اقتصادي فورمیشنونو (Formations) سره ټاکل کېږي. اجتماعي فورمیشنونه یانې اجتماعي سیستمونه چې موږ پکې ژوند کوو، د تولیدي مناسباتو نتیجې دي له دې نه داسې ښکاري چې تاریخ په نهایت کې د مادي تولید په طرزونو (Modes) سره ټاکل کېږي.

مارکسستي لیننستان ادعا کوي چې د بنسټ او پاسني جوړښت دیالکتیکي قانونونه په څرګند ډول ثابتوي چې تاریخ په حتمي ډول د پوره کمونیزم په لور درومي چې دا د سوچه ښه او انسان یې ژوند لپاره د انسان د ټولو بالقوه استعدادونو او غوښتنو اواړتیاوو پوره کېدل دي. لومړی د تولیدي ټولو وسیلو د خصوصي ملکیت په لغو سره سوشلزم مروج کېږي. بیا به سوشلزم دعقلي بنسټ له مخې د تولید تنظیم وکړي. په دې ډول چې د پانګه والي د رکودونو او ضیاع دایرې له منځ څخه یوسي. د تاریخ د دغه پړاو شعار به دا وي "له هر یوه څخه د هغه د توان او هر یوه ته د کار له مخې".

پیسې به ګرد سره له منځ څخه یووړل شي، او د انسان کلتوري اړتیاوې، به وړیا وي. څنګه چې کمښت د حسادت او هر ډول بدیو سرچینه ده، پریماني به د انسان خصوصیت کرکتړ د هغه د ملګرتوب اساسي اجتماعي خاصیتونه، د سولې دوه اړخیزې درناوي ته او نظم ته تغیر ورکړي، او مینه به په فردي او اجتماعي اړیکو غلبه وکړي. دولتي قدرت په تاریخ کې د خپل کېدلو او د یو څه نظم د راوستلو لپاره د یوې وسیلې په توګه رامنځ ته شوی و. څنګه چې په کمونستي ټولنه کې به ځپل نه وي، او د اجتماعي همکاري عقلاني قوانین به

د نوي انسان له خوا په ازاد، او په خوښي سره وساتل شي د قانون پلې کولو د ايجنسي ګانو لپاره به هيڅ اړتيا نه وي. په نتيجه کې دولت به مړاوی شي، او سياسي واک له لاسه ورکړي.

مارکسزم- لیننزم ادعا کوي، چې اخلاقيات د تاريخ په بهير کې د زبېښناکګرو طبقو له خوا ټاکل شوی او په ځېل شويو باندې تپل شوی و، ددې لپاره چې د واکمنو طبقو خدمت وکړي. د اوس او راتلونکو حقيقي مارکسستي اخلاقيات غايوي دی، او د بشريت د ضروري موخې لپاره ټاکل کېږي، ياني په پوره کمونستي ټولنې کې د انسان د ازادي او پوره کېدلو لپاره له دې نه دا نتيجه اخيستله کېږي.چې د اخلاقياتو معيار انساني طبيعت دی، چې د کامل کمونزم له ايډيال سره مطابقت کوي يا د طلايي دورې له راتګ سره په نېغ يا نا نېغ ډول مرسته کوي، د اخلاق له نظر ښه عملونه دي. هغه عملونه چې په پوره کمونزم کې د انسان د کامل توب په مخ کې خنډ کېږي او د تاريخ اکمال ځنډوي په اخلاقي لحاظ شرير او د جنايت عملونه دي.

**ارزونه:**

څرګنده ده چې د مارکسستي لیننستي اخلاقياتو کلي د هغه د واقعيت تيوري ياني ديالکتيکي او تاريخي ماټرياليزم دی. نو د کمونستي اخلاقياتو پوره انتقادي بحث بايد د ديالکتيکي او تاريخي ماټرياليزم په انتقاد بنا وي. دلته موږ يوازې هغه ټکي ښوولی شو، چې د مارکسزم- لیننزم منقدانو په ګوته کړې دي.

دمارکسزم- لیننزم لومړی پرنسيپ چې ټول موجودات ماده يا د مادې محصولات دي، ثابت شوی نه دی، بلکه فرض شوی او بس قانوني شکل ورته ورکړل شوی وي. عصري ساينس د باور وړ يا لږ تر لږه حيرانونکې ډېرې تيوري ګانې وړاندې کړې، چې ښيي کاينات منع لري او ابدي نه دی. دغه بنسټيزه پوښتنه چې يو څه ولې شته او عدم نه شته هيڅ نه ده شوې او ورته ځواب نه دی ورکړل شوی. پردې برسېره د ديالکتيک "علمي" قوانين د ساينس له خوا منل شوی نه دی، حتی کمونستي ساينس پوهانو هم په خپلو څېړنو کې هغه له نظر نه غورزولی دی.

د تاريخي ماترياليزم په اړه به وويل شي، چې په تاريخ باندې د ديالکتيک د قوانينو تطبيق ښه جوړنه راځي او په ټولې نړۍ کې د کمونزم حتمي خپرېدل نه ثابتوي. د مارکسزم لينزم پلويان د تاريخي جبر او انساني ازادي ترمنځ تضاد چې دوی يې دفاع کوي په قناعت کوونکي ډول شرح کولی نه شي.که انسان ازاد وي او تاريخ د هغه له خوا جوړېږي له کمونزم نه غير نور اجتماعي سيستمونه غوره کولی شي. د کمونستي تيسس معما د دغې پوښتنې په پوښتل کېدلو سره په گوته کېدلی شي: "يو څوک ولې کمونستي گوند تنظيم کړي، او د کمونزم د راوستلو لپاره سخت کار وکړي په داسې حال کې چې هغه د تاريخي ضرورت له مخې په خپله راتلونکی دی؟"

اقتصاد پوهان د مارکسستي د مادي څيزونو او خدمتونو د راتلونکي پريماني تيوري سره سخت مشکل لري، که اوسني حال (۱۹۸۷) يوه نښه وي مارکسستي لينسنتي سيستم جدي نيمگړتياوې لري او د راتلونکې پريماني وعده نه ورکوي.

د تاريخ د طلايي دورې بيان چې هلته به ټول خلک په سوشليزم او پريماني سره اصلاح شوی او په نتيجه کې به ښه او سره همکار وي، د غومره خوب او خيال دی چې هغه جدي نيول کېدلی نه شي. شوروي اتحاد په رسمي ډول سوشليزم ته رسېدلی دی نه کمونستي پړاو ته، خو د بې پرې مشاهدانو په وينا تر اوسه هلته په اخلاقي لحاظ نوی انسان هسک شوی نه دی. د کمونستي لويانو له خوا صداقت، هوښياري او سخت کار ته په پرله پسې ډول اخلاقي نصيحتونه او هڅونې هغه علامې دي.چې ښيي د هيله منې "کمونستي اخلاق" غوړېدلو ته لا ډېر وخت پاتې دي. که د مارکسستي لينسي فلسفې له نظر نه د انسان نهايي موخه واقعي نه وي د هغه د اخلاقياتو معيار هم يو تش لفظ کېږي، بې له دې چې کوم افاقي محتوا ولري کوم چې د يوه شخص ژمن توب تحريک کړي.

## د حال اخلاقپوهنه:

د جنگ نه وروستی حال اخلاقپوهنې (Situation ethics) شکل د وجودي يا شته والي فلسفي د (Existentialist Philosophy) په يوه ډول بنا دي، چې ډېره نوميالۍ يې د جان پال سارتر (Jean- Paul Sartre) له خوا وړاندې شوې ده. وجودي يا د شته توب فلسفه دغومره پېچلې او دغومره ډېره اړخيزه ده، چې دلته په يو څو کرښو کې يې بيان کېدای نه شي. د دغې فلسفې اساسي خصوصيت دا دی; چې هغه د انسان د جوهر يا طبيعت د سکون پوهاوي پر ضد د انسان د شته توب ډيناميکي کتنې تـه ډېره توجه غوره بولي. د شته توب هغه ډول چې سارتر يې وړاندې کوي په الحاد بنا ده دی وايي چې انسان موجوديت ته مجبور شوی دی.

د طبيعت قوتونو موږ له رضايت نه پرته راوستلو. زموږ شته توب اول راځي، شته توب په ازادۍ کې. انسان کوم څه چې له ځان څخه جوړوي په خپله په هغه پورې اړه لري نه په يوه ټاکلي طبيعت. انسان په ازادي کې د ځان لپاره ارزښتونه ټاکي او څنگه چې دی په ژوندانه کې وړاندې ځي، دی دغه ارزښتونه د شرايطو يا د انساني ژوند د حال له مخې تعديلوي. نو په اخلاقي لحاظ ښه عمل هغه دی، چې په ازادۍ کې د واقعي حال په نظر کې نيولو سره تر سره شي يو څوک ممکن فکر وکړي. چې د شته والي اخلاقي معيار له اخلاقي مثبتيت سره ورته والی ولري. داسې ښکاري چې يو خارجي مثبت عنصر، تبديلېدونکي حال د اخلاقياتو ټاکونکی عامل وي. خو ځينې هغه وضاحتونه چې سارتر د انسان د "عالمي توب په حال" وړاندې کړې دي، دغه لومړنۍ انتباه يې تعديل کړې ده. د انسان عالمي حال دادی; چې هغه د مجبوريت له مخې په دغې نړۍ کې اوسي او هغه دد ې لپاره چې ژوند وکړي. بايد کار وکړي، ضروري ده چې دی د نورو په منځ کې و اوسي، او هغه تلونکی دی. ازادي او د انسان دغه عالمي حال "د ښه سلوک لپاره د معيار په شان" دغسې نظم توليدولی شي، چې په دغې گڼه گوڼې نړۍ کې ضروري دي. سره له دې هم سارتر ټينگار کوي، چې اخلاقيات پوره عندي دي. د انسان د شته والي ضروري عوامل موږ ته نه وايي چې کوم څيز په افاقي لحاظ سم يا ناسم دی پرهغه برسېره انسان په ژوند کې مقصد نه لري.

انساني ژوند بې مفهومه دی ځکه چې څنګه موږ خپل ژوند په کار او مبارزې سره کوو، او خپل شخصيت ته انکشاف ورکوو، په پای کې حتمي مړينه راځي او دغه ټول له منځ څخه وړي. د سارتر فلسفه په بدلېدونکي نظر بنا ده او زياتره وخت د پوچې فلسفې په نامه يادېږي.

د سارتر د حال فلسفې اخلاقياتو په ارزونې سره يو څوک د هغه په ازادي کې د کامل عندي توب په ټينګار چې يو ډول اخلاقي مثبتيت دی او د هغه د انسان د "عالمي حال" د بيان ترمنځ تضاد ليدل کېږي. داسې ښکاري چې وروستي شيي چې په ژوندانه کې د يو څه نظم ضرورت سارتر مجبوروي چې خپل پوره عنديت پرېږدي او د اخلاقي عمل لپاره يو څه افاقي معيار ومني. داسې ښکاري چې دغه افاقي معيار د انسان طبيعت وي چې دی يې شرح کوي فرق نه کوي، چې دی څومره سخت زيار باسي، چې د انساني طبيعت ايډيا او په شته توب باندې د هغه قدامت رد کوي.

د جوزف فليچر (Joseph Fletcher) يو اثر د حال اخلاقپوهنه، د شلمې پېړۍ په په شپېتمې لسيزې کې په امريکا کې يو تود بحث رامنځ ته کړ، خو په اروپا کې ورته توجه ونه شوه. فليچر د سارتر اخلاقيات ((قانون-ضد)) يا بې قانون اخلاقيات وبلل، نه د حال اخلاقيات. هغه خپل سيستم وړاندې کړ، چې په فکر يې د حال اخلاقيات يو رښتينی بيان دی.

د فليچر په نظر د دغې ښوونځي پلويان "د هغهد ټولنې او د هغې د ميراث اخلاقي شعارونه مني" او "د هغه د مسئلو د رڼاکوونکو" په شان ترې نه کار اخلي خو د حال اخلاقياتو هر پلوی اماده دی چې "په هرې موقع يا حال کې جوړه وکړي يا يې يوې خواته کړي، په هغسې حال کې چې په هغه سره مينه ښه ترسره کېدلی شي." نو له دې نه داسې ښکاري چې له طبيعي قانون او له الهام نه اخوا مينه د اخلاقياتو د معيار نهايي ټاکوونکی دی، په نتيجه کې دا مهم کېږي.

چې واضحه شي، چې مينه څه څيز دی فليچر کوشش کوي، د مينې د درې ډولونو په تميز کولو سره دغه کار وکړي.

اګاپي (Agapee) "مينه ورکول" فيليا (Philia) "ملګرتوب مينه" او ايروز (Eros) "عشقي مينه" لومړنۍ يې مينه ورکول دي، ځوابي يا متقابله مينه نه.ګاونډي درناوی کوونکی. "ګاونډی" دلته د هرچا په مانا دی حتی دښمن

هم دغه ډول مينه د ملګرتوب له مينې او عشقي مينې څخه توپير لري، چې هغه انتخابي او ځانګړې وي. په اخلاقي لحاظ د ښه عمل ايډيالي معيار اګاپي دی خو د مينې هغه دوه نور ډولونه هم زموږ په انساني چارو کې ښه مقام لري.

**ارزونه**

د فليچر تيوري دلته په لنډ ډول بيان شوې ده، له دې امله چې هغه ښه مدلل او په عام ډول پېژندل شوې فلسفه ده، له دې امله هم چې هغه په مينه باندې ښه ټينګار کوي دا به ډېره زړه راکښونکې وي، چې د اخلاقياتو د معيار د مينې په اهميت ټينګار وشي. هڅونکي ښکاري چې وويل شي، داخلاقياتو معيار مينه ده، او دا چې دا زموږ سوچه اخلاقي مکلفيت دی، چې مينه ناک چلند وکړو، خو د يو چا لپاره به دا څه مانا ولري، چې د مينې عمل وکړي؟ د فليچر د نقادانو په نظر کې د هغه د اخلاقياتو ستره ناتواني داده; چې هغه هيڅ کوښښ نه دی کړی، وښيي چې مينه څه شيز دی هغه په خپل حال اخلاقي د اخلاقياتو اثر کې مينې ته يو لس رولونه ورکړي دي.
خو د هغو ځينې له نورو سره په تضاد کې دي ايا د مينې سهم په کوم ډول انساني طبيعت سره ټاکل کېږي؟ موږ څنګه پوهېدلي شو، چې يو عمل په "مينې" سره ترسره شوې يا نه دی شوی؟ دا هغه اساسي پوښتنې دي چې فليچر په واضح ډول ورته ځوابونه ويلي نه دي.

# اتم څپرکی

## د اخلاقیاتو د نارم د کتنې لنډیز

اخلاقي سیسټمونه له یوه او بل نه د اخلاقیاتو په معیار سره چې دوی یې په ځرګندد یا ځنګیز ډول سپارښتنه کوي توپیر لري. خو یو دقیق تحلیل د د دوی له دغو اعترافي توپیرونو سره سره په دوی ټولو کې یوه ګډ عنصر ته ګوته نیولی شي.

دوی د انسان د ښېګنې له پر مخ بیولو سره علاقمن دي او غواړي انساني ژوند نور هم انساني لا ډېر د قناعت وړ او نور هم پوره او مکمل کړي. داسې ښکاري چې ټول اخلاقپوهان په دې اړه چې انسانان څه دي، یو څه ایډیا لري، او غواړي چې موږ د انسان د دغې ایډیا له مخې ژوند وکړو. ددوی د انسان فلسفه تل ځرګنده نه ده خو دا هغه اساسي بنسټ دی، چې له مخې یې دوی اخلاقي تیوري ګانې وړاندې کوي، بیا نو د اخلاقیاتو مانا داسې ښکاري چې انسان باید د خپل طبیعت په دلیل هغسې وي کوم چې دی.

حتی هغه تیوري ګانې هم چې اخلاقیات په باندنیو عواملو بنا کوي کله چې د اخلاقي مثبتیت یې کوي مجبوریږي، چې د انسان په یوې ایډیا اتکا وکړي، دوی باید اعتراف وکړي. چې قانون ایستل په حاکمانه ډول نه کیږي ځکه چې هیڅ ټولنه دوام کولی نه شي، چې د انسان هغه بنسټیزې اړتیاوې او

غوښتنې چې طبيعت يې ورکوي له نظر څخه وغورزوي. په بله ژبه دوی مجبور دی چې د انسان طبيعت په اخلاقي لحاظ د ښه يا بد عمل د اساس په شان تر کتنې لاندې ونيسي.

يو عادي وګړی شرير او بد عملونه "غير انساني" يانې د انسان د طبيعت پر ضد ګڼې او د انسان په انسان کېدلو غږېږي، يا له دې نه غږيږي چې ماشومان يې د رښتينو انسانانو په شان وروزل شي. يو څوک بايد په انساني عزت سره ژوند وکړي، چې دا د انسان د طبيعت لپاره يوه بله کلمه ده. هرهغه قانون يا عمل چې زموږ عزت يا زموږ انسانيت زيانمن کوي بد يا غير انساني ګڼل کېږي.

د اخلاقياتو د معيار په شان د انسان د طبيعت په اړه د دغه اساسي اتفاق علت څه ديحتی که دغه اتفاق کله يوازې په ضمني ډول افاده کېږي، په داسې حال کې چې هغه په څرګند دول نقض کېږي.

داسې ښکاري، چې د دغه اتفاق لپاره دليل دغه حقيقت وي، چې د هغه په مشخص تطبيق کې موږ په دغه مجرد فلسفي پرنسيپ پوهېږو، چې "څنګه چې يو موجود دی هسې عمل کوي" يانې چې ټول موجودات طبيعت لري، چې هغه د دوی د کړو سرچينه ده. ټول موجودات دغسې موخې لري، چې په طبيعت کې يې پرتې وې، چې دوی يې غواړي ترسره کړي. البته انسان خو يو خاص موجود دی، ځکه چې د هغه موخې د يوه نبات يا د يوه غير عقلاني موجود په شان نه دی. دی د خپل عقل او ارادې له امله کوم محدود موجود نه دی (Open Minded) سره له دې هم موږ په انسان کې طبيعي وجودي موخې او غريزې قانونه وينو، چې زموږ له طبيعت سره اړخ لګوي او تقاضا يې کوي. دلته طبيعي وجودي موخې دي، چې موږ پرې سترګې پټولی نه شو. موږ مجبور يو په خپلې غوسې، خپګان او خوابدي غلبه وکړو، موږ اړ يو دغسې عادتونه خپل کړو، چې له موږ سره په ورځنې ژوندانه کې مرسته وکړي او قادر مو کړي، چې ښه انساني ژوند وکړو. موږ مجبور يو له نورو سره کار او ژوند وکړو موږ مجبور يوپه يوې کورنۍ کې پيدا شو، او نور مو

لوى کړي، او وروزي. موږ مجبور يو مهارتونه زده کړو، چې موږ قادر کړي په ټولنې کې ژوند وکړو، او څنګه چې انسانان ژوند کوي، هغسې ژوند وکړو.
حتمي ده چې نا ازاد موجودات د ضرورت له مخې د خپل طبيعت مطابق عمل وکړي. انسان چې ازاد دی د خپل طبيعت پر ضد کېدلی شي، دی غير عقلاني او د ټولنې پر ضد عمل کولی شي.
خو دی بايد داسې ونکړي په دې چې دی خپل ځان په خپل انسانتوب کې سپک کوي، دی له انساني موجود څخه لږ کېږي. له بلې خوا دی د خپل طبيعت له مخې په عمل کولو سره خپل انسانتوب پياوړی کوي، نور هم انسان کېږي. انسان پوره يا مکمل پيدا شوی نه دی.خو دی د لويېدلو په بهير کې د کامل انسان ايډيا لږو ډېر درک کولی شي، هغه وخت چې دی هغه عملونه کوي، چې دده له طبيعت سره مطابق يا يې پر ضد وي.
بيا نو داسې ښکاري چې زياتره اخلاقي سيستمونه انساني طبيعت لږ تر لږه په ضمني او مبهم ډول د اخلاقياتو معيار ګڼي او زموږ له ړومبنۍ کتنې څخه نتيجه اخيستله کېږي.چې دا منطقي ده وويل شي چې د اخلاقياتو اخلاقي معيار د انسان طبيعت دی.
مهمه دا ده چې د انسان د طبيعت په اړه پوهاوی سم وي او د انسان طبيعت د يوه يا بل اړخ د معيار په شان ونه ګڼل شي، انسان په ماده کې روح دی. له بدن او روح څخه جوړ دی. دا بايد داسې ونه ګڼله شي، چې موږ دواړه په ګډه سره اچول شوي يو، حيوانات او روحانيت لکه يو ساندوچ چې وچه ډوډۍ او غوښه سره يو ځای شوي وي. يوه بېلګه به راوړو. اوبه د اکسيجن او هايډروجن ترکيب دی، خو د دغه ترکيب محصول يو نوی موجود دی، چې هغه مايع دی. انسان په ماده کې روح يو نوی موجود دی، نه ماده او نه روح. هره برخه يې د خپل طبيعت قوانينو ته اطاعت کوي، د انسان د طبيعت په اړه د دوه ګون تفکر نتيجه دا کېږي، چې اخلاقيات يا له بيالوجيکي قوانينو يا د سوچه روح له قوانينو سره يا يو ځل له يوه او بل ځل له هغه بل سره مطابقت وکړي بې له کوم يو ډول والي يا ثابت والي څخه.

د انسان طبيعت باید پوره وپېژندل شي، له ټولو ترکیبي عناصرو سره لکه عقلانیت، ازادي، اجتماعي کرکټر د یوه بل پر اتکا اړیکې انسان د پلان کوونکي په شان. د ځان کنټرول کوونکي او له ځان څخه دباني موجود په شان. د انسان طبیعت ډینامیکي دی ځای پر ځای ولاړ نه دی. دی هغسې کتل کېدلی او تحلیل کېدلی نه شي. لکه ماده چې په لابراتوار کې کېږي. د هغه طبیعت بېل لیدل کېدلی نه شي. او د هغه د طبیعت برخې په علمي توګه یو ځل او د تل لپاره فهرست شوی دی. انسان یو نوښتګر، ځان تحول کوونکی او له ځان څخه لوړ کېدونکی موجود دی. دی خپل طبیعت ته د خپل عقلانیت او د خپل علمي نوښتونو یا مخلوقاتو له لارې رسېږي. مسئله دا ده; چې دغه ځان اداره کوونکی هوښیار دی یا نه دی چې خپله ازادي او عقلانیت د انسان اساسي خصوصیتونه ډېر وي چې له هغو نه پرته به یې انسانتوب ترک شي. انسان داسې هم د خپلې موخې په اړه ډینامیک دی لکه چې تل زیار کاږي له ځان څخه پورته شي، او دغه واقعیت نه منې چې ده خپل بالقوه یا ذاتي استعدادونه واقعي کړي دي. دی په دې هیڅ قانع نه دی چې داسې نور څه نشته چې دی ور رسېدلی نه شي. د هغه هیلو ته پای نه شته نامحدودیت پرې حساب کوي، لکه چې دی:

انسان که څه هم په خپل ماهیت کې مداخله کولی شي، خو هغه سره له دې هم پوهېږي په خپل موجودیت باندې نامحدود قوت نه لري. دی حتی د خپل طبیعت د عملیاتو درک نه کوي چې د هغه حافظه د هغه عقلانیت او اراده کار کوي. څنګه باندني حرکات د غبر، رڼا، بوی او داسې نورو په محسوساتو عمل کوي. په بله ژبه انسان یو تابع موجود دی. دی په ډېرو قوتونو ډډه کوي، چې یې کنټرول نه کوي او مسلمه ده، چې دی خپل طبیعت او د خپل موجودیت قوانین نه ټاکي.

ملحدان او هغوی چې په خدای تعالی ایمان نه لري، او د موجودیت له ممکن توب نه یې انکار هم نه کوي (Agnostics) به ووایي چې موږ د کایناتو په ړندو قوتونو اتکا کوو. له بلې خوا د خدای تعالی معتقدان به زموږ د شته

توب علت او زموږ د ژوندانه نهايي موخه شرح کړي. پـه دغـه ډول چـې دوی به يوه عقلاني، له موږ نه پورته موجوديت ته گوته ونيسـي چې د کاينـاتو ټـول قوتونه په هغه باندې اتکا لري. له دغه قوت سره زموږ اړيکې زموږ د طبيعـت يوه برخه او يو جز دی. يو څوک مجبـور دی هغـه قـوت يـا بـل پوهـاوی غـوره کړي، چې موږ پرې باندې ډډه کوو. موږ تل نه شو کولی خپل عملونه د خپـل شته توب نهايي عقل ته راجـع کـړو، خـو پـه ځينـو حـالاتو کـې د يـوه عمـل د اخلاقياتو په ټاکلو کې زموږ د طبيعت نهـايي بنيـاد پـه نظـر کـې نيـول بـه يـو ټاکلی عامل وي.

نهايي قـوه يـانې زمـوږ د موجوديـت ميتـافزيکي بنسـټ پـه عـين حـال کـې د اخلاقياتو نهايي معيار دی، ځکه چې دا هغه دليل دی، چې موږ هغسې يو چې يو. خو دا يو عملي او ډېر نـزدې معيـار نـه دی، ځکـه چـې مـوږ دغـه قـوه پـه مشخص او کافي اندازه نه پېژنو.

## انساني طبيعت او تاريخ:

ساينس د تيرو او کانونو عمر ټـاکي او وايـي;چـې هغـه د مليـاردونو کلونـو پـه بهير کې په اساس کې بې له تغير نه په خپل حال پاتې شوي دي، خـو ژونـدي عضويتونه د تکامل، د تيوري له مخې تغير او انکشاف کـوي. انسـان د تکامـل د اوږدې پروسې پای دی. ايا د تکامل دغه ليکه قطع شـوی پـه دې ډول چـې عصـري انسان له ابتدايي انسـان څخـه تـوپير کـوي؟ ايـا د انسـان د طبيعـت انکشاف لا هم هماغسې روان دی؟ دغه پوښـتنه د اخلاقيـاتو لپـاره مهمـه ده، ځکه چې انسان په طبيعت کې د تعبيرونو مانا به د اخلاقياتو تعبير هم وي.

د انسان طبيعت د انساني سلوک د رښتين توب يا غلط توب معيار دی. ايـا د انسان طبيعت هغه و، چې د عصـري انسان طبيعت دی؟ دا خو څرگنـده ده، چې دواړه انساني موجودات دي او دا چې دوی لـه دغـه اړخ نـه سره يـو دي، سره له دې هم د دوی ترمنځ ډېر توپير شته. مـوږ لـه بنسـټيز طبيعـت څخـه

غږېدلی شو خو موږ باید د ستر توپیر یادونه هم وکړو.څه وخت چې د انسان طبیعت د اخلاقیاتو د معیار په شان ګڼو موږ مجبور یو دغه توپیر په نظر کې ونیسو.

د انسان طبیعت ډینامیک دی. اګنیس لیپ (Agnace Lepp) لیکلي چې دا د انسان طبیعت دی چې "له خپل طبیعت نه په پرله پسي ډول پورته لاړ شي یا کوښښ کوي، چې پورته شي. نه دا چې له طبیعت څخه ځان پوره بېل کړي بلکه د دې لپاره چې یو نوی حالت ترلاسه کوي" تر هغه ځایه چې موږ پوهېږو له هغه وخت نه چې انسان هومو سه پیین (Homo Sapien) یانې متفکر حیوان شوی له بیالوجي نظر څخه یې تغیر نه دی کړی. هغه وزرونه نه دي پیدا کړي، چې والوزي خو د هغه ذکاوت الوتکې، هوایي کښتۍ ګانې جوړې کړې چې له مرغیو نه چټکې الوزي د هغه اورېدل او لیدل نور هم ګړندي شوي نه دي،خو ذکاوت یې تلیفون، تلویزیون او رادیو جوړه کړې، چې د غوږونو او سترګو ساحه یې پراخه کړي. د هغه مرانده یا عضله نوره هم پیاوړې او کلکه شوې نه ده، خو ماشینونو د هغه قوت یو ملیون کرته ډېر کړی دی. انسان د شپې تیاره رڼا کوي او نور نود شپې او ورځې په بدلېدلو سره محدود نه دي. دی خپل هستوګنځی تودوي او سړوي ددې لپاره چې د موسمونو د تغیر له اثر نه خوندي وي. هغه خپل چاپېریال د ښې یا بدې لپاره اړولی او په دغو سره متاثر شوی، چې یې راوړی دی، دهغه عقلي او ازاده اراده د دغو ټولو تغیرونو علت دی، خو د انسان دغه دوه اساسي جوړونکي عناصر په اصل کې د پخواپه شان دي له هغو نه پرته انسان نه شته دی.

موږ باید پوه شو، چې له بیالوجیکي او فزیکي بدلونونو څخه اخوا نور تغیرونه هم شته دي، خپلمنځي تغیرونه انسان متاثر کوي، او کله کله د هغه پر طبیعت باندې یو څه اضافه کوي. د بېلګې په ډول د یوه انسان د خاصیتونو ټولیزه د هغه په واده کولو یا د هېواد په ولسمشر کېدلو سره تغیر کولی شي، سره له دې چې په دغو حالاتو کې کوم فزیکي تغیر شته. د انسان مشخص او فردي جوهر په دغه اړیکو سره تعدیل شوی دی او دغه تغیر شوی

طبيعت به د واده کړي جوړې يا يوه ولسمشر د ډېرو عملونو رښتين توب او ناسم توب وټاکي لکه د متاهل توب په اړيکو کې وفا يا بې وفايي يا د دولت مشر په توګه د مسئوليتونو ترسره کول. يو څوک چې زده کوي څنګه دالوتکې پيلوټ شي، يا موټر وچلوي تغيرونه کوي په اصل کې دی د پخوا په شان وي خو دغه مهارت د هغه طبيعت متاثر کوي تر دې چې د هغه د عملونو اخلاقيات به هم متاثر شي يو ماهر پيلوټ به يوه الوتکه وچلوي په داسې حال کې چې له دغه مهارت څخه پرته بل څوک به په اخلاقي محاظ له مساپرو څخه د ډکې الوتکې د قومندې ورکولو مسئوليت په غاړه وانخلي انسان له هغې ورځې څخه چې په دغې کرې کې هسک شوی دی، ډېر تغير کوي او دغو ټولو تغيرونو د هغه مشخص طبيعت ته يو څه تغير ورکړی دی.

خو د انسان په طبيعت کې دغه همېشګي تفسير نسبي اخلاقياتو ته نه متهمې کېږي؟ که دغه تغيروونکي عناصر د اخلاقياتو د تغير يوازنی عوامل وو، دا به په نسبي حالت واوړي خو لکه چې جان مک کواري (John Macquarrie) وايي "ځينې همېشه توبونه (Constants) شته چې خپل ځانونه د تغير په حال کې ساتي. دا چې د انسان او طبيعت د ولاړې ايډياګانې په نورو ډيناميکو ايډياګانو سره ترک کړو، په دې مانا نه ده چې نظم او جوړښت ايډياګانې، ايسته غورځول شوې يا دا چې هر کلتور او هره ټولنه تر هغو لا کم هر فرد د اخلاقي ارزښتونو يوازنی جوړوونکی او حکم ګرځېدلی دی".

د انسان د طبيعت ډيناميک مانا داده چې هغه د يوې اليکترونيکي وسيلې په شان نه دی، چې اخلاقيات د لابراتوار ازموينې په دقيق توب سره اندازه کولی وشي. موږ بايد له دقيق قضاوت څخه کار واخلو او هغه ډېرې اړيکې په نظر کې ونيسو چې د تاريخ په بهير کې يې انسان متاثر کړی وي. زياتره معاصر پوهان د انسان د طبيعت په تاريخي توب ټينګار کوي، چې د طبيعت د نه تغيرېدونکې او اساسي خاصيتونو په شان د اوړېدونکې نړۍ په بدلېدونکو شرايطو باندې تطبيق مومي.

(نوې فقره) په ړومبني څپرکي کې وويل شول چې موږ د انسان په طبيعت کې د وجودي موخو کشف کولی شو. ددې لپاره چې انسان ژوند وکړي، ځينې موخې شته چې موږ بايد ورته ورسېږو. د بېلګې په ډول موږ مجبور يو د ځان کنټرول او اجتماعي همکاري توب ځينې درجې ترلاسه کړو. موږ مجبور يو په زده کړې سره د پوهې ډېر مقدار حاصل کړو، چې په هغې سره په پېچلې ټولنه کې مناسب ځای خپل کړو، او پکې ژوندي پاتې شو.
دغه برخيزي وجودي موخې تر څه حده د انسان موخه ښيي چې د هغې ترسره کېدل بايد په دغسې عمل سره وشي، چې د انسان له طبيعت سره برابر وي، خو دا به ګرانه وي، دغسې يو کس ومومو چې هغه به په رښتيني ډول ويلی وشي، چې د انسانتوب پوره توب ته رسېدلی وي، خو که موږ د انسان د طبيعت موخه په مشخص ډول درک کولی نه شو، نه پوهېږو اوتجربه يې کولی نه شو، څنګه کولی شو له هغه نه د اخلاقي توب د اندازې په شان کار واخلو؟ داسې ښکاري چې موږ په يوې شريرې دايرې کې بند شوي يو.
د دغه اعتراض ځواب به دا وي، چې انسان يو ډيناميک واقعيت دی يا نې چې دی په خپلې موخې کې محدود نه دی او کوښښ کوي، چې د خپل طبيعت په تقاضا ځان نور هم هسک کړي. يو کور هغه وخت تکميل کېږي، چې د نقشې له مخې يې وروستۍ خښته پر ځای کښېنوله شي، حتی وده کوونکي عضويتونه لکه ونې د خپلو ظرفيتونو اخري حد ته رسېدلی شي. چې له هغه څخه اخوا وده کولی نه شي. خو انسان په دغه مفهوم سره نه تکميل کېږي، دی تل ددې استعداد لري، چې دکمال له هغې درجې څخه چې دی ورته رسېدلی دی، نور هم وړاندې لاړ شي سره له دې هم موږ يو څه کولی شو، هغه موخه درک کړو، چې دی کوښښ کوي په خپلو خاصو فعاليتونو سره ورته ورسېږي.
د انسان رښتينی طبيعت په هغو بېلو فعاليتونو سره څرګندېږي، چې د هغه انسانتوب ډېر وي، او په دې ډول دی د خپلو ظرفيتونو کمال ته

نږدې کوي. په نتيجه کې حتی که موږ د هغه د بالقوه ظرفيتونو پوره اکمال نه وينو موږ د انسان له طبيعت څخه د اخلاقي توب د معيار په شان هغومره استفاده کولی نه شو چې پوهېږو چې د انسان ځانګړي عمليات کوم دي. (کمال نه وينو، موږ د انسان له طبيعت څخه د اخلاقي توب د معيار په شان هغومره استفاده کولی نه شو، چې پوهېږو چې د انسان ځانګړي عمليات کوم دي؟)

سان تاماس د انسان طبيعت نه په پورته تللو باندې پوهېده او فکر يې کاوه چې انسان په دغې نړۍ کې خپل کمال او نيکمرغي ته رسېدلی نه شي. ده ددې وړانديز وکړ، چې انسان يوازې له نامحدود يانې له خدای تعالی سره په اتحاد کې له نيکمرغي نه په ډک حالت کې د خپلو ظرفيتونو بشپړتوب ته رسېدلی شي. مارکسست لينستان له "مطلق راتلونکي" څخه غږېږي چې په هغې کې به د ټولنې ټول غړي وکولی شي خپلو ټول استعدادونو او ظرفيتونو ته تر اخري کامل حد پورې انکشاف ورکړي چې په نتيجه کې په يوې کاملې ټولنې کې به نيکمرغي ته ورسېږي.

ايا انساني طبيعت دغسې يوغير عملي او په نهايي درجه يو پېچلی نارم نه دی، چې حتی د متخصصانو له خوا به هم په سختۍ سره پېژندل کېدلی وشي؟ داسې ښکاري چې د انساني طبيعت له پېچلتوب سره سره موږ د هغه د لويو عملياتو له مخې يو څه پرې پوهېږو، زموږ وجدان ته زموږ طبيعت مشخصو يا خاصو عملياتو نه غير بل څيز هغومره نږدې نه دی، او موږ د هغو خصوصيتونه، لوی طبيعي قوتونه او د انسان ميلونه په نيغې تجربې سره درک کوو. دغه واقعيت به ددې دليل وي چې د اخلاقي ژوند د عمده قوانينو په اړه يو څه عالمي اتفاق شته.

هغسې چې د واقعيت په هکله د انسان پوهه له يوه نسل نه و بل ته په وار وار ډېرېږي. داسې هم د انسان د لږ څرګندو او ډېرو پېچلو عناصرو په اړه يو دغه ډول پوهاوی ډېرېږي د انسان په طبيعت پوهاوي يوه جاري پروسه ده او د انسان ټول ساينسونه په دې اړه چې انسان په رښتيا څه څيز دی، زموږ له

پوهاوي سره مرسته کوي. د انسان د طبيعت لا ښه پوهه به مـوږ قـادر کـړي، چې د اخلاقي توب په پېچلو مسلو قضاوت وکړو، چـې د سـاينس انکشـاف پـه خاص ډول په بيالوجي سره په دې نږدې وختو کې زموږ پـه ژونـد مـروج کـړی دی.

# نهم څپرکی

## له نارم سره د انساني عمل پرتله کول

د اخلاقي توب معیار له بحث نه وروسته به د عملي میتود د انکشاف مسئله ترکتنې لاندې ونیوله شي، ددې لپاره چې اخلاقي تـوب یـې کشـف شي او پـه هغه سره موږ وکولی شو، انساني عمل له نارم سره پرتلـه کـړو. د نـارم تطبیـق په یوې مشخصې موضوع باندې کومه دقیقه لابراتواري موضوع نـه ده لکـه د یوه کیمیاوي ترکیب ټاکـل. دا یـو څـه پېچلـی تحلیـل دی، چـې ښـه سـوچ او دقیق قضاوت غواړي.

ددې لپاره چې دغه څېړنه اسانه شي ښه به داوي چې یو عمل د اخلاقي تـوب له نارم سره یو په بل پسې پـه خپلـو ترکیبـي عنصـرونو سره تړـه شي، خـو یـو څوک باید ښه څېر وي، چې د یوه عمل عنصرونه په دغـه ډول بېـل کـړل شي، چې د یوه عمـل اتحـاد لـه مـنځ څخـه یـو نـه وړل شي او پـه دغـه ډول غلطـې نتیجې ترلاسه نه شي. معمول دا دی؛ چې یو انساني عمل په لانـدې عصـرونو ویشل کېږي.

۱- د عمل موضوع، یا دا چې هغه څه چې کوو، لکه په یوه څلور لاري کې له یو څه وړانده سره مرسته کول، یا د هغه لـه جیـب څخـه پیسـې اخیسـتل، دروغ ویل یا رښتیا ویل، په خپله خوښه په یوه روغتون کې کار کول یا سینما ته تلل.

۲- د يوه عمل محرک يا مقصد چې يو څوک عمل کولو ته هڅوي لکه دروغ ويل ددې لپاره چې له يوه ناوړې وضعې نه ځان وژغورل شي، يا د يوه کس د ژوند ژغورل په داسې حال کې چې کوم لېونی درپسې گرځي.

۳- هغه حالات يا شرايط چې دغو پوښتنو ته ځواب وايي; لکه څوک؟ څومره، وېره او د چا لپاره؟ د بېلگې په ډول هغه څوک چې يو عمل ترسره کوي ممکن د يوه هيواد ولسمشر يا عادي فرد وي، دغه واقعيتونه به د هغه عمل اخلاقي توب متاثر کړي. د يوه هېواد ولسمشر څه وخت چې ضروري ملي مسئلې بايد فيصله کړي. د گلف لوبه ونه کړي. د غلا بدي به د غلا په مقدار سره زيات شي، چېيو څوک له يوه بې وزلي څخه يا له يوه شتمن شرکت څخه غلا کوي. يو څوک بايد شرايط په ځير سره وگوري، ځکه چې ټول شرايط د يوه عمل اخلاقي توب متاثر کوي. ځينې شرايط تر هغه ځايه چې د يوه عمل په اخلاقي توب پورې اړه لري پوره بېځايه وي.

د يوه عمل د اثرونو نتيجې په دقيق ډول د عمل برخه نه ده. خو څنگه چې هغه په واقع کې شامل وي، د همدغه عمل له امله وي دغه نتيجې پخوا له پخوا پوهېدل کېدلی يا نه پوهېدل کېدای شي. يو څوک د ملگرو له خبردارېو سره سره د الکولو څو پيالې له ستوني تېروي، يا چرس څښي او خپل موټر ځغلوي، او بيا له ترافيکي پېښې سره مخ کېږي. يا يو څوک پوره په حال وي خو بيا هم ترافيکي پېښه پېښېږي. يوه اتحاديه له حد څخه د ډېرو اجورو او تقاعد دعوا کوي او ښار مفلس کوي او ټولو ښاريانو ته بې حسابه زيانونه اړوي. که دغه اتحاديه او د ښار چارواکي د نتايجو په پايلو پوهېږي دوی د دغه عمل د ناوړو نتايجو مسئول دي. په عمومي ډول يو څوک د هغو د مخه پوهېدونکو نتايجو مسئول دي، چې د هغه له عمل څخه نېغ راولاړېږي نو هغه چا چې اصلي علت اراده يې کړې وي، د نتيجې اراده يې هم کړې وي، موږ به دلته په هغو پايلو بحث وکړو چې ځينې يې ښې او ځينې يې بدې دي. يو عمل چې د مقصد يا نيت له اړخ څخه ښه وي که محرک يا شرايط يې بد وي بد کېږي. د بېلگې په ډول يو چاته چې له مالي نظر نه په سخت حال کې

وي ډېرې پيسې ورکول په دغه نيت چې وهڅول شي يوه بد او عادل قانون تـه رايه ورکړي د خير له دغه عمل نه رشوت جوړوي.

يوعمل چې په ماهيت کې بې تفاوت وي خپل اخلاقي خصوصيت بـه له محرک يا له شرايطونه د ځان کړي. د سگرټ څکول به يو بـې تفـاوت يـا نـا مشخص عمل وي خو که په څکلو سره يې يو مجرم بانک وهي، علامه ورکـوي، يو بد عمل کېږي او هغه څوک چې دغه کار کوي د مجرم ملگرى کېږي.

څنگه چې يوه شريره انگېزه د يوه عمل ښه والي لـه مـنځ څخـه وړي يو څوک به وهڅول شي، چې ووايي د دغه پرنسيپ معکـوس هـم د اعتبـار وړ دى ياني ښه نيت يا ښه مقصد به د يوه بد عمل خصوصيت ته تغيـر ورکـړي. په بل عبارت پوښتنه به وشي، چې کـه يـوه ښـه موخـه يـا مقصـد بـده وسـيله جايزه کوي، يا لکه چې دغه مطلب په لنډ ډول دغسې عام شوى دى، چې کـه هدف وسيله جايزه کوي، ايا د فلسطين نيشنلستان په حقـه دى، چـې د خپـل هيواد د ازادولو په لار کې په اولمپيک کې يو شمېر لوبغاړي ووژني؟ ايا د کرو وات خلک مجاز دي ددې لپاره چې نړيوال په خپل هېواد کې دننـه د حقوقـو نقض ته متوجه کړي د سپرليو الوتکه وتښتوي؟

يوازې ښه نيت کافي نه دى، چې د يوه عمل بـدي تـه تغيـر ورکـړي ځکه چې يو څوک بايد نيت د يوه بېل ژوندي واحد په شان ونه گڼي. يو څوک بې له دې چې اراده وکړي د مقصد اراده کولى نه شي، په هغه حال کـې چـې وسيله په ماهيت کې بده ده يو څوک د مخه د هغه څـه نيـت کـوي، چـې پـه اصل کې غلط وي. ښه نيت په بدي سره چې يو څوک يې عملي کوي، له مـنځ څخه ځي که د يوه عمل د ټول جوړښت يو عنصر بدوي دغه عمل ته ښه ويـل کېدلى نه شي. که ته د تيلفون نومرې ووهې چې يو نمـبر يـې غلـط وي تـا بـه غلط نمبر وهلى وي.

خو کله د اغېز عقلي ښکاري چې د ډېـر ښـه والي لپـاره بـده وسـيله غوره نه شي. ايا يـو څـوک مکلـف دي د حقيقـت پـرخلاف ونـه غږېـږي ددې لپاره چې د يوه معصوم ژوند وژغوري، چې يو لېونى يې غواړي.

ددغې قضيې او نورو ورته قضيو د حل لار د وسيلې په تحليل کې موندل کېدلی شي. ايا د رښتيا نه ويل په رښتيا بد دی؟ د "دروغ" کلمه لا د مخه دغه مفهوم لري، چې هغه په اخلاقي لحاظ يو غلط عمل دی. ايا موږ د رښتيا نه ويل او د دروغ ويل ترمنځ توپير کولی شو، په دې ډول چې د نا رښتياتوب مانا به په ټولو حالاتو کې غلط نه وي؟ يو څوک بايد متوجه وي، چې د يوه عمل مقصد به ډېر پېچلی کېدلی وشي. دقيق تجليل به دغه پېچلتوب څرګند کړي. د انسان طبيعت چې د اخلاقي توب د معيار په شان وګڼل شي او د رښتيا ويلو په موضوع باندې تطبيق شي، موږ د غو ملاحظو ته رسوي. انسان يو اجتماعي مخلوق دی. د هغه جسمي، ذهني او روحي ضرورتونه د هغه تر فردي قوتونو څخه دغومره ډېر دی، چې هغه يې يوازې له نورو سره په همکاري سره رفع کولی شي. له دغه واقعيت څخه مونږ دغسې نتيجه اخيستلی شو، چې په انساني ژوند کې يو ضروري اړخ دوه اړخيز اعتماد دی ځکه چې له هغه نه پرته به همکاري ممکنه نه وي. ددې مانا داده؛ چې موږ مجبور يو له نورو سره په پوهاوي کې رښتيني اوسو او دا چې په نتيجه کې د ټولنې ټول غړي په عمومي ډول د رښتين توب حق لري. خو هر حق د نورو په حقونو او مکلفيتونو سره محدود کېدلی شي. يو څوک چې د رښتين توب د حق په استفادې سره مرسته نه کوي بلکه نورو ته ضرر رسوي له خپل حق څخه ناوړې ګټې اخلي. هغه د دغه حق د تشبيت کولو دليل مسخ کوي. هغه په نتيجه کې دغه خاص رښتين توب ته خپل حق له لاسه ورکوي او ضرور نه ده، چې هغه ته رښتينی ځواب ورکړل شي. په دغه خاص حال کې رښتيا نه ويل به د اخلاقي توب دنارم په شان د انساني طبيعت پر خلاف تمام نه شي. د هغه ليوني بې لارې کول چې غواړي د يوه چا ژوند له منځ نه يوسي، د بدي عمل نه دی او نه بايد هغه د رښتين توب پر خلاف وګڼل شي. دغه ډول تحليل ډېر اخلاقپوهان هڅوي چې دروغ ويل داسې تعريف کړي، چې هغه يوه کس ته د رښتين توب انکار دی، په داسې حال کې چې هغه رښتين توب ته استحقاق لري. د دغه تعريف له مخې دروغ ويل نه يوازې د تېر

ايستلو په نيت د نه رښتين توب ويل دي بلکه هغه بايد توصيف شي، چې يـوه شخص ته چې رښتين توب ته حق لري، رښتيا نه ويله کېږي.

بايد وويل شي چې په دغې موضوع کې ښه موخه دغه بده وسيله نه جايزه کوي ځکه چې دغه وسيله په اصل کې بده نه ده.

يو څوک  د ورته قضيو په حل کولو کې د وظيفو د ټکر پرنسيپ ته مـخ اړولـی شي. هغه وخت چې دده وظيفـې لکـه رښـتيا ويـل، او د يـوه معصـوم سـړي د ژوند ساتل سره په ټکر کـې وي، ډېـره پيـاوړې او لا ډېـره مهمـه وظيفـه غلبـه کوي يا بايـد وړه بـدي غـوره شي. دغـه پرنسـيب پـه دغـه فکـر بنـا دی، چـې اخلاقي توب له عقلاني انساني طبيعت سره د يوه عمل لـه نتيجـې سره توافـق دی. په بله ژبه اخلاقي تـوب پـه مـوږ بانـدې سره متناقضــې وظيفـې تحميـل کولی نه شي، ځکه چې هغه به يو غير عقلاني مکلفيـت وي. پـه دغـو وختونـو کې د عامه چارواکو له خوا دغه وېـره ښـووله شـوې ده، چـې مجرمـان ممکـن اتومي وسلې غلا کړي، يا دغه مهارت ترلاسه کړي، چـې خپلـه يـو ابتـدايي بـم جوړ کړي او بيا ممکن يو ټول ښار يا ټول ملت وګواښي چې د هغه يوه اخلاقـي ضد مطالبه ومني. داسې وګڼئ چې يوه مجرم چېرتـه د نيويـارک ښـار د مـين هاټن په برخه کې يو بم ږدي، او په ښاروال باندې غبږ کـوي، چـې کـه د هغـه دغه غوښتنه ونه منله شي، په پنځو ګړيو کې بـه بـم وچـول شي. داسـې دېـو ګڼې چې دغه مجرم د پوليسو ګوتو تـه ورغـی او هغـه انکـار کـاوه، چـې د بـم ځای نه ښيي ايا پوليس به مجاز وي هغه وکړوي چې حقيقت ترې نه تر لاسـه کړي؟ دلته دوه وظيفې سره ټکر کوي. دغه وظيفـه چـې هـېڅ څـوک بايـد پـه انساني ضد دول ونـه کـړول شي، او دغـه وظيفـه چـې د ښـار او ممکـن د څـو مليون انسانانو ژوند وژغورل شي، هغه وخـت چـې دوه سره متناقضـې وظيفـې ترسره کېدلی نه شي، يو څوک بايد هغه ډېره مهمه وظيفه غوره کړي، او هغـه بله بيا د کلمې په رښتيني مفهوم سره خپل مکلف توب له لاسـه ورکـړي. سره له دې هم موږ بايد ځير اوسو او زيـار وباسـو، چـې کـه ممکنـه وي د رښـتيني

ژوند مشکل د دواړو مکلفیتونو په ترسره کولو سره حل کړو سره له دې هم موږ باید ځیر و اوسو او زیار وباسو.

## د دوه ګون اثر پرنسیپ:

د یوه عمل د پخوا تر پخوا د فکر شوې بدې پایلې په قضیه کې به کله د دوه ګون اثر یا محصول له موږ سره مرسته وکړي چې پرېکړه وکړو چې که موږ مجاز ګرځوي دغه عمل وکړو یا ونه کړو. د اخلاقپوهانو نسلونو د دوه ګون اثر یا محصلو پرنسیپ لپاره قوانین منکشف کړي دي. دغه قوانین په دغه دکتورین بنا دي چې موږ مکلف نه یو په نړۍ کې د ټولو بدیو مخه ونیسو. څرګنده ده، چې موږ ټولې بدې ګانې له منځ څخه وړلی نه شو. په نتیجه کې مونږ مکلف نه یو، دغه کار ته ملا وتړو ځکه چې هیڅ څوک مکلف کېدلی نه شي، چې موږ یې مخنیوی کولی نه شو یا له دې امله چې هغه به په بې حسابه اندازه ګران وي، چې یې مخنیوی وکړو د دغسې عمل په نه کولو سره چې هغه به زموږ د ښېګڼې لپاره ډېر مهم وي.

د دوه ګون محصول پرنسیپ مانا داده چې یو عمل دوه د مخه لیدونکي پایلې لري، چې یوه یې ښه او بله یې بده ده. د دغه پرنسیپ له مخې موږ مجاز یو دغسې یو عمل وکړو چې پایلې به یې په لاندې حالتونو کې بدې وي.

۱- هغه عمل چې نیت لرو تر سره کړو په ماهیت کې ښه یا لږ تر لږه بې تفاوت نه وي، او که نه موږ به په غلطه لار روان یو او دغسې بدکار به وکړو، چې اخلاقي قانون منع کړی دی.

۲- دا چې ښه او بد اثرونه یا نتیجې په عین حال کې له دغه عمل څخه راولاړېږي او ښه د بدې نتیجه نه ده. دغه وروستي به زموږ د پخواني منل شوي پرنسیپ پر ضد وي، چې ښه مقصد بدې وسیلې نه مجاز کوي.

۳- دا چې یو څوک یوازې د ښې پایلې نیت لري او بس یوازې د نامطلوبې بدې نتیجې تحمل کوي.

په نتیجه کې یو څوک چې د بدې نتیجې تایید او نیت کوي د خپلې ارادې د پلې کولو له لارې په نېغ ډول پکې ښکېل کېږي.

۴- دا چې ښه نتیجه تر بدې نتیجې څخه ډېره وي یا لږ تر لږه دغسې متناسب قوي دلیل وي چې د بدو اثر د منلو اجازه ورکوي البته دغه تناسب په اسانۍ اندازه کېدلی نه شي، او تشخیص یې دقیق تحلیل او قضاوت غواړي. یوه مهمه بېلګه به وړاندې کړو. څو کاله د مخه څه وخت چې د روسانو په هوا کې د اټومي ازموینې قانوني مهلت نقض کړ په دغه هېواد کې په دغه اړه لانجه پیدا شوه، چې که د امریکې له خوا د اټومي ازموینې له سره شروع کول مجاز کېدلی وشي. دلیل راوړل کېده چې په هوا کې د اټومي وړانګو په خپرولو سره هوا زهرجنه کوي، او دا به غیر اخلاقي وي چې د ډېرو انسانانو ژوند په خطر کې شي. له بلې خوا نورو استدلال کاوه، چې اټومي چاودنه په کومې لیرې ټاپو کې په خپل ذات کې بده نه ده او دا چې د ازموینې ښه پایله (د روسیې حملې یا بلیک میل پر ضد د هېواد د دفاعي قوتونو پیاوړی توب) د وړانګو د ډېروالي له اثر نه بیخي ډېره ده. پردې برسېره دغه ښه پایله د دغې ناوړې پایلې نتیجه نه ده یانې د هوا زهرناک کېدل بلکه هغه په نېغ او خپلواک ډول له دغې ازموینې څخه پیدا کېږي لکه چې بده پایله یې پیدا کوي.

د دوه ګون محصول پرنسیپ په بدي کې د همکاري (Cooperation in Evil) په اخلاقي تحلیل کې یو ګټور تطبیق مومي. له یوه چا څخه به وغوښتل شي یا به هغه اړ کړل شي، چې یو عمل ترسره کړي چې په خپل ذات کې غلط نه دی خو د نورو له خوا د خپل بد مقصد لپاره ترې نه کار اخیستل کېږي. د بېلګې په ډول بدماشان به د بانک یوه چارواکي ته امر وکړي چې د پیسو صندوق خلاص کړي. د پیسو د صندوق خلاصول په اصل کې بد کار نه دی، خو هغه دوه پایلې لري، چې یوه یې ښه او بله یې بده ده. که دغه چارواکي همکاري کوي د دغې همکارۍ یوه پایله به دهغه د ژوند ژغورل وي، چې دا ښه کار دی. بله پایله به یې بده وي چې هغه له بانک نه د

پيسو اخيستل دي، که دغه چارواکي له دغو دبدماشانو سره لاس لري هغه به په واقع کې د خپل عمل د بدې پايلې نيت لري او دی به رسمي مرستيال شي، چې د دوه ګون محصول قوانينو منع کړی دی خو لکه څنګه چې فرض شوی هغه د غلا نيت نه لري، هغه يوازې زغمي. بيا نو دی د منل شوي تخنيکي اصطلاح په استفاده سره اصلي؟ معاون کېږي. ښه پايله يې د هغه د ژوند ژغورنه د پيسو د غلا له ناوړې پايلې نه بيخي ډېره ده او په دغه ډول ده بې له دې چې په اخلاقي لحاظ يې بد کړي وي، صندوق ورته خلاصولی شي.

معاصر اخلاقپوهان د دوه ګون محصول پرنسيپ په اړه موږ احتياط ته رابولي او خبرداری راکوي، چې په داسې حال کې چې په واقعي ژوندانه کې ټول انساني عمل يو واحد او بيساری دی، د دغو دواړو پايلو په کتنه کې د خپلواک واحدونو په شانې خطر شته دی. پر هغه برسېره دا تل اسانه نه وي چې د يوه عمل دغه دوه بېل عنصرونه په دقيق ډول بېل کړل شي او بس د بدي زغم وشي بې له دې چې په رښتيا ورته اراده شوې وي.
دغه خبرداری ښه پرځای دی او د دغه پرنسيپ په تطبيق کې موږ بايد ښه محتاط کړي.

# لسم څپرکی

## اخلاقي قانون

د يوه عمل د داخلاقي خصوصيت ټاکل موږ نه مکلف کوي، چې يو عمل وکړو يا ونه کړو. موږ به اعتراف وکړو چې مجبور يو په اخلاقي لحاظ ښه عملونه وکړو که غواړو ښه کسان و اوسو. خو دغه اعتراف يوازې مشروط مکلفيت يا فرضي ضرورت ته راجع کېږي نه مطلقې وظيفې ته چې کانت مطلقه ګڼه ګوري نوموله ده. يو څوک ويلی شي چې دی علاقمن نه دی، په اخلاقي لحاظ ښه وي او په نتيجه کې مجبور نه دی چې ښه وکړي.

خوداسې ښکاري چې بشريت قانع دی چې ځينې عملونه په مطلق ډول منع دي، په داسې حال کې چې نور په مشروط ډول مجاز ګرځول شوی دی او دا د يوه فرد کار نه دی چې پرېکړه وکړي، چې غواړي، ښه يابد ژوند وکړي. داسې ښکاري چې خلک د اساسي قانون په اړه يو څه ويښتيا لري، چې اړکوي يې ښه کارونه وکړي او له بدې نه ډډه وکړي. هغه اساسي قانون چې تر هر ايستل شوي قانون څخه د مخه راځي له لرغوني مهال نه را وروسته د طبيعي قانون (Natural Law) په نامه ياد شوی دی.

د طبيقي قانون مفهوم که څه هم د بېلو فيلسوفانو له خوا ډول ډول بيان شوی دی خو په دغو ټولو تعريفونو کې يوګډ عنصر موندل کېږي او هغه دا چې انسان مجبور دی د خپل ربتيني ځان له مخې ژوند وکړي، او دا چې ټول

مثبت قانونونه له هغه اساسي عدالت سره په پرتله کېدلو سره د انساني ماهيت يا طبيعت په حيثيت اتکا لري په اخلاقي لحاظ ارزول کېدلی شي.

ايا د اخلاقي قانون په شته والي باندې عقيده پر واقعيت متکی ده يا يوازې په اجتماعي مشروط کېدلو پوهنې اود چالاکواو زيرکو لويانو له خوا د ټولنې په ماهر کنټرول باندې؟

## د قانون مفهوم:

قانون په عمومي ډول د هغه ضرورت په مانا ده، چې په يوه کس باندې ددې لپاره تحميل شوی وي چې په يوه ډول عمل وکړي.

**فزيکي قانون:** دا مانا لري، چې يو عمل د فزيکي ضرورت له مخې وشي لکه د جاذبې قانون، د انرجي قانون، او په عمومي ډول د "طبيعت" قانونو نه انسانان د فزيکي جسمونو په شان د طبيعت قانونو تابع دی او ترې نه سر غړولی نه شي. که ته خپل لاس د اور له پاسه ونيسې، هغه به وسوزېږي.

**اخلاقي قانون:** په ازادو انسانانو باندې اخلاقي ضرورت تحميلوي، او مکلف کوي يې چې په يوه خاص ډول عمل وکړي، څنګه چې اخلاقي ضرورت د فزيکي قوې په زور عمل نه کوي، موږ د اخلاقي قانون پر ضد عمل کولی شو، موږ يې رد کوو، موږ پوهېږو چې بايد دروغ نه وايو خو موږ دروغ ويلی شو.

اخلاقي قانون څه ډول قوت دی؟ د دغه حکم تر شا څه قدرت دی، چې "ته بايد ځينې څيزونه وکړې يا ونه کړې؟" دغې پوښتنې ته دوه ډول ځوابونه ورکول کېدلی شي.

## د مثبت پال ځواب:

اخلاقي مثبت پالان (Moral Positiveits) تاييدوي چې د اخلاقي قانون قوت د حکومت يا د ټولنې له قوت څخه راوځي چې قانون نافذ کوي.

اخلاقي قوت په اساس کې د قانون جوړوونکي اراده ده، چې د هغه له قوت سره يوځای کېږي ددې لپاره چې قانون په هغو کسانو تحميل کړي، چې د

جزا يا له ټولنې څخه د ګوښه کېدلو له ډار نه ورسره موافقت کوي په بله ژبه دا "غټ لرګی" دی چې اخلاقی قانون ته موثريت ورکوي.

د دغې تيوري منل يا رد کول به د اخلاقي مثبت پالنې په اړه د يوه چا په نظر پورې تعلق ولري، خو له هغه څخه په خپلواک ډول يو څوک شايد ووايي چې د جزا ډار به کافي محرک يا قوت وي چې خلک له قانون سره مطابقت ته وهڅوي. که چېرې د عزتناک ژوند له ډار نه لوړ کوم محرک نه وي، بيا به پوليس مجبور وي چې د هر چا ساتنه وکړي. څنګه کېدلی شي چې دېرش زره پوليس د نيويارک ښار چې اته مليون وګړي لري په لار برابر وساتي.؟

داسې ښکاري چې په خپله د قانون نافذکوونکو موسسو د قانون رعاييت مسئله به نا حل پاتې شوې وي. څوک به قانون ساتونکی وساتي؟

داسې ښکاري چې خلک په عمومي ډول د هغو موخو په اهميت پوهېږي چې بايد قوانينو له لارې ترسره شي، او دا چې نظر د جزا له وېرې نه دغه پوهه ده، چې خلک هڅوي چې د قوانينو رعايت وکړي، چې وايي دوی بايد صادق، رښتيا ويونکي، د شتمنيو درناوی کوونکي او داسې نور وی دا موږ دوهمې تيوري ته بيايي چې اخلاقي قانون يې پر موږ تحميلوي چې هغه د ضرورت د ماهيت په اړه دی.

## د نهايي موخې ځواب:

داسې وګڼې چې زه په يوه ځنګله کې يم او غواړم پخوا له دې چې د شپې ترګمۍ خپره شي بايد يوې کوډلې ته ځان ورسوم، چې له سړو او د وحشي حيواناتو له خطر څخه خوندي اوسم. بيا هم داسې وګڼې چې زه دغسې يوې څلور لارې ته رسېدلی يم، چې يوه لار يې يوې کوډلې ته ځي او بله يې کوم بل ځای ته دا به نامعقوله وی، چې د کوډلې لار ونه نيسم ځکه چې زه د وسيلې په وصلت يانې له کوډلې يا مقصد سره د لارې په تړاو پوهېږم او غواړم دغې موخې ته ورسېږم چې ماته حياتي اهميت لري. زه که څه هم په کوم فزيکي

زور اړ شوی نه یم، چې کوډلې ته د رسېدلو لار ونیسم پر ما باندې اخلاقي ضرورت دی چې دغه کار وکړم.

د نهايي موخې پلويان (Teleo Logists) تایید وي چې ځینې وجودي موخې شته چې زموږ خپل انتخاب نه دی، بلکه هغه خپل طبیعت راباندې تحمیل کړې دی. موږ دغه موخې یوازې د ځینو عملونو په کولو سره ترسره کولی شو نو په دغه ډول له دغې موخې سره د یوه عمل وصلت یا ارتباط له دغې موخې سره د وسیلې ارتباط د اخلاقي ضرورت سرچینه ده. دا زموږ د خپل ازاد انتخاب نتیجه نه ده، چې موږ اجتماعي او یو پر بل ډډه کونکي موجودات یو. چې مجبور یو له نورو سره همکاري وکړو، د ټولنیز ژوند دغه ضروري موخې یوازې په ځینو تفاوتي عملونو سره ترسره کېدلی شي. پر دې برسېره مونږ عقلي او اجتماعي موجودات یو، نه په خپل انتخاب بلکه په خپل طبیعت سره او موږ مجبور یو په عقلاني او مسئول ډول له وجودي محرکاتواو موخو سره مطابقت وکړو، چې رښتین توب او هغه په رښتیاني ډول زموږ طبیعت بشپړ کوي، ولټوو.

د انسان ډینامیکي طبیعت چې خپل بشپړتوب غواړي د باید توب (Ought ness) سرچینه ده.

د انسان طبیعت یوازې ځای پر ځای ولاړ واقعیت نه بلکه یو تمایل (Tendency) دی، د بشپړېدلو په لور محرک یا سایق. د انسان طبیعت د خپل بشپړتو د ترسره کولو په پروسه کې یانې د خپلو بالقوه استعدادونو یا ظرفیتونو په واقعې کولو کې دی، هغه عمل چې دغه پروسه پر مخ بیايي د شمېرنې کومه سره پېښه نه ده، بلکه هغه د ایډیال انسانیت په لور د انسان د ځان انکشاف یوه ډینامیکه کړې ده.

**په تاریخ کې د طبیعي قانون ایډیا:** موږ د نهايي موخې بیان وکړ، چې په اساس کې د طبیعي قانون جوهر دی. دغه فکر چې د ټولو قوانینو سرچینه خدای تعالی یا خدایګوتې دی، په لرغونو کلتورونو کې عام و. انسان

د طبيعت تر قوانينو لاندې ژوند کاوه او ټولو قوانينو سپېڅلی خاصيت لاره. هر انساني قانون داسې ګڼل کېده چې له خدای تعالی نه سرچينه اخلي او په انسانانو باندې د خدای تعالی په ارادې سره نافذ شوی دی. په بدوي کلتورونو کې روحانيانو د قاضيانو په شان عمل کاوه، چې دا د قانون د يوه سپېڅلي او اسماني خاصيت علامه وه په لرغوني اسراييل کې د قاضيانو کتاب (Book of Judges) قاضيان روحانيان وو. د طبيعي قانون ايډيا د انسان په لاس له ايستل شوي قانون څخه جلا په يونان کې وټوکېدله. دا فيسوس هېراکليټوس (Heraclitus) اټکل له مخزيږدې ٥٣٦ نه تر ۴۷۰ پورې) په دېفکر و، چې د پرله پسې تغير کوونکې حادثې نه اخوا يو اسمايي لاګوس (Lagos) شته چې هرڅه په همغږي سره ساتي. "ټول انساني قوانين په همدغه اصلي قانون سره وده کوي" د افلاطون او ارستو ميتافزيکي تيوري ګانې اخلاقي مکلفيت د انسان له طبيعت څخه راباسي په دغه دليل چې د انسان د جوهر يا طبيعت بشپړتوب په عين حال کې دهغه موخه ده، چې دی مجبور دی ترسره يې کړي. ارستو که څه هم د طبيعي قانون اصطلاح کارولې نه ده، د منځنيو پېړيو ډېرو فيلسوفانو دی له هغه څخه ګاڼه چې د طبيعي قانون بسنټونه يې د لومړي ځل لپاره په نامنظم ډول بيان کړي دي.

برنډه پالنه يا رواق پالنه (Stoicism) هغه فلسفه ده چې زينو (Zeno اټکل مخزيږدې، ۳۴۰ نه تر۲٦٥ پورې) د هغې موسس و، او دا دی وچې طبيعي قانون اصطلاح يې د لومړي ځل لپاره و ايستله، (سټايزم د ډيوډۍ يا برنډې په مانا ده، چې زينو هلته ښودنه کوله) دغه فلسفه څو پېړۍ مروجه وه، او په سيسرو (Cicero مخزيږدې، ۱۰٦ نه تر ۴۳پورې) او په نورو نوميالیو رومي قانونپوهانو ليکوالو او سياستمدارو يې ډېر اثر کړی و، دغې فلسفې د يوناني ډېر ښه عناصر خپل کړي و، د هغې د ښېګڼې يا نيکي تيوري د طبيعي قانون د ايډيا تطبيق دی. ښېګڼه د انسان له عقلي طبيعت سره په موافقت کې يو ټينګ او نه لړزېدونکی چلند دی، د ټولې نړۍ په اداره

کولو کې یوعالمي قانون شته دی او عاقل انسان د نړۍ د دغه تلپاتې قانون اطاعت کوي، په دې چې هغه د هغه په عقلي طبیعت کې څرګند شوی وي.
سیسرو د طبیعي قانون ایډیا هغسې چې په برنډه پالنې کې یې بیان شوی، تنګ پلوی و. دی له یوه ذاتي نه تغیرېدونکي قانون نه په وضاحت ګړیده، چې هغه د ټولو مثبتو قانونو بنسټ ګڼل کېده. په دې اړه به دلته د هغه له ډېرو ښو ویناوو څخه یوه راوړله شي.
"که د عدالت پرنسیپ د خلکو په فرمانونو، د پاچا زامنو په حکمونو، او د قاضیانو په پرېکړو بنا وي، بیا به عدالت داړه ماري، او زنا او د وصیتونو جعل کاري تصدیق کړي. په هغه حال کې چې هغه د ولس په رایو او فرمانونو سره تصدیق شوی وي. خو که دغومره ډېر قدرت د احمقانو په پرېکړو او حکمونو تعلق ولري، چې د طبیعت قانون د دوی په رایو سره تغیر کېدلی وشي، بیا به دوی ولې حکم ونه کړي، چې هغه چې بد او خطرناک دي ښه او ګټور وګڼل شي؟ یا که قانون له بې عدالتي څخه جوړ شوی وي ایا له بد څخه به بیا ښه جوړولی ونه شي؟ خو موږ په واقع کې بل څه نه بس طبیعت ته په مراجعې سره د ښو او بدو قوانینو ترمنځ تمیز کولی شو. په حقیقت کې دا یوازې عدالت او بې عدالتي نه ده، چې د طبیعت له خوا یې تمیز کېږي، بلکه داسې هم بې له استثنی څخه د هغو ښو څیزونو چې د درناوي او بې عزتي وي. څکه څنګه چې هغه ذکاوت چې په ټولو کې مشترک دی ټول موږ ته څیزونه ښیي او زموږ په ذهن کې یې تر فورمول لاندې راولي زموږ له خوا دعزت وړ عملونه په ښېګنې یادېږي او شرمناک عملونه په بدي سره او یوازې یو لېونی به داسې نتیجه واخلي چې دغه قضاوتونه د نظر موضوع ده، نه دا چې د طبیعت له خوا تشبیت شوی وی".
**سان اګوستاین:** (۳۵۴-۴۳۰) د طبیعت په قانون ټینګ ولاړ و، چې هغه دهغه په فکر ابدي قانون دی، خدای تعالی نړۍ په دغه قانون سره اداره کوي چې هغه له ټول ابدیت څخه د انسان دماغ د خدای تعالی د قوانینو له مخې وظیفه ترسره کړي. دغه طبیعي قانون د خدای تعالی په ابدي قانون کې د

عقلي موجود ګڼون دی. سان تاماس او د سکولاستيک (Socholastic) لويو فيلسوفانو او د ديني پوهو پوهانو (Theologians) دواړو هم د ابدي قانون او هم د طبيعي قانون ايډياګانو نه دفاع وکړه او لا يې هم روښانه کړ. د طبيعي قانون دکتورين په منځنيو پېړيو کې په ټينګه تشبيت شول او ان د اتلسمې پېړۍ تر نيمايي پورې ښايسته عالمي شوی و.

په دغې دورې کې له طبيعي قانون څخه مخ اړول د انسان د عقل په قدرت د مبالغه ييز ټينګار په وړاندې غبرګون و، د دغه عصر ځينو فيلسوفانو فکر کاوه، چې موږ د طبيعي قانون ټول مفهومونه تر ورو جزياتو پورې د رياضي په طريقې سره ثابتولی شو، دغسې افراطي چلند طبيعي قانون د لاربښود پرنسيپ په شان بې اعتبار کړ، (هغه بايد په احتياط سره د انساني ژوند په اوړېدونکو شرايطو کې تطبيق شي او د مفصل اعتبار وړ قانون په شان ونه ګڼل شي).

د ګټورتوب فلسفي (Utilitarianism) او مثبت پالنې (Positivism) فلسفې دغه طبيعي قانون د اخلاقي مکلفيت د سرچينې په شان ردکړو او په عوض مې په ګټورتوب، مثبت يې قانون، د ټولنې فشار او عام ذهنيت باندې ټينګار وکړ، چې هغه د مکلفيت سرچينې دي. په فردي او بين المللي چارو کې قانوني مثبت پالنه، په پراخه اندازه د حقوقپوهانو له خوا ومنل شوه سره له دې هم د طبيعي قانون ايډيا پوره مړه نه شوه. د دوهم نړيوال جنګ نه وروسته لسيزو د طبيعي قانون د بيا ژوندي کېدلو دکتورين يو ځل بيا تجربه کړ که څه هم هغه د طبيعي قانون په شان تل ياد شوی نه دی. خو د طبيعي قانون پرنسيپونه وار په وار په څرګند ډول افاده شوي دي. په کال ۱۹۴۸ کې د انسان د حقونو منشور چې د ملګرو ملتونو د وايست د انسانانو د حقوقو يو ليست ورکوي چې د انسان په طبيعت باندې بنا دی او د هر مثبت قانون په وړاندې نه انکار کېدونکی اعتبار لري. د جنګ نه وروسته دورې ډېرو اصلاحي او انقلابي غورځنګونو په معمول ډول هغه لا لوړ او اساسي عدالت ته مخه کوي، چې د حکومتونو له هر مثبت قانون څخه د مخه يې بايد اطاعت

او درناوی وشي.په ۱۹۴۵ کې د نورمبرگ په محکمه کې د جنگ د مجرمانو محاکمې د طبیعي قانو د دکتورین په اړه په زړه پورې بحث رامنځ ته کړ.

حقوقپوهانو دغه اساسي حقوقي پرنسیپ چې "چېرته قانون نه وي جزا نه وي" د هغو په دفاع کې وړاندې کړ، چې په جنگي جرمونو تورن شوی وو.دوی ادعا وکړه چې هغه ځینې قوانین چې ادعا کېږي دجنگ مجرمانو نقض کړی وروسته له هغه راوتلي دي، چې ادعا شوې جرمونه شوي وو، چې په دغه ډول هغه د ادعای شویو جرمونو په وخت کې نافذ نه وو. خو څارنوال ادعا وکړه چې دغه قوانین تل نافذ وو او دمثبت قانون لامنځ ته کېدل د هغو د مراعات کولو مکلفیت خلق نه کړ، بلکه دغه مکلفیت یې په لیکلي ډول افاده کړ.

د امریکې حقوقپوه رابرټ جیکسن دلیل وړاندې کړ، چې د بشریت ځینې اساسي قوانین شته دي، چې تر هر مثبت قانون څخه د مخه د اعتبار وړ دي. حتی که د نسل وژنې (Genocide) یا د ((نامستعدو)) [هغه کسان چې په جسمي او ذهني لحاظ له کار نه وتلي وي] د تصفیې پر ضد هیڅ مثبت قانون نه وي دا جرمونه د بشریت پر ضد جرمونه دي، او څوک چې یې کوي مجرم دی. د فرانسې لوی څارنوال فرانسوا دی منتن دغه نظر وړاندې کړ او وویل " بې له دې چې د اجتماعي ژوند د اساسي قوانینو په اړه عامه رضایت نه وي د وجدان د ادعاگانو په وړاندې د سلوک د عمومي معیار نه پرته، د نیکي او بدي عین مفاهیمو ته د ټول حقوقي افرادو له اطاعت نه پرته یو ښه متعادل او دوام لرونکي ملت جوړېدلی نه شی".

په دغو نزدې کلونو کې د نړۍ عام ذهنیت په بېلو بېلو هېوادونو کې د ناراضیانو (Dissidents) په وړاندې ناوړه چلند ته متوجه شوی دی، د هغو د حقوقو په دفاع کې ډېرې ویناوې شوي ، ډېرې لیکنې او کتابونه خپاره شوي دي چې هغه ټول د انسان په "حیثیت" یانې د انسان په طبیعت بنا دي. دا د طبیعي قانون له خوا د حقونو تضمین دی.

د (۱۹۷۷) کال د مارچ په ۱۸ مه د امريکې ولسمشر جمي کارتر ملګرو ملتونو ته هماغه مفهوم په دغو الفاظو ادا کړ: "د سولې او عدالت څېړنه د انسان عزت ته د درناوي په مانا هم ده... د انساني حقوقو په لور د انساني چارو اساسي فشار يوې عالمي تقاضا ته ګوته نيسي" په دغو وختونو کې که څه هم د "طبيعي قانون" اصطلاح ډېره نه يادېږي خو ټولې علامې ښيي چې دغه فکر ښه ژوندی دی، اودا چې د طبيعي قانون اعتبار په ټولې نړۍ کې وار په وار ډېره پېژندل کېږي.

# یوولسم څپرکی

## د انسان په طبیعت کې د اخلاقي قانون موندل

که طبعي قانون په اساس کې د انسان له ډینامیکي طبیعت سره د هغه د فعالیتونو د منبع په شان مطابقت لري، د انسان د طبیعت تحلیل باید همدلته وموندلشي. طبیعي قانون یو اخلاقي ضرورت دی، چې په یوه چا باندې د هغه د طبیعت له خوا تحمیل کېږي، چې باید رښتیني ښه وکړي او له واقعي بدي څخه ډډه وکړي. څنګه چې موږ د انساني طبیعت پلټنه کوو، چې هغه له نورو طبیعتونو څخه توپیر کوي، موږ باید وکولی شو، دغه اخلاقي ضرورت په هغو قوتونو (یا استعدادونو) کې ومومو چې انسان په مشخص ډول له غیر عضوي او حیوانی طبیعتونو څخه بېل وي. د انسان دغه مشخص قابلیتونه یا قوتونه دادی; عقلي قوه (Intellect) او اراده موږ باید د هغه د اخلاقي قانون ضرورت د دغو قوتونو په عمل کولو کې ولټوو.

د عقلي قوې د عمل په هکله موږ وینو چې هغه له رښتین توب (Truth) سره سر اوکار لري. څه وخت چې زه وایم ټول تر یوې برخې څخه لوی دي، یانې هغه وخت چې یو واقعیت په وضاحت سره راته ورانډې شي، حتمي ده چې زما عقلي قوه پرې رضایت ښکاره کړي. په بله ژبه رښتین توب عقلي قوه ضروري کوي خو رښتین توب تل روښ او څرګند نه وي، او هغه

ممکن له يو لړ پېچلو ويناګانو او استثناجونو څخه جوړوي. په دغو حالاتو کې زموږ عقلي قوه به مجبوره نه شي چې قناعت وکړي خو په هغه حال کې چې موږ شواهد يا اسناد ووينو.

زموږ د ارادې په عمل کې هم همدغسې ضرورت ليدل کېږي. موږ د يوه څيز لپاره اراده کولی نه شو مګر هغه وخت چې په هغه کې يوڅه ښه توب وي. دغه ښه توب ممکن يوازې د ظاهري ښه توب وي. خو اراده حرکت کولی نه شي مګر په هغه حال کې چې په هغه څيز کې د يوه مطلوب څيز له خوا کش شي. د عمل مطلوب عنصر ته د هغه د رسېدلو په لور د هغه په شخصي قضاوت پورې اړه لري، حتی که هغه يوازې يو محدود پرمختګ هم وي. د بېلګې په ډول يو څوک چې غواړي ځان ووژني په دغه عمل کې يو څه ښه توبويني، چې هغه ممکن له دردناک مرض، شرم، د ژوند بې ماناتوب يا دغسې کوم بل څيز څخه ازادي وي. زموږ نتيجه دا ده چې په عمومي ډول ښه توب ياني مطلوب والي اراده ضروري کوي. زموږ د عقلي قوې او ارادې د وظيفو د ترسره کولو بيان ممکن ثابته کړي، چې موږ په خپلو کړو کې ټينګ يو او دا چې کوم هغه ضرورت چې موږ مونډلی هغه تر اخلاقي ضرورت څخه ډېر دي.

په يوه مفهوم دا رښتيا ده، چې موږ تل تصميم لرو او د ښه توب په نظر کې لرلو سره انتخاب کوو، موږ دا منو چې په دغې موضوع کې موږ ازاد نه يو زموږ ازادي په دغه واقعيت کې پرته ده، چې موږ يو شمېر ډېر عملونه او څيزونه په نظر کې نيسو، چې نزدې په ټولو کې يو څه انجذاب پيدا کولی شو، چې موږ په هغو کې په ازادي سره انتخاب کوو. که يو څيز بدښکاره شو. موږ عمل کولی نه شو ځينې کسان ځينې غير نورمالې اندېښنې ښکاره کوي او په نتيجه کې په خپلو ازاديو باندې به له څه محدوديتونو څخه رنځ ګالي، ځکه چې هرڅه ورته بد او وېروونکي ښکاري. هغه ساهپوهان چې د ازادي باييللو له دغسې عجبو حالتونو سره سر او کار لري، زيار باسي، چې د دوی د

فلج دغسې حال سم او نورمال شي او خپل ناروغان قـانع کـړي، چـې د دوی د رنځ وړلو څېزونه په اصل کې بد او مضر نه دي.

څنګه چې اراده او عقلي قوه په موږ کې دوه جلا موجودیتونه دي دا د یوه شخص ظرفیتونـه دي، چـې پـه هغـوسره دی رښـتین تـوب او ښـه تـوب لټوي. نو موږ ویلی شو، چې په موږ کې دغسې یو اساسي قانون شته چـې مـوږ اړ کوي، چې رښتینی ښه توب وکړو او له واقعـي بـدي څخـه ډډه وکـړو. خـو دغه مکلفیت د فزیکي ضرورت په مانا نـه کېـږي ځکـه چـې مـوږ پـه نورمـال حالاتو کې ازاد یو د بېلو ښه توبونو ترمنځ انتخاب وکړو. سره له دې هم دغـه ضرورت یو واقعي اخلاقي ضرورت دی، چې زمـوږ پـه طبیعـت کـې شـته دي، ځکه چې موږ پوهېږو چې موږ مجبور یود خپلو اسـاسي قـابلیتونو او د عملونـو او میلونو له مخې رښتینی ښه تـوب غـوره کـړو او لـه واقعـي بـدي څخـه مـخ واړوو.

## مثبت قانون:

رښتین توب چې په واضح ډول وړاندې شي زموږ عقلي قوه د هغـه درک کـوي د انسان د شته تـوب لـوی مقصـدونه د هـر نورمـال شـخص لـه خـوا پوهېـدل کېږي، او هغه د اخلاقي مکلفیتونو د منابعو په شان په اسانه درک کېږي، خو زموږ د طبیعت ډېر پېچلي واقعیتونـه، مـوخې او اړیکـې پـه اسـانۍ نـه درک کېږي، اوپه دغه ډول هغه مکلفیتونه چې له هغـو څخـه راولاړېـږي هرچاتـه د منلو وړ نه وي. په نتیجه کـې طبیعـي قـانون چـې پـه اسـاس کـې لـه انسـاني طبیعـت سره مطابقـت لـري، د ژونـد پېچلـو او جزایـي مسـئلو کـې مـوږ تـه لارښودنه کولی نه شي. سره لـه دې هـم هغـه د مکلفیـت منبـع پـاتې کېـږي، ځکه چې هغه باید د انسان په تل اوړېدونکو شرایطو کې د مثبـت قـانون چـې میکانیزم سره تطبیق شي.

هره منظمه ټولنه مثبت قانونونه باسي، چې هغه په يوه مفهوم د طبيعي قانون پلې کول دي، چې هغه به د هغه پرنسيپونه نه نقض کوي، يا د انسان هغه حقوق نه تر پښو لاندې کوي، چې له هغه څخه راوځي، د طبيعي قانون عمومي پرنسيپ مونږ مکلف کوي، چې موږ بايد سره همکاري وکړو، چې ټولنه تنظيم کړو، او عمومي ګټه پر مخ بوځو. د طبيعي قانون دغه حکم په څرګند ډول د انسانانو د اړتيا له امله وي، چې هغه زمونږ له فردي قوتونو څخه چې رفع يې کړي خورا ډېرې دي او هغه يوازې د نورو په ګډې مرستې سره ترسره کېدلی شي، د هغه په عمومي سمت کې فکر واضح دی، خو هغه د ګډ کار ټولې مقررې چې همکاري بايد څنګه وي، نه بيانوي دغه مقررې زموږ په طبيعت کې نغښتې نه دي.
هغه په واقعي او مشخصو حالتونو پورې تړلې دي او بايد په سمو قانونو فيصله شي، بيا نو مونږ ويلی شو چې طبيعي قانون موږ مکلف کوي د مشروع حاکميت د عادلو قوانينو اطاعت وکړو. د بېلګې په ډول يو څوک په اسانۍ پوهېدلی شي، چې په حمل او نقل کې بايد نظم وي، خو د ترافيکي قوانينو تفصيلات چې دغه نظم خوندي کوي بايد د مثبتې قانوني قوې له خوا فيصله شي، ځکه چې زموږ په طبيعت کې داسې څيز نشته چې وښيي موږ د سرک په کومې خوا لاړ شو، په ځينو حالاتو کې ممکن په برابره اندازه دوه يا درې ډول لارې دي. چې په اجتماعي همکاري سره د بې نظمې د مخنيوي لپاره انتخاب کېدلی وشي. په دغه حال کې هم مثبت قانون ايستونکې اداره بايد پرېکړه وکړي، چې هر څوک دې د لارو يوه غوره کړي، په دغه ډول د طبيعي قانون شته والی مثبت قانون نه بې لزومه کوي. د هغه پر خلاف هغه يې بنياد په واقعيت باندې ږدي او د عدالت په حدود کې يې دننه ساتي. هر هغه مثبت قانون چې طبيعي قانون نقض کوي، خپل اعتبار او مشروعيت له لاسه ورکوي، ځکه چې د هغه د مکلفيت قوه له طبيعي قانون څخه راوځي.

## د طبيعي قانون تغير موندل يا تغير نه موندل:

د طبيعي قانون د بدلون موندلو يا د بدلون نه موندلو موضوع د طبيعي قانون د فکر په هسکېدلو سره د هغه د پلويانو توجه ځان ته اړولې ده. که طبيعي قانون د بدلون وړ وي.اخلاقيات نسبي کېږي. له بل خوا که طبيعي قانون د تغير وړ نه وي هغه په تل تغير کوونکې نړۍ کې د يوه اعتماد وړ لارښود پرنسيپ په توګه له حد نه ډېر شخ کېږي.

د مخه ويل شوي، چې د انسان طبيعت ډيناميک دی او د انسان د طبيعت د ايډيال د واقعي کولو په لور تل د پرمختګ په حال کې دی. دغه واقعيت په تاريخ کې د اخلاقي وجدان د تکامل او د طبيعي قانون د ظاهري تغير له امله دي. په عين حال کې د انسان په طبيعت کې دغسې تلپاتې عنصرونه هم شته چې اخلاقي قانون ته همېش توب ورکوي او د نسبيت خطر له منځ څخه وړي. يو ماشوم چې وده کوي له پلاراو مور سره يې اړيکې تغير کوي. د عمر په يوه وخت کې د مور او پلار له واکمنۍ نه ځان ازادوي او نور نو هغسې مکلفيتونه ورته نه لري، چې د مخه يې ورته لرل. د هغه په وړاندې د مور او پلار دندې هم تغير کوي. دوی به اړ نه وي، چې له هغه وروسته د هغه ژوند خوندي کړي. انسان د تاريخ په بهير کې له ماشومتوب نه د بالغ توب تر وخت پورې تغيرکړی دی.

د هغه د واقعيت پوهه خورا ډېره شوې ده. هغه خپل چاپېريال اړولی دی او په دغه جريان کې په خپله هم له تغيرونو څخه اغېزمن شوی دی، هغسې چې د يوه بالغ دندې او حقونه د ماشومتوب له وخت نه تغير کوي، داسې هم د يوې زراعتي ټولنې د غړو وظيفې او حقونه له کرنيزو يا لومړنيو ټولنو څخه توپير لري. اوس چې د انسان نژاد د معدوميت له خطر نه بچ شوی خو د ګړندۍ ودې له امله تر خطر لاندې شوی دی د مسئول پلارتوب او مورتوب مفهوم هم تغير کړی دی.

د انسان دغسې تکامل د هغه په طبيعت سره وړاندې تللی، او دا په خاص ډول د هغه د عقل له امله ده. د لومړي انسان ناپوهي د نسلونو په عقلي قوت سره چې مدنيتونه او کلتورونه يې جوړ کړي دي، له منځ نه تللې ده. په دغه مفهوم د انسان تغيرېدل او په نتيجه کې د طبيعي قانون بدلون د هغه له طبيعت سره متوافق دی. سان تاماس دغه تکامل چې انسان له ناقص حال نه تر ډېر کامل حد پورې پرمختګ کړی دی، پېژندلی دی. په عين حال کې ټينګار کېدلی شي، چې په طبيعي قانون کې هيڅ تفسير پېښ شوی نه دی. يوازې چاپېريال تغير کړی دی، او نه تغير کېدونکی طبيعي قانون ښيي، چې اخلاقيات په نويو شرايطو کې څه دي. پردې برسېره انسان د خپل طبيعت په اړه په ډېرېدونکې اندازه پوهه پيدا کوي، او په نتيجه کې د انساني حالت په اړه د طبيعي قانون تطبيق لا هم واضح او تر پخوا ښه پېژندل شوی دی.

نوې فقره ددې اړتيا نشته چې د دغو دريځونو ترمنځ مخالفت ټينګ شي. د انسان اساسي خصوصيتونه د تغير وړ نه دي. موږ به هيڅکله ځاروي نه شو، نو موږ مجبور يو د عقلي، ازاد او مسئولو انسانانو په شان په "عزت او مسئوليت" سره ژوند وکړو. له بلې خوا د انسان د بشريت په عقلاني او کلتوري تکامل سره چې د تاريخ له سباوون څخه يې تر اوسه کړي دي، په غوڅه توګه اغېزمن شوی دی. کلتوري او عقلاني تکامل به په اخلاقي شعوور او په هغه اخلاقي قضاوت کې انعکاس وکړي، چې د هغه په تکاملي حالت باندې يې کوي. نو موږ ويلی شو، چې څنګه چې د انسان طبيعت هم تغير کويی او هم يې نه کوي، داسې هم طبيعي قانون د تغير وړ او د تغير وړ نه دی.

## د طبيعي قانون پوهه:

طبيعي قانون وضعي قانون نه دی، يانې هغه په حقوقي مقررو کې په څرګند ډول نه موندل کېږي او د حکومت له خوا په رسمي خپرونو کې نه خپرېږي.

بيا نو موږ ځنګه هغه دندې ترسره کوو، چې د طبيعي قانون له خوا پر موږ تحميل کېږي؟ که موږ د يوه قانون په شته والي خبر نه اوسو موږ پر هغه مقيد کېدلی نه شو، ځکه چې اخلاقي قانون په فزيکي زور سره مطابقت نه غواړي، بلکه د عقلي موجوديتونو د با شعور او ازادي همکاري له لارې يې غواړي.

طبيعي قانون يو ډيناميک طبيعي قانون دی، په دې چې هغه د باشعورو او ارادي کړو له لارې د خپل بشپړتوب په لور هدايت کېږي. د طبيعي قانون پوهه زموږ هغه قابليت ته منحصره ده، چې موږ خپل طبيعت وپېژنو، د انسان طبيعت يو پېچلی واقعيت دی او موږ د خپل طبيعت په ټولو جزياتو او ټولو اړيکو نه پوهېږو. له بلې خوا موږ له خپل طبيعت سره نيغې تجربې لرو. هغه په واقع کې موږ ته تر هر بل ځيز څخه نږدې دی. په سالم ډول کې انکشاف موندلی، او ټول کسان د انسان د مهمو وجودي موخو په اړه او داسې هم هغو ته د رسېدلو په وسيلو پوهېږي. په بله ژبه موږ د وجودي موخو او هغو ته د رسېدلو د وسيلو په تفکر سره د طبيعي قانون په عمده مفهومونو پوهېږو او چې موږ وده کوو او د ژوند له چيلنج سره مخ کېږو، موږ په طبيعي ډول د ژوند کولو په مناسبو قوانينو پوهېږو.

هغه کړنلارې يا دستورونه په مشخص ډول کوم دي، چې نورمال اشخاص يې پېژني؟ اساسي پرنسيپ خو داديچې ښه وشي او له بدې نه ډډه وشي. دغه اساسي او لومړني پرنسيپ پر هغو مسايلو باندې چې انسان په ژوند کې ورسره مخ کېږي، په اسانۍ تطبيق کېږي.

اخلاقپوهانو د طبيعي قانون دغه څرګنده دستورونه له لسګونو ارشاداتو سره يو ګڼل، چې هغه داوو:مور او پلار ته اطاعت، مشروع قانوني مقامونو ته درناوی، د خپلو انساني ورونو ژوند او بدني ټولوالي ته درناوی، په واده کې وفا پالنه، له نورو سره په خبرو او پوهاوي کې رښتين توب، د نورو د قانوني مال رعايت او د وعدو او تقوا پر ځای کول. ددې مانا دا نه ده چې خلک په دغو څرګندونو او مسلمو موضوع ګانو کې د طبيعي قانون په تطبيق

کې ځينې وختونوه نه تېر وځي.د انساني طبيعت ډېر عملي کېدونکي اړخونه باید لا په ځير سره وکتل شي، او کله کله حتی یوه اوږده او دقیقه څېړنه هم ټولې ناڅرګندونې څرګندولی نه شي.

د انسان دماغ د واقعیت بېلو ډګرونو لپاره ځانګې نه لري، یانې چې یوه یې د ریاضي رښتین توب، بله یې د تاریخي واقعیتونو او بله یې د اخلاقي رښتین توبونو لپاره وي. د واقعیت ماهیت چې هرڅه وي، موږ یوه عقلي قوه لرو، چې زیار باسي درک یې کړي. ساده رښتین توبونه لکه دوه او دوه چې څلور کېږي، حتی ماشومانو ته روښانه دي، خو نور پېچلي رښتین توبونه لکه د کلکولس (Calculus) تمیز کوونکې مقررې حتی د تعلیم کړو لپاره هم ګران وي چې درک یې کړي، ځکه چې هغه ډېر پېچلی دی، او له زده کړې او تفکر نه پرته واضع کېدلی نه شي. د اخلاقیاتو په ډګر کې هم ځینې واقعیتونه څرګند دي، په داسې حال کې چې پېچلې یې د هرچا لپاره د پوهېدلو وړ نه وي. په دې بیالوجي کې نوي انکشافونه نوې اخلاقي کشالې رامنځ ته کوي، ځکه چې د ځينو بیالوجیکي مداخلو ډېر واقعیتونه لا حتی متخصصانو ته هم مالوم نه دي. دا طبیعي ده چې په دغسې موضوع ګانو کې اخلاقي قضاوتونه به مشکوک او کله ناسم وي. کله کله به تېروتنې وروسته له هغه موندلی شي، چې په دغو موضوع ګانو کې ډېر واقعیتونه څرګند شي. موږ لا د بېلګې په ډول د وراثت د یو ځای کېدلو د نتایجو او پایلو په اړه په ډېر څه نه پوهېږو، نو دغه ډول وراثتي انجینري په اړه زموږ قضاوت مشکوک یا فرضي دی.

ساینس د انساني پوهو د واقعیت په هکله زموږ پوهه ډېره کړې ده. هغه زموږ د شته توب او له نړۍ سره زموږ د طبیعت په اړه د نورو رښتین توبونو موندلو لپاره دوام ورکوي. ددې مانا داده، چې د اخلاقیاتو په اړه زموږ پوهه به نوره هم ډېره شي. بیا نو طبیعي قانون موږ ته د عقل له لارې مالومېږي او تر قانون لاندې کېږي، چې موږ د انسان په واقعیت پوهېږو او چې دا څه مانا لري، چې موږ یو رښتینی انساني ژوند ولرو.

**د طبيعي قانون تحريمات:** مثبت قانون، قانون کېدلی نه شي، خو په هغه حال کې چې تحريمات يا مجازات ولري. مثبت قانون له جزا نه پرته د يوې سپارښتنې يا نصيحت په څېر وي، چې موږ نه مکلف کوي دغه تحريم د قانون له سرغړونې نه جزا ده. واکمن مقام په هغه سره قانون جاري کوي. جزا په جريمه، بندي توب، د امتياز له لاسه ورکول، يا د مجازاتو کوم بل ډول وي. ايا داسې جزا يا تحريم شته چې له طبيعي قانون سره مل وي؟ څرګنده ده چې دغسې کوم تحريم نه شته که څه هم چې طبيعي قانون به زياتره وخت د مثبت قانون په څېر له مناسب تحريم يا جزا سره عملي شي. بېلګې يې هغه مثبت قانونونه دي چې غلا، وژنه او په نا حق قسم خوړل اعلاموي چې په ټولو هېوادونو کې مناسب تحريمونه ورسره ملګري کېږي.

سره له دې هم موږ په ځينو حالتونو کې د طبيعي قانون له تحريم څخه غږېدلی شو، له طبيعي قانون سره تطابق هغه کړه ښيي چې موږ د خپل طبيعت بشپړتوب او د شته توب هدفونو ته نزدې کوي. که موږ خپل طبيعي وجودي موخو ته د رسېدلو له وسيلو څخه کار وانخلو، او دهغه پر خلاف دغسې کارونه وکړو، چې موږ له دغو موخو څخه لېرې کوي، موږ جزا وينو، چې هغه د انسانتوب له لاسه ورکول دي. موږ په دغه مفهوم چې د بشريت له ايډيال څخه ليرې کېږو لږ "انسان" کېږو.

له طبيعي قانون څخه سرغړونه په ټولنيز نظام کې ګډوډي راولي، او ژوند لږ منظم او لږ انساني کوي. حتی د هغه کس لپاره هم چې د طبيعي قانون پر ضد عمل کوي، تاريخ شاهدي ورکوي. چې هغه وخت چې ښايسته ډېر انسانان طبيعي قانون تر پښو لاندې کوي ورې يا لويې ټولنې زيان وينې. په ښارونو کې وېره خپرېږي، دوه اړخيزه بې اعتمادي غلبه کوي، سوداګري معاملې بېرون وځي، بېکاري ډېرېږي، او داسې نورپه ملي سطح کې کله چې خلک له خپلو طبيعي حقونو څخه بې برخې شي، استثمار شي،او څه وخت چې اجتماعي عدالت نقض شي، هغه وخت چې له واکمني نه ناوړه استفاده کېږي، د طبيعي قانون د دغو ټولو تېريو پايلې د همغږي او منظم ژوند له

لاسه تلل وي. داسې هم هغه د تشدد او د هغو ډېرو تحريماتو ضـياع ده، چـې د طبيعي قانون د ماتولو لپاره مجازات وي. پـه بـين المللي اړيکـو کـې هـم د طبيعي قانون له پام نه غورځول هم په برابره اندازه سختې پايلې لري او تـاريخ په دې اړه ډېرې بېلګې لري. بيا نو طبيعي قانون واقعي تحريمات لري او دغه تحريمات د طبيعي قانون له جوهر څخه راپورته کېږي. هغه د فرد او ټولنې د وجودي موخو د لاسه وتلو مانا ورکوي.

# دولسم څپرکی

# حقوق

## بشري حقونه:

د اخلاقي مسئولیت پېژندنه د انسانانو یوه ګډه تجربه ده. هیڅ څوک په رښتیا ادعا کولی نه شي، چې هغه په خپل وجدان کې هیڅکله د اخلاقي قانون له قوت سره مخ شوی نه دی. پر هغه برسېره موږ د خپلې دندې په ترسره کولو کې اخلاقي پیاوړتیا حس کوو، چې له مناسبې وسیلې څخه کار اخلو، چې په هغې سره موږ خپل مکلفیت اجرا کوو، موږ ته دا متناقضه ښکاري چې مجبور شو یو کار وکړو او د دغې دندې د اجرا لپاره مناسبه وسیله رانه کړل شي. د دندې له موجودیت نه دا منطقي ښکاري چې هغه څوک چې د یوې وظیفې د اجرا لپاره ګمارل کېږي باید د یوې مناسبې وسیلې ادعا ولري، چې په هغې سره خپله دنده ترسره کړي. داسې هم دی باید جایزه ادعا ولري، چې نور د هغه د وظیفې په لیکه کې د هغه له عمل سره مداخله ونه کړي. موږ دا طبیعي ګڼو چې که موږ د یوه خاص کار لپاره موظف کېږو، حتمي ده چې موږ ته د دغه کار لپاره مناسبې وسیلې راکړلې شي. که یو څوک د یوه میخانیک، ګنډونکي یا چاپوونکي په څیر استخدامېږي حتمي ده چې د هغه کار لپاره مناسب مواد او وسیلې ورکړل شي. اخلاقي دنده دغه

ادعا لازمه کوي چې د وظيفې د اجرا لپاره مناسبې وسيلې او د عمل ازادي ورکړل شي.

دغه ادعا د حق په نامه يادېږي. څنګه چې حقونه له اخلاقي وظيفو سره تړلي دي، هغه د اخلاقي دندې ځانګړتياوې سره شريکې کوي. له دې نه دا نتيجه اخيستله کېږي، چې يو مکلفيت پر موږ باندې اخلاقي ضرورت تحميلولې نه فزيکي ضرورت يانې يو حق چې موږ ته اخلاقي قوت راکوي، نه فزيکي قوت، چې مونږ د وظيفي د اجرا لپاره يوه ضروري وسيله ولرو.

حق د اخلاقي قوت په توګه تعريف کېدلی شي، چې يو څوک چې مستحق يې وي بايد ويې لري، يا هغه قوت چې ادعا وکړي، عمل وکړي، حذف وکړي يا د نورو له مداخلې نه پرته يو څيز ولري. حق د اخلاقي قوت په څېر د يوه بل چا عقل او ارادې ته په رجوع سره چې هغه بايد زموږ د حق درناوی وکړي، کار کوي.

حقوق په قانون استناد کوي او د قانون له مخې په منطقي ډول پر موږ باندې نافذ کېږي. بېل اخلاقی سيستمونه د خپل اخلاقي مکلفيت د تعبيرونو له مخې د حق د ماهيت په اړه بېل بېل پوهاوی لري. که د حکومت اراده د اخلاقي مکلفيت سرچينه وي، يا اخلاقيات په عام نظر او اتفاق بنا وي لکه مثبت پالان چې وايي بيانو ټول حقوق د حکومت يا ټولنې له خوا موږ ته راکول کېږي او له هغو نه پرته نور حقونه نه وي، خو که اساسي حقوق د حکومت يا د ټولنې له ارادې څخه پخوا موجود وي، بيا نو دغسې اساسي حقوق شته چې د حکومت نه ازاد وي، او هغه حقوقي افرادو ته د اجتماعي واک له خوا ورکول کېږي. پرځای يې حکومت او ټولنه مجبوره وي چې د دغو ړومبنيو شته حقونو درناوی وکړي.

**د حقونو جوړښت:** حق په قانون بنا دی او د هغه جوهر ځينو څيزونو ته ادعا ده. ددې مانا داده چې موږ په هر حق کې په يو شمېر اړيکو کې توپير کولی شو، د منلې شوې ترمينالوجي له مخې موږ په هر حق کې څلور عنصر موندلی شو.

۱- د حق فاعل (Subject) يو کس دی، چې هغه ځينو څيزونو ته ادعا لري.
۲- د حق شرط (Term) يو بل څوک دی، چې هغه مکلف دی د حق درناوی وکړي يا ادعا رفع کړي.
۳- د حق موضوع يو څيز وي چې يو څوک د هغه ادعا کوي.
۴- د حق سند يا قباله دليل دی، چې د حق موضوع يا څيز ته د شخص ادعا پر حقه ګڼي. حقوق زموږ په ورځني ژوند کې په ښو اړخونو کې ښکېل وي. څه وخت چې ته يو لوی ګړندی موټر په بيه رانيسې، ته دغه موټر ته حق ترلاسه کوي، ته د هغه مکلفيت يا ځان ته کولو ته ادعا پيدا کوي. په دغې معاملې کې ته د حق فاعل کېږي، د خرڅوونکي د حق شرط دی، ځکه چې هغه مجبور دی، موټر ته ستا دعوه ومني او ترسره يې کړي، موټر ستا د حق موضوع ده، او تاديه شوې پيسې عنوان يا قباله ده، چې ستا حق پرې تکيه لري.

د يوه حق فاعل او شرط يوازې کسان کېږي، فزيکي يا شرکتي. دا د قانون له ماهيت او د حق له جوهر څخه راوځي. يوازې عقلي موجوديتونه په اخلاقي قانون مکلف کېږي او يوازې دوی د نورو د حقونو درناوی کولی شي. نو څاروي حقونه نه لري سره له دې هم موږ په اخلاقي لحاظ مکلف يو د خپل عقلي طبيعت له مخې چلند وکړو نه په غير عقلي او بې رحمي سره. د حق موضوع مادي څيزونه کېدلی شي، لکه مځکه، کور، د تيلو څاه او داسې نور. غير مادي څيزونه هم لکه د اختراع ايډيا. انسان به په مادي يا غير مادي څيزونو پوره کنټرول ولري، خو هغه به په يوه کس باندې نا مقيد قدرت ونه لري، خو يو شخص به هېڅکله يو څيز نه وي، ځکه چې يو شخص به د نورو لپاره د وسيلې په توګه استعمال نه شي او هر شخص ځانله موخه لري، او د خپل برخليک واکمن دی. مريي توب چې انسانان يوازې څيزونه ګڼي، د حق اصل نقض کوي. موږ به د نورو کسانو خدمتونو ته حق ولرو، تر هغو چې دغه خدمتونه د انسانانو په شان د هغو وجودي مقصدونه نه نقض کوي. هيڅ قرارداد د اعتبار وړ کېدلی نه شي، چې يو کس مجبور کړي هغسې خدمتونه

وکړي، چې د اخلاق پر ضد وي، لکه مسنر (Messner) چې وايي: "... د کار هر قرارداد... يوه ضمني ماده لري، چې مطلب يې دادی، چې دکارگر د انساني شخص او د هغه وجودي مسئوليتونو درناوی به کېږي، نو دا د قانون له طبيعي نظام څخه سرغړونه ده، چې که دغسې يو اقتصادي سيستم... د کار دغسې شرطونه تحميل کوي، چې انسانان خپلو فاميلونو ته له وظيفو څخه منع کوي چې يا ډېر لږ معاش ورکوي يا د هغو له قوتونو څخه په بې پروايي سره گټه وچته کړي."

د يوه حق سنديا جواز هغه بنسټ دی، چې د هغه حق څيزونه د مالک يا فاعل ادعا تايدوي. که سند يا جواز يو تصادفي واقعيت وي، چې د يوه شخص په جوهر پورې تعلق ونه لري، لکه د يوه کوربيه اخيستل هغه حق د اکتسابي حق (Acquired right) په نامه يادېږي او که سند يا جواز د انسان د طبيعت او شته والي اساسي عنصر يو حاصل شوي حقونه ارثي يا طبيعي حقونه (Congenital or Natural Right) نومېږي. په دې وختونو کې د بشري حقونو اصطلاح زيات او زيات د طبعي حقونو د ايډيا لپاره راوړله کېږي.

دنه بېلېدونکو يا نه انتقال کېدونکو حقونه (Inalienable) اصطلاح هم اوس ډېره يادېږي. د دغې اصطلاح عادي پوهاوی دا دی، چې هيڅ څوک له يوه بل کس نه دغه حقونه اخيستلی نه شي، په دې چې هغه، هغه ته د ټولنې يا انساني مقام له خوا ورکړل شوی نه دی. خو په دقيق ډول نه انتقال کېدونکي حقونه هغه انساني صفتونه دي، چې يو شخص به يې له لاسه ورنکړي. حتی په خپله رضا هم ځکه چې هغه د اخلاقي ژوند لپاره په مطلق ډول ضروري دي. د بېلگې په ډول موږ به هغه حق چې د خپلې رښتيانۍ عقيدې پر بنسټ ژوند وکړو، له لاسه ورنکړو يانې له دغه حق څخه تېر نه شو، چې د خپل وجدان پېروي ونه کړو. بېلېدونکي حقونه هغه انساني حقونه دي، چې موږ کولی شو ترې نه تېر شو. د مثال په ډول هر صلاحيت لرونکی يا بالغ حق لري، چې واده وکړي، خو يو څوک به د واده کولو له حق څخه تېر شي، په دې شرط چې مجبور شوی نه وي، چې ترې نه تېر شي.

## طبيعي حقونه، بشري حقونه:

په تېر څېرکي کې له هغه طبيعي قانون څخه وغږېدو چې تر هر مثبت قانون څخه د مخه وجود لري. هيڅ مثبت قانون ته جواز نشته چې د طبيعي قانون له دستورونو سره ټکر وکړي. که داسې يو مثبت قانون ايستل کېږي چې د طبيعي قانون پر خلاف وي هغه به بې اعتبار او نا عادل قانون وي او اطاعت يې بايد ونه شي.

د طبيعي حقونو شته والى په منطقي ډول د طبيعي قانون له شته والي څخه راوځي. که موږ مجبور يو، چې د خپل طبيعت له امله ځينې کارونه وکړو، موږ هغو وسيلو ته هم ادعا لرو، چې په هغومره موږ خپل مکلفيت ترسره کوو، يا په بله ژبه موږ طبيعي حقوق لرو.

د طبيعي حقوقو د نظر ريښه لرغوني يونان او حتى ممکن تر هغه د مخه وختونو ته رسېږي خو له تاريخ نه پوره جوته ده، چې د طبيعي حقوقو درناوى تل نه دى شوى. ډېرو سياسي سيستمونو د خپلو حقوقي افرادو د طبيعي حقونه تر پښو لاندې کړي دي. له بلې خوا ډېرو هېوادونو په تېره د امريکې متحد دولتونو خپله خپلواکي د طبيعي حقونو پر بنياد اعلام کړي، او د خپلواکي په اعلاميې کې يې هغه "ځينې نه بېلېدونکي حقونه" بللي دي.

تاريخ د زبېښناکګرو حکومتونو يا يرغلګرو قدرتونو په وړاندې د ډېرو ولسونو مبارزې د خپلو افرادو د طبيعي حقونو د پېژندلو لپاره ثبتې کړې دي، که څه هم په دغې برخې کې له لرغوني مهال نه تر اوس ډېر پرمختګونه شوي دي، د طبيعي حقونو محافظت تر اوسه هم لا ډېر نا برابر دي.داسې حکومتونه هم شته چې په ارادي او منظم ډول د خپلو افرادو طبيعي حقونه محدود او نقض کوي.دا په دغسې حال کې چې د ملګرو ملتونو موسسې عمومي غونډې د ۱۹۴۸ کال د ډسمبر په لسمه د طبيعي قانونو عالمي اعلاميه صادره کړه، چې زياتره د طبيعي قانون د منشور په نامه يادېږي. دغې عمومي غونډې يا اسامبلې د طبيعي قوانينو عالمي اعلاميه "د

ټولو ولسونو او ملتونو د اجراتو د يوه ګډ معيار" په نامه ياده کړه. د دغه منشور مطلب د اساسي طبيعي حقونو د درناوي ټينګښت دی ځکه چې "د طبيعي حقونو نه رعايت او سپکاوی" دغسې جرمي عملونه دي، چې د انساني مهذب ژوند د همغږي بيخ ويجاړوي. دغه منشور دېرش مادې لري، او ډېر شمېر حقوق يادوي چې زياتره يې د انسان د طبيعت او شته والي پر پرنسيپ ولاړ دي. د بېلګې په ډول اتلسمه او نولسمه ماده يې اعلاموي چې:

"هرڅوک د فکر، وجدان او دين د ازادي حق لري، په دغه حق کې ازادي ده، چې دی خپل دين يا عقيده واړوي، او ازادي يوازې يا له نورو سره په ګډه په خصوصي يا عام ډول، چې خپل دين يا عقيده په ښوولو، تمرين، عبادت او مراسمو کې وښيي".

"هرڅوک د نظر او بيان د ازادي حق لري، په دغه حق کې ازادي ده، چې له مداخلې نه پرته نظرونه غوره کړي، او د هرې رسنۍ له لارې بې پولو له مراعت نه اطلاعات او نظرونه مخابره کړي".

څنګه چې دغه منشور قانوني قدرت نه لري، شپاړس اروپايي هېوادونو فيصله وکړه، چې د طبيعي انساني حقونو دفاع په ټينګه وکړي، د نافذېدلو وړ بين المللي قانون له لارې اروپايي کانونشن د انساني حقونو په اړه دغه کار د ۱۹۵۳ کال سپټمبر په درېيمه دغه کار وکړ، دغه کانونشن هم افرادو او هم حکومتونو ته دغه حق ورکوي، چې بين المللي موسسې ته خپل عرض او بين المللي محکمې ته شکايت وکړي.

## زور حق نه دی:

حق د يوه بل شخص عقل او ارادې ته رجوع کوي، چې درناوی يې وکړي. په بله ژبه حق په فزيکي قوت باندې، نه بلکه په اخلاقي قوت باندې ډډه لري. له دې نه داسې ښکاري چې د يوه چا د وجودي موخو د ترسره کولو لپاره د وسيلو ادعا د اعتبار وړ پاتې کېږي، حتی که يو ډېر پياوړی کس هم هغه

ترلاسه کوي. حقونه له فزيکي قوت څخه نه راوځي او ډېر پياوړي ته اجازه نـه وي، چې په ضعيف باندې غلبه وکړي.

حق دغه اصلي خاصـه پـه دغـه ډول بيـان شـوې. چـې "زور حـق نـه دی".حق له زور سره انډول کېدلی نه شي. خو موږ ته اجازه ده، چـې لـه زور نه په خپل دفاع کې کار واخلو.

څنګه چې ګوښه شوي افراد په معمولي ډول دغومره ناتوان وي، چې لـه خپلـو حقونو څخه دفاع وکړي، دوی په طبيعي ډول ټولنې جوړې کړي. د ټولنې لـه لومړنيو موخو څخـه يـوه يـې داده، چـې د حقـوقي نظـام لـه لارې د افـرادو د حقونو مناسبه دفاع وکړي، چې دغه کار د يـوې مناسـبې موسسـې او حتـی د ضرورت په وخت کې د زور د استعمال له لارې عملي کېدلی شي. څنګه چـې له حقوقي نظر نه تنظيم شوې ټولنې د افرادو د حقونو دفاع په غـاړه اخيسـتې د يوه فرد لپاره به غلطه وي، چې د خپلو حقونو د خونـدي کولـو لپـاره زور تـه رجوع وکړي مګر په عاجل حال کې چې اړوند مقام مداخله کولی نه شي، لکه له خپل دفـاع نـه د عاجـل تجـاوز پـه وړانـدې. هغـه وخـت چـې يـوه ټولنـه د انفرادي حقونو د ډاډ وړ سـاتنه کـولی نـه شي، ځکـه چـې صـلاحيت لرونکـي مقامونه يا بې پروا، يا فاسد يانالايق دي. افرادو ته حتمي کېږي، چـې د خپلـو مشروعو حقونو د دفاع لپاره زور ته لاس واچوي. دوی بـه يـا د ځـان پـه دفـاع کې ځارونکې ډلې يا نور ځارونکي ارګانونه جوړ کړي.

دغه حال پـه سـياسي نظـام کـې د جـدي نيمګړتيـاوو نښـه ده، چـې ممکـن د ګډوډي او د ټولنې د شړېدلو لامل شي.

په مادي څيزونو باندې حقوق به په فزيکي زور يا د محاکمو له لارې نافذ شي. د مثال په ډول يو څوک به که پوليس غل ونيسـي، خپـل غـلا شـوي مالونه بېرته ترلاسه کـړي. دغـه ډول حقونـه حقـوقي حقونـه نـومېږي. داسـې حقونه هم شته چې په فزيکي زور سره به نافذ نه شي، لکه د ماشـومانو پـه اړه د مــور او پــلار د مينــې حقونــه. دغــه ډول حقونــه غيــر حقــوقي حقونــه

(Non-Juridical Right) نومېږي، د دغو حقوقي حقونو شته توب هم ښـيي، چې د حق زور، فزيکي زور سره نه پېژندل کېږي.

**د حقونو محدوديت:**

ژوند په ټولنه کې د حقوقو پـه دوه اړخيـزې درنـاوي بنـا دی. ددې مانـا داده چې حقوق د هغو د ماهيت لـه املـه محـدود دي ځکـه چـې هغـه د نـورو لـه حقونوځخه په تضاد کې واقع کېږي. د بيان ازادي يو څوک نه مستحق کـوي، چې له خلکو نه په ډکې سينما کې په دروغو سره د "اور" چيغـې ووهـي، ځکـه چې نور حق لري، چې بايد ونه غولول شي، او د زنګ په غلط خبر سره له خطر سره مخ نه شي، او له ډرامې نه له خوند اخيستلو نه محروم نه شي. له دې نه داسې ښکاري، چې د بيان ازادي ځينې محدوديتونـه لـري، هـر حـق پـه هغـو وظيفو سره محدود دي، چې له هغه سره په تضاد کې وي.

داسې هم يو حق د هغه د مقصد په هغې موخې سره چې غواړي ورته ورسېږي محدود کېږي. هغه کـوم چاتـه د هغـه لـه مـوخې نـه اخـوا اخلاقـي قـوت نـه ورکوي، ځکه چې حق د يوې خاصې موخې ته د رسېدلو لپاره يـوه وسـيله ده.

هرڅوک د دين د ازادي حق لری، او داسې هم دی د هغې عقيدې حـق لـري، چې فکر کوي دده دين رښتينی دی خو دغه ازادي يوه چاته دغـه قـدرت نـه ورکوي، چې نور مجبورکړي د هغه دين ومني.

د ديني ازادي د حق مطلب داديچې يوه چاتـه اجـازه ورکـوي، چـې پـه دينـي چارو کې د خپل وجدان پلوي وکړي، خو د هغه د تمـرين کولـو لپـاره اخلاقـي قدرت دغه اجازه نه ورکوي، چې نور مجبور کړي، دده دين ومني.

# دیارلسم څپرکی

## اخلاقي قضاوت- وجدان

د اخلاقیاتو د معیار بنسټ مو چې وکوت، اوس منطقي ښکاري، چې یو څوک په دغه معیار په هغو مشخصو مسایلو باندې پلې کړي، چې ورسره هره ورځ مخ کېږي. د دغه نارم یا معیار د تطبیق نتیجه اخلاقي قضاوت کېږي، چې د یوه عمل سم والی یا ناسالم والی ټاکي. پر دې برسېره هغه دا هم ټاکي، چې که یو عمل مجاز وي، باید وشي، یا ترې نه ډډه وشي.

هغه عقلي قوه چې دغسې قضاوت کوي، وجدان نومېږي. خو دوجدان د مانا په اړه د ډېرو کسانو په ذهن کې ابهام شته. څنګه چې ډېر خلک په ماشومتیا کې د خپلو پلرو او میندو له خوا د ځینو عملونو د اخلاقیاتو په اړه تلقین کېږي د ښوونځي سیستم، د دوی کلیسا، عامه ذهنیت یا د دغو ټولو ترکیب د اخلاقي قضاوت حکم زر او په اسانه نزدې بې له سوچ کولو نه صادرېږي. دغه واقعیت ځینې فیلسوفان او په یقین سره ډېر وګړي هڅوي، چې فکر وکړي وجدان په موږ کې یو مرموز واحد دی، د عقلي قوې

هغه خاص قابليت چې په اتومات ډول عمل کوي يا دا چې په موږ کې "د خدای تعالی اواز" دی چې غواړي موږ په سمه لار روان کړي.

خو يو دقيق تحليل چې وجدان د سم يا ناسم عمل په اړه زموږ عقلي قضاوت دی. موږ دغسې افادي کار وو لکه "وجدان مې راته وايي"، "وجدان مې منع کوي" او داسې نور او عامه ذهن په نامحسوس ډول "د وجدان دغه اواز" په موږ کې د نزدې يوه خپلواک موجود ځانګړتياوې په ګوته کوي. خو (وجدان اواز) په کتنې سره موږ مومو، چې دلته هيڅ مرموز څيز نشته. هغه په مشخصو مسايلو باندې يوازې د ځينو هغو اخلاقي پرنسيپونو پلې کول دي، چې موږ په ماشومتوب کې زده کړي او منلي يا وروسته د عمر په بالغه دوره کې.

دغه اخلاقي پرنسيپونه زموږ په ذهن کې تيار موجود دی او د تعليلي استدلال په پروسې سره په هغو مسايلو باندې پلي کېږي، چې موږ ورسره مخ کېږو. د بېلګې په ډول موږ دغه پرنسيپونه زده کړي او منلي چې غلا کول غلط دي، او کله چې په يوې مغازې کې له دغسې حال سره مخ کېږو چې يو شی په اسانۍ پټولی شو، موږ په اساني حکم کوو، چې "زموږ وجدان وايي"په جيب کې د يوه څيز په پټه اچول غلا ده او په نتيجه کې دا يو غلط کار دی، چې موږ يې بايد  ونه کړو.

هغه اخلاقي پرنسيپونه چې موږ پرې عمل کوو، د استقرايي (Inductive) استدلال نتيجه وي، او په دې ډول څه وخت چې نوي شواهد وړاندې شي، هغه ممکن تغيروکړي او پخوانی دليل يا صلاحيت لرونکی مقام رد شي. کله کله به موږ دغې نتيجې ته هم ورسېږو، چې دغه پرنسيپونه په عمومي ډول د تطبيق وړ نه دي. په دغسې حال کې به قضاوت د دغې مسئلې په اړه وي، چې دغه ترلاس لاندې موضوع استثنی ده، خو په عمومي ډول موږ هغه پرنسيپونه عملي کوو، چې په عالمي سويه داعتماد وړ وي. نو دهغوی تطبيق په تعليلي طريقې (Deductive Method) سره کېږي، په دې ډول چې موږ د صوري منطق (Formal  Logic)  د قياس (Syllogism) له

مقرراتو څخه کار اخلو. په هر صوري قياس کې يوه عمومي يا کبرا (Major) حکم وي، چې له صغرا (Minor) سره پرتله کېږي، چې بيا له دواړو څخه نتيجه را ايستله کېږي. د بېلگې په ډول غلا غلطه ده، ((کبرا)) او د دغه څيز جيب ته په پټه اچول ((صغرا)) غلا ده. په نتيجه کې د دغه څيز پټول غلا ده. د دغه پرنسيپ تطبيق تل څرگند نه وي هغه په ډېره بېړه او سطحي دول واقع کېدلی شي، بې له دې چې په خپله د پرنسيپ يادونه وشي، خو سره له دې هم هغه اخلاقي پرنسيپ چې مو د مخه مثبت کړی يا منلی د وجدان د قضاوت لپاره اساس وي. څرگنده ده، چې زموږ د وجدان د هر تعليلي استدلال د پرنسيپونو سم والی سم اخلاقي قضاوت ته د رسېدلو لپاره مهم عامل دی، ځکه که پرنسيپونه ناسم وي. نتيجې به يې هم ناسمې وي، موږ چې وده کوو او په ارادي ډول په هغو اخلاقي پرنسيپونو سوچ کوو، چې په وړوکتوب کې مو زده کړي، موږ مجبوريو وگورو چې دغه پرنسيپونه سم دي، يا ناسم موږ شايد ومومو، چې موږ له خپل اجتماعي چاپېريال، ښوونځي، يا کورنۍ څخه تعصبونه ورو ورو خپل کړي، نو ښکاري چې موږ مجبوريو په خپلو تعصبونو غلبه وکړو او خپل فکر طرز سم کړو، ددې لپاره چې زموږ پرنسيپونه له رښتين توب سره مطابقت وکړي. د وده کولو مانا زموږ د ټولو اخلاقی پرنسيپونو امتحانول دي، هغه يې چې غلط دي، تعديلول، او هغه يې چې رښتيني دي منل دي، نه د نورو د واک پر بنياد بلکه د خپل عقلاني ادراک پر بنسټ. زموږ د اخلاقي پرنسيپونو د ازمېيلو پروسه په نهايت کې بل څه نه بلکه د انساني مسايلو په مشخصو مسئلو باندې د اخلاقياتو د معيار پلې کول دي. په دغې لارې سره يو څوک په عقلي ډول د اخلاقي مقررو ټولگه جوړوي، چې تيار موجود دي، او څه وخت چې ضرور شي د انساني ژوند په خاصو حالاتو باندې په اسانۍ تطبيقول دي. د اخلاقي مقررو دغه ټولگه به هغه ضرورت له منځ څخه يوسي، چې د اخلاقياتو معيار ته په پرله پسې ډول مراجعه وشي، چې په دغه حال کې به د هرې ورځې په حالاتو کې ښه اخلاقي پرېکړه ستونزناکه وي. دغه کړنلاره ((د يوه چا وجدان جوړېدل)) نومېږي که

په موضوع کې ټول استدلال سم وشي يو څوک به ښه جوړ شوی وجدان ولري. دا د اخلاقي پوهنې وظيفه ده، چې يو څوک وجدان د عقل پربنسټ جوړ کړي تر څو چې سمې اخلاقي پرېکړې د خپل فکر له مخې کولی وشي.

## د وجداني قضاوت سم توب:

څه وخت چې موږ د وجدان دندې ازمييو مهمه ده، چې د وجدان له ځينو مفهومونو سره اشنا اوسو، چې د هغه له عملياتو سره سر او کار لري.

**سم وجدان:** زموږ د عقلي قوې هغه اخلاقي قضاوت سم دی، چې څه وخت ټول هغه استدلال چې د اخلاقياتو له افاقي نارم يا معيار سره ښکېل وي، چې بې له تېروتنې نه ترسره شي.

**ناسم وجدان:** د وجدان هغه قضاوت ناسم وي، چې په ناسم پرنسيپب بنا وي، يا سم پرنسيپونه په غلط ډول وکارول شي. په نتيجه کې يو عمل به په غلطه اعلام شي، چې هغه ښه يا بد عمل دی.

ناسم وجدان به په لاندې کېدونکي ډول (Invincibly) ناسم وي، چې موږ دغه تېروتنه په هغو وسيلو سره چې زموږ په لاس کې وي، يا يې موږ په مناسب ډول ترلاسه کوو، اصلاح نه شي.

وجدان به په لاندې کېدونکي ډول (Vincibly) غلط وي، چې څه وخت تېروتنه اصلاح کېدل، او ناسم قضاوت سم کېدلی وشي.

يقيني وجدان دا مانا لري، چې هغه څوک چې اخلاقي قضاوت کوي، معقول دليل نه لري، چې په خپل قضاوت شک وکړي.

**مشکوک وجدان:** له بلې خوا دا مانا لري، چې هغه څوک چې اخلاقي قضاوت کوي معقول دليل لري، چې ممکن د هغه د قضاوت سرچپه به رښتيا وي.

له دغو قضاوتونو نه مالومېږي چې سم يا ناسم وجدان به يا يقيني يا مشکوک وي. يقيني توب او سم توب يو څيز نه دی. داسې به پېښه شي، چې د بېلګې په ډول موږ به د سپورتونو په لوبو کې د يوې پېښې په واقعيت پوره باور لرو خو وروسته به چې دغه پېښه په تلويزيون کې په ورو حرکت ښووله

کېږي وبه وینو چې هغه تېروتنه وه. پنځه شاهدان به یوه پېښه په پنځو بېلو ډولونو بیان کړي.

مهمه ده، چې یاده شي چې شک به د یوه واقعیت په ابهام یا د هماغې موضوع د قانون په ابهام بنا وي. د زماني ازمېیل شوې بېلګه د ښکاري ده، چې متیقین نه دي، چې هغه حرکت کوونکی څیز چې دی یې ویني غرڅه ده. یا سړی دغه بې باوري توب د واقعیت شک نومېږي. که ښکاري یقینی نه وي چې قانون په یوه خاص موسم کې د غرڅې ښکار منع کوي، موږ د قانون شک یا د مکلفیت شک لرو. په لومړي حال کې د مکلفیت په اړه یا دا چې موجود قانون یو څوک منع کوي، چې په سړي باندې ډزې وکړي، په داسې حال کې چې په دوهم حال کې شک د مکلفیت په اړه دی، چې په غرڅه ډز وشي.

## د وجدان مقررې:

د وجدان مقررې زموږ په اخلاقي قضاوت باندې تحمیلات نه دي، هغه د انسان له طبیعت او د انساني عمل له با شعور او ارادي جوړښت څخه ایستل کېږي.

١- لومړۍ مقرره موږ مکلف کوي، چې تل د یقیني وجدان اطاعت وکړو.

**الف-** یو سم او یقیني وجدان د انساني سلوک نا مشروط معیار دی، یو څوک مجبور دی، چې څه وخت چې هغه یو عمل منع کوي یا مجاز کوي اطاعت وکړي.

**ب-** یو نه لاندې کېدونکی ناسم او یقیني وجدان د انساني عمل یو مشروط معیار وي، هغه یوازې په دغه شرط د اعتبار وړ وي، چې یو چا خپل ټول کوښښ کړی، چې رښتین توب ومومي او ناسمه نتیجه ترې نه وباسي، بې له دې چې دی پکې تېروتلی وي. ضرور نه ده هغه یقیني توب چې غوښتل کېږي تر هغه یقین څخه ډېر وي، چې په مناسبت تحقیق او تفکر سره تر

لاسه کېږي هيڅ څوک اړ کېدلی نه شي تر هغه نه چې انساني حالت يې ترسره کولی شي، ډېر څه وکړي.
۲- دوهمه مقرره موږ منع کوي، چې په مشکوک وجدان عمل وکړو. د دغې مقررې لپاره دليل دا ديچې که موږ پر مخ ځو او عمل کوو، د شک په حال کې ممکن موږ په افاقی ډول يو بد کار وکړو. په نتيجه کې هغه څوک چې اماده دي په مشکوک وجدان عمل وکړي حاضر دی ناوړې عمل وکړي، يانې هغه څه چې د اخلاقو قانون منع کړی وي.

## د وجدان د شک حل کول:

له پورته دوهمې فقرې څخه دا راوځي چې يو څوک پخوا له دې چې په عمل لاس پورې کړي، بايد شک له منځ نه يوسي. دغه څه به په نېغه توگه يانې په نورې څېړنې او سوچ سره وشي. که شک بيا هم رفع نه شو يو څوک ممکن له نا نيغي لارې نه کار واخلي، او هغې طريقې ته مخ واړوي، چې د بيا تفکر په نامه يادېږي. دا د احتياط عمومي مقررې دي. دغو مقررو ته د سوچ کولو پرنسيپونه ويل کېږي، ځکه چې موږ په داسې حال کې چې د شک په حال باندې بيا فکر کوو، له هغو څخه کار اخلو.
۱- لومړنی د بيا سوچ کولو پرنسيپ له اخلاقي نظر نه د ډېرې محفوظې لارې په اړه دي. ډېره محفوظه لار هغه بله لار ده، چې په ډېر يقين سره له بدي څخه ډډه کېږي، او اخلاقي ښه توب ساتي. څه وخت چې موږ شک کوو، چې د موټر گرنديتوب پنځوس يا شپېته ميله دی، ډېره محفوظه لار دا ده چې موټر په پنځوس ميله وچلول شي، په دې چې موږ په دغه ډول د قانون له سرغړونې څخه او د ترافيکي جرم تکت راکولو نه ډډه کوو.
**الف:** موږ تل مجاز يو، چې ډېره محفوظه لاره غوره کړو، او په دغه ډول عملي شک حل کړو. خو دغه لار به کله موږ ته بې گټې او په ډېر تاوان تمام شي. د بېلگې په ډول که ته مشکوک يې چې ماليه دې تحويل کړي او نه شي

کولی په نېغه توگه د تادیې له اخرې نېټې نه ړومبی تحقیق وکړي او مالومات ترلاسه کړي، ددې لپاره چې په محفوظ حال کې اوسي ته کولی شي د خپلې مالیې چک مقاماتو ته واستوي. خو ضروري نه ده، چې دغسې وکړي. سره له دې هم داسې قضیې شته چې دا به درته ډېره محفوظه وي، چې خپل عملي شک په دغه ډول رفع کړي.

**ب:** څه وخت چې مونږ مسئول یو، یو مقصد ترلاسه کړو، او یوازې یوه محفوظه لار لرو، چې ورته ورسېږو مونږ مجبور یو محفوظه لار غوره کړو. یو طبي ډاکتر مجبور دی له محفوظې لار څخه کار واخلي، او دېره محفوظه دوا تجویز کړي، چې د ناروغ ژوند له خطر نه بچ شي.که یو ښکاري په شک کې وي، چې هغه خوځېدونکی څیز غرڅه ده، یا سړی باید ډز ونکړي. په جنایي موضوع کې مونږ یوه تورن ته دده لپاره چې یوه معصوم شخص ته د ممکنې جزا له ورکولو نه ډډه وشي "د شک گټه ورکوو".

۲- د بیا سوچ کولو دوهم پرنسیپ وایي چې مشکوک قانون نه مکلف کوي.

**که مونږ شک کوو:**

**الف:** چې قانون وجود ولري، یا

**ب:** دا چې قانون زمونږ په قضیه باندې د تطبیق وړ دي مونږ مجبور نه یو چې مشکوک مکلفیت ترسره کړو، ځکه چې مکلفیت موجودیت لرلی نه شي، خو په هغه حال کې چې څرگنده وي، چې مونږ یې په کولو مکلف یو.

هغه دلیل چې د بیا سوچ کولو پرنسیپ پرې بنا دی، دغه واقعیت دی، چې یو قانون باید اعلام شوی وي، ددې لپاره چې د فرد پوهې او ارادې ته ورسېږي. خبرتیا د قانون جوهر گڼل کېږي ځکه چې اخلاقی قانون د یوه ازاد انسان په ارادې او شعورناکې همکاري سره د هغه مقصد درک کولی شي. له بلې خوا فزیکي قوانین خپل مقصد د فزیکي ضرورت له مخې حاصلوي او دې ته اړه نه لري، چې په هغې موضوع پوه شي، چې په دغو

قوانينو سره متاثر کېږي. د جاذبي قانون د پوهې او ارادې له همکاري نه پرته عمل کوي.

**د شک درجه:**

د يوه قانون د موجوديت په اړه شک بس په يو څو يا ډېرو دليلونو سره پياوړی کېدلی شي.

نو موږ د شک له بېلو درجو څخه غږېدلی شو او پوښتلی شو، چې د يوه مکلفيت د موجوديت پر ضد چې د انفاذ وړ يې نه کړي، کوم ډول دليلونو ته اړتيا ده.

د اخلاقي پلويانو ډېری د شک د ماهيت تحليل ته ورګرځي، او د دغې نتيجې ته رسېږي، چې د يوه قانون د موجوديت پر مخالفت قوي دليل وجود لري کافي ده، چې هغه مشکوک او د نه اجرا وړ کړي حتی که د قانون د موجوديت لپاره نور ممکن دلايل هم وي. د شک ماهيت په دغه واقعيت کې پروت دی، چې د يوې قضيې د رښتين توب پر ضد قوي دليل شته، چې يو محتاط او هوښيار کس هڅولی شي، چې د دغې قضيې د رښتين توب په اړه قوي دليل شته، چې موافقه ورسره ونکړي. د دغه اخلاقي دريځ لپاره تخنيکي اصطلاح د احتمال (Probabilism) نظر دی. دغه اصطلاح د دغې تيوري له اساسي کشالې څخه راوتلی چې ددې لپاره چې له يوې وظيفې څخه ازاد شي کافي ده، چې احتمال موجود وي چې قانون وجود نه لري يا دا چې هغه زما په دغې قضيې کې د تطبيق وړ نه دی.

# څوارلسم څپرکی

## د اخلاقیاتو عندي معیار

د فرد لپاره وجداني قضاوت د اخلاقـي قضـاوت کولـو لپـاره لارښـود دی. نوځکه وجدان د اخلاقیاتو عندي معیار یا نـارم ګڼـل کېـدلی شي. د یـوه چا لپاره به ښه یابد د هغه د عقلي قوې له مخې وي. حتی په هغو حـالاتو کـې هم چې یو څوک د خپل "ډېر ښـه قضـاوت پـر خـلاف" د بـل چـا مشـوره منـي وجدان یې دغې عملي نتیجې ته رسېږي چې په اخلاقـي لحـاظ غـوره ده، چـې دغه مشوره ومني.

وجدان ځکه یو عندي معیار نومول شوی، چـې د یـوه چـا قضـاوت د دغو عواملو تر نفوذ لاندې دي:

د هغه عقلي قابلیت، د هغه عقلي بصیرت، د هغه اجتماعي شالید، د هغه پـه تعصبونو چې پرې غالب کېدلی نه شي، او نور عوامل چې د هغـه قضـاوت پـه دغه ډول متـاثر کـوي، چـې لـه افـاقي تـوب نـه یـې منحـرف کـوي. وجـداني قضاوت په دې هم د اخلاقیاتو عندي معیار یادېدلی شي، چې په ځینو حـالاتو

کې له افاقي توب سره ټکر کوي، ځکه چې هغه د اخلاقي پرېکړو لپاره يو شخصي عملي معياردی.

داسې ښکاري، چې دغه دريځ به د شخصـي اخلاقياتو د په حقه ښوولو لپاره ور پرانيزي ځکه چې هيڅ څوک په خپلو تولو قضاوتونو کې افاقي نه وي. تعصبونه او زموږ اجتماعي او کلتوري چاپېريال زموږ په پرېکړو باندې يو څه مهم رول لوبوي.

زيگمونډ فرويد هغه قضاوتونه او تعصبونه چې په يوه شخص باندې تحميل کوي له ځان نه لوړ (Super-ego) نومولی دی، چې هغه د پلار او مور او ټولنيز چاپېريال تر نفوذ لاندې وده کوي. دا د کلمې په دقيق مفهوم سره وجدان نه دی، ځکه چې هغه کوم ازاد شخصـي قضاوت نه، بلکه د نورو د نظريو انسياقي تکرار دی. بيا هم يو څوک په شخص باندې د هغې اجتماعي طبقې له نفوذ نه سترگې پټولی نه شي، چې دی ورپورې اړه لري. مارکس د بورژوا له اخلاقياتو څخه وگړېده. نن ورځ موږ د منځنۍ طبقي اخلاقيات پر ولتاريايي يا کمونستي اخلاق اصطلاح کاروو. دغه افادې د يوه چا د خپلې ټولنيزې ډلې د اخلاقي مقررو نفوذ ښيي. د يوه لوی شرکت د مشرې ډلې غونډې تعصبونه او نظرونه د کارگرې اتحاديې د غونډې له تعصبونو نه توپير لري. پر هغه برسېره تاريخي وضع هم د يوه شخص په اخلاقي ليدباندې ډېر اثر کوي. دوکټوريايي دورې اخلاقی معيارونه د امريکې له جنگ نه وروسته ټولنې نه هم فرق کوي. موږ ټول د خپل عصر ماشومان يو او زموږ د عصر تحريمونه او اجازه توبونه پر موږ نفوذ لري.

ايا دغه کتنه اخلاقي نسبي توب ته نه منتهي کېږي؟ دا اخلاقي نسبيت نه په حقه کوي. هغه يوازې دا مني چې اخلاقي قانون د يوه فرد له خوا په مشخص ډول کارول کېږي، چې هغه قضاوت به له افاقي توب نه عدل وکړي، په داسې حال کې چې دغه فرد مکلف دی، چې د خپلې عقلي قوې د رښتيني قضاوت په متابعت عمل وکړي، فرق نه کوي، چې په هر عصر يا چاپېريال کې ژوند کوي. په دغه ډول مشخص او عملي اخلاقيات شخصـي او

په ځينو حالاتو کې حتمي وي، چې عنـدي او نسبي کېږي. لـه بلـې خـوا لـه مخکينۍ کتنې نـه پـه منطقـي ډول واضـحه کېږي، چې مـوږ مکلـف يـو، د اخلاقياتو په موضوع ګانو کې د افـاقی رښـتين تـوب لـه مخـې ژونـد وکـړو او مجبور يو خپل وجدان په دغه ډول "جوړ کړو" چې د هغه قضاوت له واقعيـت سره تطابق وکړي. اخلاقي قانون پـه بـورژوا يـا پـر ولتاريـايي اخلاقيـاتو بانـدې سترګې نه پټوي خو موږ په ټينګه وايو چې بايد له خپلـو تعصـبونو څخـه ځـان وژغورو او د عملونو په سم تـوب يـا ناسـم تـوب افـاقي قضـاوت وکـړو. خـو د انسان عقلي قوه د رښتين تـوب د لټولـو لپـاره يـوه محـدوده وسـيله ده، او يـو څوک له خپلو ټولو کوښښونو سره سره بيا هم تېروتنې کولی شي.

مهمه ده، چې پـه عقـلاني لحـاظ ازاد اوسـو، ددې لپـاره چـې مـوږ د اخلاقياتو په عندي ارزونې پورې تړلي نه اوسو، بلکه د نورو نظريو تـه هـم پـام وکړو، او اماده اوسو چې کله رښتين توب تقاضا کوي، حتی له خپلـې عقيـدې څخه هم تېر شو. که يو څوک ګمان کوي، چـې دی ممکـن د تېروتنـې قربـاني وي دی مجبور دی د مسئلې په اړه ژور سوچ وکړي او زيار وکاږي، چې افـاقي قضاوت ته ورسيږي. دا اسانه نه ده، چـې لـه ژورو نظريـو سره مخـه ښـه وشي خو اخلاقي قضاوت موږ مکلف کوي، چې د سم اخلاقی قضاوت درناوی وکړو، اوڅومره چې ممکنه وي هغه ته نزدې کېدلی وشو.

# پنځلسم څپرکی

## د وجدان ازادي

د فردي اخلاقياتو خورا مهم قانون حکم کوي، چې ((دخپل باوري وجدان اطاعت تل وکړه)) څنګه چې هره وظيفه له متوافق حق سره ملګرې ده، له دې نه دا راوځي چې د فرد خورا ډېر اساسي حق د وجدان ازادي، يانې زموږ هغه حق دی، چې د خپل رښتين او باوري وجدان له مخې ژوند او عمل وکړو. هغسې مو چې د مخه ويلي دي، مدني ټولنې جوړې شوې، چې د فردونو له حق څخه دفاع وکړي او عامه ښېګڼې پر مخ بوځي. بيا نو موږ په نتيجه کې ويل شو، چې د فردي ټولنو له ډېرو پياوړو وظيفو څخه يوه يې د وجدان ازادي ده.

خو ښکاره ده، چې د فردونو وجدانونه ممکن سره ټکر وکړي. په نتيجه کې مدني مقامات له دغې وظيفې سره مخ دي، چې د خپلو حقوقي فردونو د وجدانونو ټکرونه رفع کړي. ايا داسې اخلاقي پرنسيپونه به وي چې د دغو نه چندان کمو ټکرونو په رفع کولو کې زموږ لارښود وي؟ د دغو ټکرونو د له منځ نه وړلو عمومي پرنسيپ د وظيفو او حقونو

له طبيعت او درجو له لړۍ نه استناج کېږي. هغه به په دغې فقرې کې افاده شي، چې ډېر پياوړی او ډېر باوري حقوق په ضعيف او لږ يقيني حقوق غلبه کوي. خو د دغې مقررې تطبيق ممکن له ډېرو ستونزو سره مخ شي، ځکه چې دا به اسانه نه وي چې فيصله وشي، چې د حقوقو کوم يو يې ډېر پياوړی دی، چې له هغه بل نه لومړيتوب ولري. يوه طريقه چې په هغې سره به د يوه حق لومړيتوب وټاکل شي دا ده چې د يوه شخص د هغو د کړو مضر اثرونه تر تحقيق لاندې ونيول شي. چې يو څوک يې د خپل وجدان په حکم تر سره کوي، تر هغو چې اثرونه په خپله عامل پورې مربوط وي، هغه په نسبي ډول بې خطره وي او عملونه په نورو باندې نه تطبيق کېږي، دعامل د وجدان د ازادي ساتنه بايد وشي. که يو څوک معتقد وي، چې دغوښې خوړل غلط دي او فيصله کوي چې دی بايد سابه وخوري، دی حق لريو چې د خپل وجدان په لار لاړ شي خو تر هغو چې دی خپل معتقدات په نورو په زور نه مني. که يو څوک په دې نظر وي چېپه برابره اندازه هم واين څښل ناسم دي دی حق لري، چې له څښلو څخه يې ډډه وکړي خو دی حق نه لري، چې نور د خپلې عقيدې په منلو مجبور کړي.

که هغه عملونه چې د يوه چا د وجدان په حکم کېږي او هغه ته تاوان اړ وي لکه د مذهبي عقيدې له مخې له طبي علاج نه انکار په دغه حال کې څه پېښېږي؟ تر هغو چې يوڅوک د بېلګې په ډول په ذهني لحاظ سالم او د صلاحيت خاوند وي، او خپل معقتدات په نورو نه تحميل کوي، دی حق لري د خپل وجدان حکم ومني. که يو څوک په نه رغېدونکې ناروغي اخته وي، او نه غواړي د ژوندي پاتې کېدلو له وسيلو نه کار واخلي، دی مجاز دی چې د خپل وجدان له مخې عمل وکړي. دغه حق چې دی يې په عمل کې پياده کړي، د مثبت قانون له خوا ده ته نه دی ورکړل شوی خو هغه د طبيعي قانون له خوا دده حق دی. له بلې خوا دا د مدني صلاحيت خاوندانو کار دی چې د ماشومانو طبي علاج که د

هغو د مور او پلار د معتقداتو پر ضد هم وي نافذکړي. ځکه چې د ژوند حق اساسي دی او حتمي ده چې ټولنه د نه صلاحيت لرونکو د حقوقو دفاع وکړي.

ايا د مدني صلاحيت خاوندان بايد د ځان وژنې مخنيوی وکړي؟ ډېر هېوادونه د دغې موضوع په اړه قوانين لري، چې هغه په دغې فرضيې بنا دي چې هغوی چې غواړي ځان ووژني د پوره صلاحيت خاوندان نه دي او د دغه عمل د مضرو اغېزو پر ضد بايد د هغو دفاع وشي.

څه وخت چې خلک وجدان ته په رجوع سره دغسې عملونه کوي، چې عامه ګټو او نورو حقوقو ته تاوان اړوي موضوع نوره هم ګرانه کېږي، لکه د جنسي هڅونو خپرونې يا هغه خپرونې چې تشدد او د ورانکارۍ عملونه هڅوي. خو د حقوقي افرادو او د هغو ماشومانو حقوق تر هغه نه ډېر پياوړی دی، چې د دوی د خپلې ارادې پر خلاف د تشدد او تخريبي خپرونو له خطر نه خوندي وي. که تخريبي خپرونې يوازې د فکري بحث لپاره نه بلکه د عامه نظم د ګډوډي لپاره عمل ته دعوت وي مدني مقامونه مکلف دي، چې د سولې او منظم ژوند په اړه د خلکو حقوق حمايه کړي.

ديوه چا وجدان ممکن دهغه د خپل هېواد له قانون سره په ټکر وي. په دغه حال کې انسان مکلف دی د خپل هېواد د قانون اطاعت وکړي. ايا يو څوک په دغې قضيې کې مکلف دی ددې لپاره چې د عامه نظم له ګډو ډلو له خطر نه ډډه وکړي، د خپل هېواد د قانون اطاعت وکړي؟ که دغه عمل چې مثبت يا وضعي قانون د هغه حکم کړی وي، له طبيعي قانون سره په ټکر کې وي يو څوک بايد نظر دې ته چې د مثبت قانون اطاعت وکړي مکلف دی د طبيعي قانون اطاعت وکړي. د بېلګې په ډول که مثبت قانون دولتي دين مجاز ګڼي، يا د دين تمرين ګرد سره منع اعلاموي، يو فرد په مکلف وي چې په دغې موضوع کې خپل وجدان

ومني او د دولتي قانون پر خلاف عمل وکړي. له بده مرغه دغه قضيه محض د تيوري او مجرد تفکر او د پخوانيو مذهبي او سياسي نه زغم ډېره لېرې خاطره نه ده. زموږ خپل عصر د دين د ازادي او د سياسي مشروع فعاليت د ډېرو محدوديتونو شاهد دی. که يو حکومت په جنګ کې يا دننه په هېواد کې د اساسي حقوقو په ځپل کولو اخته وي او يو څوک هغه غير اخلاقي ګڼي.

ديمکلف دی په دغسې فعاليتونو کې همکاري ونه کړي، حتی که دغه عمل د بندي توب يا کوم بل دول مجازاتو مانا هم ولري. موږ ددې لپاره چې اخلاقي ژوند وکړو، بايد تيار اوسو، چې قرباني ورکړو، ځکه چې د اخلاقي ارزښتونو په لټه کې د سختي له تېرولو نه ډډه کول يوه غير اخلاقي پرېکړه ده، چې اخلاقياتو ته زموږ ژمن توب نقص کوي.

# پايليک

که تاسې تـر دغـه مـخ پـورې د اخلاقپـوهنې د پرنسـيپونو پـه اړه د دغـه اثـر لوستلو ته استقامت کړی وي، ممکن موافقـه وکـړي، چـې اخلاقپوهنـه يـوازې يوه مجرده اکادميکه مطالعه نه بلکه د هر فردي ټـولنې د ورځنـي ژونـد خـورا مهم عنصر دی.

د اخلاقياتو لـه مـالوم اهميـت سره سره د پوهنتونـو او داسـې هـم د لوړو پوهنو د باندې کړيو فکري وضع کله کله د اخلاقي ارزښتونو د زده کـړې پر ضد وي. موږ ته ويل کېږي، چې د عصري نړۍ ډېـرې کشـالې يـوازې پـه ساينس سره هوارېدلی شي او په نتيجه کـې دا مهمـه ده، چـې د لـوړو پوهنـو محصلان خپل وخت د ساينس تکنالوجي او د نورو هغو مهـارتونو پـه زده کـړه کې تېر کړي، چې زمو د پېچلې ټولنې د ارامو عمليو لپاره ضروري وي.

هېڅ څوک د ساينس او نـورو ډېـرو مهـارتونو لـه اهميـت او ضرورت څخه انکارر نه کوي، چې له هغو څخه پرته د مځکې خورا ډېر خلک بـه حتـی د ځارويو د ژونـد سـطحې تـه رسـېدلي ونـه شي. خـو يـو څـوک يـو "متمـدن" وحشـي حيوان کېدلی شي، يا نې هغه څوک چې د ساينس له محصولاتو څخـه ګټه اخيستلی شي، چې د انسان ژوند ته تنزيل ورکړي يا يې له خطـر سره مـخ کړي. د ساينس تخليقات د اخلاق له پلوه نـه ښـه او نـه بـد وي خـو لـه هغـه څخه له ښه توب او بدي نه کار اخيستل کېږي. څه وخت چـې ساينس خپـل کار بشپړ کـړ اخلاقيـات را دمخـه کېـږي اواخلاقـي پرنسـيپونه د سـاينس لـه محصولاتو نه سمه استفاده ټاکي. له هستوي انرجي نه بـه د اټـومي بمونـو لـه جوړولو نه کار واخيستل شي، چې په مليونو انسانان به پرې له منځ نـه يـووړل شي او حتی زموږ دستوري يوه برخه به بيخـي لـه مـنځ څخـه يـووړل شي يابـه

ډېر ضروري برقي انرجي پرې تولید شي، دا چې موږ له یوې اختراع سره څه کوو، حتی د هغه له اختراع څخه ډېرمهم دی.

داسې ښکاري چې په اوسني مهال کې موږ د پوهنې په کړۍ کې د اخلاقي ارزښتونو په اړه د وضع د تغیر تجربه کوو. یوځل بیا کشف شوې چې "ارزښت- ازاده" پوهنه دغسې ماهر کسان روزي چې هغوی د وجدان پروا ونه کړي، چې نور کسان د خپل مقصد لپاره استخدام کړي، چې له سیاسي او انتقادي قدرت څخه ناوړې ګټې واخلي او د عدالت او انساني حیثیت پروا ونه کړي.

د اخلاقي ارزښتونو پېژندنه او هغه فکر چې دغه میل د علمي مطالعې لپاره جدي ونیسي، یو سالم انکشاف دی. دغسې مطالعه به د اخلاقیاتو د هر تفصیل په اړه پوره موافقې ته ونه رسېږي، خو موږ د خورا مهمو اخلاقي پرنسیپونو په اړه لږ تر لږه یو اتفاق ته رسېدلی شو، چې له هغه نه پرته به انساني ژوند ارزښت ونه لري. نو د اخلاقپوهنې مطالعه بس یوه اکادمیکي موضوع نه ده. د انساني ژوند ډېره لویه برخه له ښوونځیو څخه دباندې کېږي. هغه خورا مهمې اخلاقي پرېکړې چې افراد او ټولنې متاثر کوي د ورځنیو چارو په ډګر کې کېږي.نو دا د هر چا لپاره یو حتمي شرط دی چې د اخلاقي ارزښتونو په اړه څرګند فکرونه ولري. خوهغه په خاص ډول د هغو لپاره ضرور دي، چې د دغسې قدرت خاوند وي، چې د نورو ژوند اغېزمن کوي. نزدې ټولې سیاسي اقتصادي یا شخصي پرېکړې له ځان سره اخلاقي ارزښتونه لري، چې زموږ د ژوند په انسانتوب باندې اثر کوي.

په اخلاقي لحاظ هره ناسمه فیصله په نورو باندې لا بد اثر کوي. نو په اخلاقي لحاظ هره سمه فیصله ډېر ښه اثر کوي. پر دې برسېره د یوه شریر عمل بد اثرونه بېرته په عامل راتاوېږي، چې دغه عمل ترسره کوي. یو څوک به په یوې مغازې کې څیزونه جیب ته اچوي چې یو څه اقتصادي ګټه وکړي، خو دی به په نهایت کې د څیزونو په رانیولو کې تاوان وکړي. ځکه چې د هغه پټه غلا به ددې لامل شي،چې قیمتونه لوړ شي. په یوه راپور کې ویل

شوي، چې د دغسې غلا لـه املـه خلـک هـر کـال پنځـه ملیـارده ډالـر تـاواني کېږي. ددې مانا دا ده‌چې مستهلکین د دغسې غلو په ګډون به هغه تاوانونه مني چې د محافظانو په استخدام او نورو څیزونو باندې لګول کېږي.

تقوا (Honesty) یو اخلاقي ارزښت دی او کله چې هغه په خلکو کې نـه وي د انسان ژوند ټیټې سطحې ته کوزېږي او لږ تکمیل کېږي. ورځپاڼې هـره ورځ د چل نه ډک تمرینونه، فساد، غلا او د غولولو نورو شکلونو خبر ورکوي، چې پـه یوه لحاظ موږ ټول متاثر کوي. هر شریر عمل دغسې وړې څپې خپـروي چـې له خپل محل څخه ډېر وړاندې غزېږي.

افلاطون په خپل جمهوریت نـومي اثـر کـې د دغسـې بـا ثبـاتې ټـولنې انځـور کښلی، چې هغه به په خپل جسامت یا په خپـل اقتصـادي سیسـتم کـې تغیـر ونه کړي. د هغه د ثبات فکر هېڅ نه دی ترسره شوی، ځکه چې انساني نـړۍ دینامیکه او تل د بدلون په حال کې ده. کله کله له تشدد ناک انفلاقونـو سره کوم هغه اخلاقي پرنسیپونه چې موږ په دغه اثر کـې وکتـل، مـوږ تـه پـه دغـو پرله پسې تحولونو کې لارښوونه کولی شي او د رښـتیني ښـه انسـاني ژونـد پـه هکله هغه موږ ته توازن او یقین راکولی شي. موږ باید زده کړو، چـې دغـه نـه تغیرېدونکي پرنسیپونه زموږ په شا وخوا تغیرېدونکې نړۍ کې تطبیق کړو.

د اخلاقي قانون سترتوب موږ له خپلو ورونو سره پیوستون ته رابولي، ددې لپاره چې موږ د هغوی ژوند نور هم ښېراز او د ارزښت وړ وګرځـوو. کـه موږ د نورو نیکمرغي په نظر کې ولرو، زموږ ژوند به نور هم مانا لرونکی او نور هم "انساني" وي او موږ به نور هم خپلې نهایي موخې ته نزدې شو، هغه موخه چې زموږ په ټول ژوند کې موږ ځان ته رابولي او انرجي راکوي، چې د ازموینـو، خوښیو او هیلو په منځ کې دمخه ولاړ شو.

**پای**